# د اول سموييل کتاب

## د سموييل زېږېدنه

۱ ۱ يو سړی چې القانه نومېده او د افرايم د قبيلې څخه ؤ، د افرايم د غرنۍ سيمې په رامه کې اوسېده.
پلار يې يروحام او نيکه يې اليهو ؤ. اليهو د توحو زوی او د صوف د کورنۍ څخه ؤ. ۲ القانه دوه ښځې
درلودلې، د يوې نوم حنا او د بلې نوم فنينه ؤ. فنينې اولادونه درلودل خو حنا اولاد نه درلود.

۳ القانه به هر کال د مطلق قادر څښتن د عبادت او د قربانۍ د ادا کولو دپاره د خپل ښار څخه شيلوه
ته تلله. د عيلي دوه زامن حفني او فينحاس هلته د څښتن کاهنان وو. ۴ په کومه ورځ به چې القانه
قرباني کوله، نو هغه به د غوښې يوه برخه خپلې ښځې فنينې ته او يوه يوه برخه به يې د هغې ټولو زامنو او
لورګانو ته ورکوله. ۵ خرنګه چې حنا پرې ګرانه وه، که څه هم هغې اولاد نه درلود، خو هغې ته به يې د
يوې برخې څخه زياته غوښه ورکوله. ۶ د هغې رقيبې فنينې به هغه ځوروله او سپکوله به يې، ځکه چې
څښتن هغه شنډه کړې وه. ۷ هر کال به داسې کېدل، چې کله به حنا د څښتن کور ته تلله، نو د هغې
رقيبې فنينې به هغه دومره خفه کوله، تر دې پورې چې هغې به ژړل او هېڅ شی به يې نه خوړل. ۸ د
هغې مېړه القانه به له هغې څخه پوښتنه کوله: «ای حنا، ولې ژاړې؟ ولې څه نه خورې؟ ولې همېشه دومره
خفه يې؟ ايا زه د ستا دپاره د لسو زامنو څخه ښه نه يم؟»

## حنا او عيلي

۹ يوځل کله چې هغوی په شيلوه کې د څښتن په کور کې د خوړلو او څښلو څخه وزګار شول، حنا
پاڅېدله. په دې وخت کې عيلي کاهن د څښتن د کور په دروازه کې په خپلې چوکۍ باندې ناست ؤ. ۱۰
حنا ډېره خفه وه او ډېر سخت يې وژړل او څښتن ته يې دعا وکړه. ۱۱ هغې نذر وکړ او وېې ويل: «ای
مطلق قادر څښتنه، که چېرې ته په ما غم ځپلې رحم وکړې او زما دعا قبوله کړې او ماته يو زوی راکړې، نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه وعده کوم ترڅو چې ژوندی وي هغه به تاته نذرانه کړم او د هغه سر به هېڅکله هم ونه خرایل شي.»

۱۲ حنا د زيات وخت دپاره څښتن ته دعا کوله. عيلي کاهن ورته ځير شو او ويې ليدل چې د هغې
شونډې خوځېدلې. ۱۳ هغې په خپل زړه کې دعا کوله، يوازې د هغې شونډې خوځېدلې خو اواز يې نه
اورېدل کېده. نو عيلي ګومان کاوه چې هغه نشه ده. ۱۴ او هغې ته يې وويل: «ترڅو پورې به نشه يې؟
شراب دې پرېږده.»

۱۵ حنا ځواب ورکړ: «نه، باداره، زه نشه نه يم. زه هغه ښځه يم چې ډېر کړاوونه مې زغملي دي، ما
شراب نه دي څښلي، زه خپلې سختۍ د څښتن حضور ته وړاندې کوم. ۱۶ دا فکر مه کوه چې زه خرابه
ښځه يم، زه د ډېر غم او خفګان څخه دلته داسې دعا کوم.»

۱۷ عيلي ځواب ورکړ: «په خير لاړه شه، د اسراييلو خدای دې هغه څه درکړي چې تا ورڅخه غوښتي
دي.» ۱۸ هغې وويل: «په خپلې خدمتګارې باندې مهربانه شې.» بيا هغه په خپله لاره روانه شوه، يو څه
يې وخوړل او نوره خفه نه وه.

۱۹ القانه او د هغه کورنۍ سبا سهار وختي پاڅېدل، د څښتن عبادت يې وکړ او دوی خپل کور ته چې په
رامه کې ؤ بېرته ستانه شول. القانه د خپلې ښځې حنا سره څملاست او خدای د هغې دعا قبوله کړه. ۲۰
څه موده وروسته حنا اميدواره شوه او زوی يې پيدا شو او په هغه باندې يې سموييل نوم کېښود. هغې
څرګنده کړه: «ځکه چې هغه مې د خدای څخه غوښتی ؤ.»

## حنا سموييل وقفوي

۲۱ هغه وخت بيا راغی چې القانه او د هغه کورنۍ شيلوه ته لاړل چې څښتن ته کلنۍ قرباني او خپل نذر
وړاندې کړي. ۲۲ حنا لاړه نه شوه. هغې خپل مېړه ته وويل: «کله چې هلک د تي څخه بېل کړای شو زه
به هغه د څښتن تعالی کور ته بوځم او هغه به هلته تېول عمر پاتې شي.»

۲۳ القانه هغې ته وويل: «څه چې ستا په نظر کې ښه ښکاري هغه وکړه. ترڅو چې هلک د تي څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېلېږي په کور کې پاتې شه، څښتن دې خپله وعده پوره کړي.» نو ښځه هلته پاتې شوه او خپل زوی ته يې
شيدې ورکولې.

۲۴ وروسته له هغې چې هغه د تي څخه بېل کړای شو، هلک لا وړوکی ؤ. هغه يې د ځان سره واخېست او
د يو درې کلن غويي، لس کيلوګرامه اوړو او د يو ژي د انګورو د شرابو سره يې د څښتن کور ته چې په
شيلوه کې ؤ يووړ. ۲۵ کله چې هغوی غويی حلال کړ هلک يې عيلي ته راوست. ۲۶ حنا هغه ته وويل:
«ای صاحبه! ستا په نامه باندې قسم خورم چې زه هغه ښځه يم چې دلته ستا په څنګ کې ولاړه وم او
څښتن ته مې دعا کوله. ۲۷ ما د همدې ماشوم دپاره دعا کړې وه او څه چې مې د څښتن څخه غوښتی ؤ
هغه يې راکړ. ۲۸ نو اوس هغه څښتن ته وقفوم، ترڅو چې هغه ژوندی وي هغه به د څښتن وي.»

نو هغوی هلته د څښتن عبادت وکړ.

## د حنا دعا

**۲** ۱ نو حنا دعا وکړه او ويې ويل:

«زما زړه کړ څښتن ډک له خوشحالۍ

زيات کړ څښتن قوت زما

خاندمه په خپلو دښمنانو او خوشحاله يمه

ځکه وژغورلم خدای زه

۲ هېڅوک د څښتن په شان پاک نه دی

نشته دی بل خدای بې له هغه څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته بل ساتونکی زمونږ د خدای په شان

۳ ډېرې د غرور خبرې مه کوئ

د خپلې خولې نه د غرور خبرې مه راوباسئ

ځکه څښتن دی هغه خدای چې په هرڅه پوهېږي

هغه د خلکو په کارونو باندې کړي قضاوت

۴ د زورورو لیندې ماتیږي

خو کمزوري قوي کیږي

۵ چې وو ماړه د یو مړی ډوډۍ دپاره شول مزدوران

خو چې وو وږي شو هغوی ماړه

هغه ښځه چې وه شنډه راوړل اووه یې اولادونه

خو شوه کمزورې هغه ښځه چې یې ډېر لرل بچي

۶ اخلي ژوند څښتن او ورکوي ژوندون

کوزوي ګور ته خلک راپورته کوي یې هم

۷ څوک غریبوي او ځینې نور شتمنوي څښتن

ځینې ټیټوي او ځینې نور سرلوړوي څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ غریبان پورته کوي هغه له خاورو ځینې

له نیستۍ نه خلاصوي محتاجان

کښېنوي هغوی د شهزادګانو سره

خاوندان هغوی د تخت وګرځوي

ځکه چې بنیاد د ځمکې د څښتن دی

په هغې باندې یې ځمکه جوړه کړې

۹ ژوند ساتي هغه د خپلو وفادارو

خو ورکیږي به تیارو کې بدکاران

انسان نه بریالی کیږي په خپل زور

۱۰ لاړ به شي له منځه هغه څوک

مخالفت چې د څښتن کوي

د اسمان نه به راوغورځوي تندر په هغوی باندې

کړي څښتن به عدالت ټولې دنیا باندې

ورکوي به خپل پاچا لره قوت

بریالی به کړي هغه خپل غوره کړي پاچا»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ بیا القانه خپل کور ته چې په رامه کې ؤ لاړ، خو هغه هلک سموییل په شیلوه کې پاتې شو او د عیلي کاهن تر نظر لاندې یې د څښتن خدمت کاوه.

## د عیلي بدکاره زامن

١٢ - ١٣ د عیلي زامن بدکاره وو، هغوی د څښتن درناوی نه کاوه، دیني اصول به یې تر پښو لاندې کول.
په هغه وخت کې د قوم سره د کاهنانو داسې رواج ؤ چې کله به چا قرباني کوله څه وخت به چې غوښه لا
په دېګي کې خوټېدله د کاهن نوکر به د درې غاښي پنجې سره راته. ١٤ هغه به دا پنجه په دېګي کې
غوټه کوله او هرڅه به چې د پنجې سره راپورته شول هغه به کاهن د خپل ځان دپاره واخیستل. هغوی به د
ټولو اسراییلیانو سره چې شیلوه ته راتلل همداسې رویه کوله. ١٥ برسېره پر دې حتی مخکې له دې چې
دوی به وازګې سوځولې، د کاهن نوکر به راغی او هغوی چې قرباني کوله ورته ویل به یې: «د کاهن دپاره
داسې غوښه راکړه چې کباب شي، هغه به جوش شوې غوښه قبوله نه کړي بلکې یوازې خامه غوښه به قبوله
کړي.»

١٦ که قرباني کوونکي به ځواب ورکړ: «پرېږده چې اول وازګې وسوځل شي بیا هرڅه چې غواړې واېې
خله،» نو د کاهن نوکر به ویل: «نه! اوس یې راکړه او که نه، نو په زور به یې در نه واخلم.»

١٧ د عیلي د زامنو ګناه د څښتن په نظر کې ډېره لویه وه، ځکه چې دوی به هغو قربانیو ته په سپک نظر
کتل چې څښتن ته به وړاندې کېدلې.

## سموییل په شیلوه کې

١٨ خو سموییل به د څښتن خدمت کاوه، په داسې حال کې چې هغه وړوکی ماشوم ؤ او سپېځلی کتاني
پېشبند به یې اغوست. ١٩ مور به یې هر کال د هغه دپاره یوه وړه چپنه جوړوله او څه وخت چې به د
خپل مېړه سره د کلنۍ قربانۍ دپاره تلله هغه به یې سموییل ته ورکوله. ٢٠ عیلي القانه او د هغه ښځې
ته برکت ورکاوه او القانه ته به یې ویل: «څښتن دې د دې ښځې څخه تاته نور اولادونه درکړي چې د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای ونیسي، هغه چې تا ښتن ته وقف کړی دی.» بیا به القانه او حنا خپل کور ته ستنېدل. ۲۱ ښتن
حنا ته برکت ورکړ او هغې ته يې نور درې زامن او دوه لورګانې ورکړې. په همدې حال کې هغه هلک
سمویيل د خدای په خدمت کې لویېده.

## عیلي خپلو زامنو ته اخطار ورکوي

۲۲ په دې وخت کې عیلي ډېر زوړ شوی ؤ او هرڅه چې د هغه زامنو د اسراییلو سره کول هغه اورېدل او
دا يې هم اورېدل چې څنګه هغوی د هغو ښځو سره څملاستل چې د سپېڅلې خېمې په دروازه کې يې
خدمت کاوه. ۲۳ نو هغوی ته يې وویل: «تاسو ولې داسې کارونه کوئ؟ زه د ټول قوم څخه ستاسو د بدو
کارونو په هکله خبرې اورم. ۲۴ نور بس دی، زما زامنو! هغه څه چې د ښتن د قوم له خوا ستاسو په اړه
اورم ښه خبره نه ده. ۲۵ که یو سړی د بل سړي په وړاندې ګناه وکړي، نو خدای کولای شي چې د هغه
شفاعت وکړي، خو که څوک د ښتن په وړاندې ګناه وکړي، نو څوک کولای شي چې د هغه شفاعت
وکړي؟» خو د عیلي زامنو د خپل پلار خبره وانه ورېدله، نو ځکه ښتن وغوښتل چې هغوی ووژني.

۲۶ هغه هلک یعنې سمویيل لویېده او په ښتن او خلکو باندې ګران ؤ.

## د عیلي د کورنۍ په ضد پېشګويي

۲۷ نو یو نبي عیلي ته راغی او د ښتن له خوا يې دغه پیغام هغه ته راوړ: «کله چې ستا د نیکونو څخه
هارون او د هغه کورنۍ د مصر د فرعون غلامان وو خپل ځان مې هغوی ته ښکاره کړ. ۲۸ د اسراییلو د
ټولو قبیلو څخه مې هغه غوره کړ چې زما کاهن شي او زما د قربانۍ ځای ته لاړ شي، هلته خوشبويي
وسوځوي او زما په مخکې سپېڅلی پېشبند واغوندي. ما هغوی ته دا حق ورکړ، ترڅو د هغه قربانیو یوه
برخه د ځان دپاره وساتي چې د قربانۍ په ځای کې سوځېږي. ۲۹ نو ولې زما د هغو قربانیو او نذرانو
بې عزتي کوئ هغه چې زه يې د خپل کور دپاره غواړم؟ ولې خپلو زامنو ته زما څخه زیات عزت ورکوې؟
تاسو زما د قوم اسراییلو د ټولو نذرانو د ډېرو ښو برخو په وسیله خپل ځانونه چاغ کړي دي. ۳۰ نو زه د
اسراییلو ښتن خدای وایم: ما پخوا وعده کړې وه چې ستاسو کورنۍ او خپلخانه به تل ترتله د کاهنانو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه زما خدمت کوي. خو اوس وايم زه به داسې نور ونه کړم! هرڅوک چې زما عزت وکړي زه به د هغه
عزت وکړم او هرڅوک چې زما بې عزتي کوي هغه به بې عزته کړم. ۳۱ وګوره! داسې وخت به راشي چې
زه به ستا د کورنۍ او ستا خپل ټول ځوانان مړه کړم، ترڅو چې ستا په کورنۍ کې هېڅوک هم د
سپین ږیرتوب عمر ته ونه رسيږي. ۳۲ ته به پرېشانه یې او په بخیلۍ سره به هغه برکتونه ووينې چې زه
به يې د اسراييلو نورو خلکو ته ورکړم او ستا په کورنۍ کې به هېڅوک هېڅکله د سپین ږیرتوب عمر ته ونه
رسيږي. ۳۳ خو که چېرې څوک ستا په اولادې کې ژوندی پاتې شي او د کاهن په توګه هم زما خدمت
کوي، په غم او درد کې به ژوند کوي. ستا ټوله نوره اولاده به په تاوتریخوالي باندې مړه شي. ۳۴ کله چې
ستا زامن حفني او فينحاس دواړه په يوه ورځ باندې مړه شي، نو دا به تاته څرګنده شي چې څه چې ما ويلي
وو هغه به رښتيا شي. ۳۵ زه به داسې يو کاهن د ځان دپاره غوره کړم چې ماته وفادار وي او هغه کارونه
سرته ورسوي چې زه يې غواړم. زه به هغه ته اولاده ورکړم او هغه به همېشه زما د غوره شوي پاچا خدمت
کوي. ۳۶ ستا هر يو اولاد چې ژوندی پاتې شي هغه به کاهن ته ورځي، د پيسو او ډوډۍ دپاره به هغه ته
سر ټيټوي او زارۍ به ورته کوي چې ماته د کاهن توب کار راکړه ترڅو يوه مړۍ ډوډۍ تر لاسه کړم.»

## څښتن سموييل سره خبرې کوي

۳ ۱ په هغو ورځو کې چې سموييل د عيلي تر لارښودنې لاندې د څښتن خدمت کاوه، د څښتن له خوا
پيغامونه او روياګانې ډېرې لږې وې. ۲ يوه شپه عيلي چې سترګې يې ډېرې کمزورې شوې وې او په
سختۍ سره يې ليدلی شول په خپل ځای کې ويده ؤ. ۳ څراغ لا مړ شوی نه ؤ، خو سموييل د خدای په
کور کې ويده ؤ او هلته د خدای د لوظ سپېڅلی صندوق ايښودل شوی ؤ. ۴ په دغه وخت کې څښتن
غږ وکړ: «سموييله! سموييله!»

سموييل ځواب ورکړ: «زه دلته يم.» ۵ هغه عيلي ته ورمنډه کړه او ويې ويل: «تا ماته غږ وکړ، زه دلته
يم.»

خو عيلي ځواب ورکړ: «ما غږ نه دی کړی، بېرته لاړ شه او څمله.» نو هغه لاړ او څملاست.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ښتن بیا وربانديې غږ وکړ: «ای سموییله!» او سموییل راپاڅېده، عیلي ته ورغی او ویې ویل: «تا ماته
غږ وکړ، زه دلته یم.»

عیلي وویل: «ای زما زویه، ما تاته غږ نه دی کړی، بېرته لاړ شه او څمله.» ۷ سموییل لا تر دې وخته
پورې ښتن نه پېژنده یعنې د ښتن پیغام ورته نه ؤ رسېدلی.

۸ ښتن د دریم ځل دپاره په سموییل باندې غږ وکړ. سموییل پاڅېد، عیلي ته ورغی او ویې ویل: «تا
ماته غږ وکړ، زه دلته یم.»

نو بیا عیلي پوه شو چې ښتن په هلک باندې غږ کوي. ۹ نو بیا عیلي سموییل ته وویل: «لاړ شه، څمله
او که چېرې هغه غږ وکړ ووایه: خبره وکړه ای ښتنه، ځکه ستا غلام یې اوري.» نو سموییل لاړ او په خپل
ځای کې څملاست.

۱۰ ښتن راغی، ودرېده او د مخکې په شان یې غږ وکړ: «ای سموییله! ای سموییله!»

سموییل وویل: «خبره وکړه، ځکه چې ستا غلام یې اوري.»

۱۱ ښتن هغه ته وویل: «زه به اوس د اسراییلو په قوم باندې داسې کار وکړم چې هغه به ډېر هیبتناکه
وي او هرڅوک یې چې واوري هغه به هک حیران شي. ۱۲ زه به هغه ټولې خبرې چې د عیلي د کورنۍ په
ضد مې کړې دي د اول نه تر اخره پورې سرته ورسوم. ۱۳ ما پخوا هغه ته ویلي وو چې زه به تر ابده پورې
د هغه کورنۍ ته سزا ورکوم، په دې خاطر چې زامنو یې زما په ضد کفر ویلی دی. عیلي پوهېده چې هغوی
دا کار کوي خو د هغوی مخنیوی یې نه کاوه. ۱۴ له دې کبله د عیلي د کورنۍ دپاره مې قسم خوړلی
چې د هغه د کورنۍ ګناه به هېڅکله د قربانۍ او یا نذرانو په ورکولو سره لېرې نه شي.»

۱۵ سموییل تر سبا پورې پروت ؤ او بیا هغه پاڅېده او د ښتن د کور دروازې یې خلاصې کړې. هغه
ووېرېده چې عیلي ته د خپلې رویا په اړه ووایي. ۱۶ خو عیلي په هغه باندې غږ وکړ او ویې ویل: «ای
سموییله! زما زویه!»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سموییل ځواب ورکړ: «زه دلته یم.»

۱۷ عیلي پوښتنه وکړه: «څښتن تاته څه وویل؟ زما څخه یې مه پټوه، که چېرې هغه څه چې خدای تاته
ویلي دي ماته ونه وایې، نو خدای دې تاته سخته سزا درکړي.» ۱۸ نو سموییل هغه ته هرڅه وویل، د هغه
څخه یې هېڅ شی پټ نه کړ. عیلي وویل: «هغه څښتن دی. هرڅه چې د هغه په نظر کې ښه ښکاري هغه
دې وکړي.»

۱۹ سموییل لویېده او څښتن د هغه سره ؤ. د هرڅه پېشګویي به یې چې کوله هغه رښتیا کېدله. ۲۰
ټول اسراییلیان د دان څخه په شمال کې او تر بیرشبع په جنوب کې په دې پوه شول چې سموییل په رښتیا
سره د څښتن نبي شو. ۲۱ څښتن به په شیلوه کې سموییل ته ځان ښکاره کاوه او خپل پیغام به یې ورته
رساوه.

۴ ۱ سموییل به د اسراییلو ټول قوم ته د خدای خبرې رسولې.

## فلسطینیان د لوط صندوق په زوره نیسي

اسراییلیان د فلسطینیانو سره د جنګ دپاره روان شول، اسراییلیانو په ابن عزر او فلسطینیانو په افیق کې
خپلې خېمې ودرولې. ۲ فلسطینیانو خپل ځواکونه د اسراییلو سره د مقابلې دپاره ځای په ځای کړل.
څنګه چې جګړه شروع شوه، نو اسراییلیانو د فلسطینیانو له خوا ماتې وخوړه، د جنګ په ډګر کې نږدې څلور
زره اسراییلیان ووژل شول. ۳ کله چې ژوندي پاتې شوي کس بېرته کمپ ته راستانه شول، نو د اسراییلو
سپین ږیرو وویل: «ولې نن ورځ څښتن فلسطینیان پرېښودل چې مونږ ته ماتې راکړي؟ راځئ چې د شیلوه
څخه د څښتن د لوط صندوق راوړو، ترڅو هغه زمونږ سره لاړ شي او مونږ د دښمنانو څخه وژغوري.» ۴
نو عسکرو شیلوه ته خپل استازي ولېږل چې د مطلق قادر څښتن د لوط صندوق راوړي چې هغه د اسماني
مخلوقاتو دپاسه په تخت باندې ناست دی. او د عیلي دوه زامن حفني او فینحاس د لوط د صندوق سره
راغلل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ کله چې د لوظ صندوق راورسېده، نو اسراییلیانو په داسې لوړ اواز سره د خوشحالۍ چیغې ووهلې چې
ځمکه ولړزېدله. ۶ څنګه چې فلسطینیانو دا چیغې واورېدلې پوښتنه یې وکړه: «د عبرانیانو په کمپ کې
دا چیغې د څه دپاره دي؟» کله چې فلسطینیان پوه شول چې د څښتن د لوظ صندوق د عبرانیانو کمپ ته
راوړل شو، ۷ هغوی ووېرېدل او ویې ویل: «یو د خدایانو څخه کمپ ته راغی. مونږ په کړاو کې اخته
کېږو! د دې څخه مخکې هېڅکله داسې پېښه نه وه شوې. ۸ افسوس زمونږ په حال! څوک به مونږ د
دې قدرمندو خدایانو د لاسونو څخه خلاص کړي؟ دا هغه خدایان دي چې مصریان یې په دښته کې په ډول
ډول بلا ګانو باندې ووهل. ۹ ای فلسطینیانو زړور اوسئ! د مېړنو په شان وجنګېږئ هسې نه چې مونږ د
عبرانیانو غلامان شو، لکه څنګه چې دوی زمونږ غلامان وو. نو د مېړنو په شان جنګ وکړئ!»

۱۰ نو فلسطینیانو سخت جنګ وکړ. اسراییلو ماتې وخوړله او هر یو خپل کور ته وتښتېد. دا ډېره لویه
وژنه وه یعنې دېرش زره اسراییلي عسکر ووژل شول. ۱۱ د خدای د لوظ صندوق ونیول شو او د عیلي
زامن حفني او فینحاس دواړه ووژل شول.

## د عیلي مړینه

۱۲ په هماغه ورځ د بنیامین د قبیلې یو سړی د جنګ د میدان څخه وتښتېد او شیلوه ته لاړ. د هغه کالي
شلېدلي وو او په خپل سر باندې یې خاورې اچولې وې. ۱۳ کله چې هغه راورسېد، عیلي په خپلې چوکۍ
باندې د سرک په غاړه ناست ؤ. په ځیر یې کتل، ځکه چې د هغه زړه د خدای د لوظ صندوق دپاره لړزېده.
کله چې هغه سړی ښار ته ورننوت او څه چې پېښ شوي وو بیان یې کړل، نو په ټول ښار کې چیغې شوې.
۱۴-۱۵ عیلي اته نوي کلن ؤ او ړوند ؤ، خو د خلکو چیغې یې واورېدلې بیا یې پوښتنه وکړه: «دا
شورماشور د څه دپاره دی؟» بنیامینی سړی زر عیلي ته ورغی. هغه ته یې وویل: ۱۶ «زه همدا اوس د
جنګ له میدان څخه راغلم او همدا نن له هغه ځای نه راتښتېدلی یم.»

عیلي پوښتنه وکړه: «ای زویه! څه پېښه شوې ده؟» ۱۷ هغه سړي چې دا خبر یې راوړی ؤ ځواب ورکړ:
«اسراییلیان د فلسطینیانو څخه تښتېدلي دي او لښکرو ته درووند زیان رسېدلی دی، ستا دواړه زامن حفني
او فینحاس هم وژل شوي دي او د خدای د لوظ صندوق نیول شوی دی.» ۱۸ کله چې هغه سړي د لوظ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د صندوق يادونه وکړه، عيلي د خپلې چوکۍ څخه چې د ښار د دروازې په څنګ کې وه په شا وغورځېد. څرنګه چې هغه سپين ږيرى او درونډ سړى ؤ، ورمېږ يې مات شو او مړ شو. هغه څلوېښت کاله د اسراييلو مشر ؤ.

## د فينحاس د کونډې مړينه

١٩ د عيلي انږور يعنې د فينحاس ښځه اميدواره وه او د هغې د اولاد د زېږېدلو وخت نژدې ؤ. کله چې
هغې دا خبر واورېد چې د خداى د لوظ صندوق نيول شوى دى او د هغې خسر او مېړه مړه شوي دي، په
هغې باندې د اولاد د زېږونې درد راغى او اولاد يې وزېږاوه. ٢٠ څنګه چې هغه د مرګ په حال کې وه،
هغو ښځو چې د هغې سره وې ويې ويل: «مه نا اميده کېږه، تا زوى وزېږاوه.» خو هغې ورباندې پروا ونه
کړه او ځواب يې ورنه کړ. ٢١ هغې په هغه هلک باندې ايخابود نوم کېښود او دا يې څرګنده کړه: «د
خداى جلال د اسراييلو څخه لاړ.» دا يې ځکه وويل چې د خداى د لوظ صندوق نيول شوى ؤ او د هغې
خسر او مېړه مړه شوي وو. ٢٢ هغې وويل: «د خداى جلال د اسراييلو څخه لاړ، ځکه چې د خداى د لوظ
صندوق نيول شوى دى.»

## د لوظ صندوق د فلسطين په ښارونو کې

٥ ١ وروسته له دې چې فلسطينيانو د خداى د لوظ صندوق ونيوه، هغه يې د ابن عزر څخه د اشدود
ښار ته يووړ. ٢ هغوى دا صندوق د خپل خداى يعنې د داجون بتخانې ته يووړ او د داجون په خوا کې
يې کېښود. ٣ کله چې د اشدود خلک په راتلونکې ورځ د وخته پاڅېدل ويې ليدل چې د داجون بت د
څښتن د لوظ صندوق په مخکې په ځمکې باندې پړمخې پروت ؤ! نو دوى داجون راواخيست او بېرته يې په
خپل ځاى کې کېښود. ٤ خو کله چې دوى په راتلونکې سهار پاڅېدل، داجون د څښتن د لوظ د صندوق
په مخکې په ځمکې باندې بيا پړمخې لوېدلى ؤ! دا ځل د بت سر او لاسونه مات شوي وو او د دروازې په
درشل کې پراته وو. يوازې د هغه بدن پاتې ؤ. ٥ په همدې خاطر د داجون کاهنان او عبادت کوونکي تر
نن ورځې پورې په اشدود کې د داجون د بت خانې د دروازې په درشل باندې پښه نه ږدي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خښتن د اشدود خلکو ته درنه سزا ورکړه او هغوی يې سخت ووېرول. هغه د اشدود او د هغه د
شاوخوا سيمو خلک د پړسوب په مرض اخته کړل. ۷ کله چې د اشدود خلکو دا پېښه وليدله هغوی
وويل: «د اسراييلو د خدای د لوظ صندوق بايد نور زمونږ سره پاتې نه شي، ځکه چې د هغوی خدای مونږ او
زمونږ خدای داجون ته سزا ورکوي.» ۸ نو هغوی استازي ولېږل او د فلسطينيانو ټول پاچاهان يې يوځای
راوغوښتل او د هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: «د اسراييلو د خدای د لوظ صندوق سره څه وکړو؟»

هغوی ځواب ورکړ: «هغه جت ته يوسئ» نو هغه يې د فلسطين بل ښار يعنې جت ته يووړ. ۹ خو
وروسته له دې چې صندوق هلته ورسېده، خښتن هغه ښار ته هم سزا ورکړه او په هغوی باندې يې سخته
وېره او وارخطايي راوستله. خښتن د هغه ښار ټول خلک د ځوانانو څخه نيولې تر زړو پورې د پړسوب په
مرض اخته کړل. ۱۰ نو دوی د خدای د لوظ صندوق د فلسطين يو بل ښار عقرون ته ولېږه، خو کله چې
صندوق هلته ورسېده خلکو چيغې ووهلې: «هغوی د اسراييلو د خدای د لوظ صندوق د دې دپاره دلته
راوړی دی چې مونږ ټول ووژني.» ۱۱ نو دوی د فلسطينيانو ټول پاچاهان بيا يوځای سره راوغوښتل او ويې
ويل: «د اسراييلو د خدای د لوظ صندوق ولېږئ، پرېږدئ چې هغه بېرته خپل ځای ته واستول شي، که نه،
نو مونږ او زمونږ قوم به ووژني.» په ټول ښار کې وېره او وارخطايي وه، ځکه چې خدای هغوی ته ډېره درنه
سزا ورکوله. ۱۲ هغه خلک چې مړه نه شول د پړسوب په مرض باندې اخته شول. خلکو د مرستې دپاره
خپلو خدايانو ته چيغې ووهلې.

## د لوظ صندوق اسراييلو ته بېرته استول کيږي

٦ ۱ هغه وخت چې د خښتن د لوظ صندوق اووه مياشتې د فلسطين په سيمه کې ؤ، ۲ خلکو
کاهنان او فال کتونکي راوغوښتل او د هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: «د خښتن د لوظ د صندوق سره څه
وکړو؟ څنګه يې خپل اصلي ځای ته بېرته واستوو؟»

۳ هغوی ځواب ورکړ: «که تاسو د اسراييلو د خدای د لوظ صندوق استوئ، نو بايد د هغه سره نذرانه
هم واستوئ چې ستاسو د ګناه بدله ادا کړي. د لوظ صندوق بايد بېرته بې له نذرانې ونه استول شي، په دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډول به تاسو روغ شئ او تاسو ته به څرګنده شي چې ولې هغه تاسو ته سزا درکوله.»

۴ خلکو پوښتنه وکړه: «څه قسم نذرانه هغه ته واستوو؟»

هغوی ځواب ورکړ: «د فلسطینیانو د پاچاهانو د شمېر له مخې د پړسوب د مرض پنځه د سرو زرو نمونې
او پنځه د سرو زرو موږکان، ځکه چې هماغه یو شان بلا تاسې ټول او ستاسو پاچاهان وهلي دي. ۵ تاسو
باید د پړسوب او د هغو موږکانو نمونې جوړې کړئ چې هېواد ورانوي او د اسراییلو خدای ته عزت ورکړئ.
ښايي چې هغه تاسو، ستاسو خدایانو او ستاسو خاورې ته سزا ورکول بس کړي. ۶ تاسو ولې د مصریانو او
فرعون په شان خپل زړونه سخت کړي دي؟ دا مه هېروئ چې څنګه خدای هغوی مسخره کړل ترڅو چې
هغوی اسراییلو ته اجازه ورکړه چې د مصر څخه لاړ شي. ۷ اوس یوه نوې ګاډۍ تیاره کړئ او دوه
غواګانې چې خوسکي یې زېږولي وي او هېڅکله د هغو په غاړو باندې جغ نه وي ایښودل شوی، په ګاډۍ
پورې وتړئ او د هغوی خوسکي بېرته غوجل ته بوځئ. ۸ د څښتن د لوظ صندوق واخلئ، په ګاډۍ کې
یې کېږدئ او هغه د سرو زرو شیان چې تاسې یې د خپلې ګناه په بدل کې هغه ته ورلېږئ په یوې
صندوقچې کې د هغه په خوا کې کېږدئ، بیا یې ولېږئ چې په خپله لاړ شي. ۹ نو بیا هغې ته وګورئ،
که چېرې هغه خپلې سیمې ته یعنې د بیت شمس په لور لاړ، دا د دې معنی لري چې دا د اسراییلو خدای
دی چې په مونږ یې دغه لوی افت راوستلی دی، خو که چېرې لاړ نه شو نو بیا به پوه شو چې دا بلا هغه نه
ده رالېږلې او دا یوازې یوه تصادفي پېښه وه.»

۱۰ نو فلسطینیانو همداسې وکړل. دوه لنګې غواګانې یې واخیستلې، ګاډۍ پورې یې وتړلې او د هغو
خوسکي یې په غوجل کې بند کړل. ۱۱ هغوی د لوظ صندوق او هغه صندوقچه چې په هغې کې د
موږکانو او د پړسوب د مرض د سرو زرو نمونې وې په ګاډۍ کې کېښودلې. ۱۲ نو غواګانې نېغې د
بیت شمس په لوري لاړې. په ټوله لاره باندې یې رمبارې وهلې او چپ یا ښي خواته نه ګرځېدلې. د
فلسطینیانو پاچاهان د بیت شمس تر پولې پورې په هغوی پسې لاړل.

۱۳ د بیت شمس خلکو په دره کې خپل غنم لو کول او کله چې هغوی خپلې سترګې پورته کړې او د لوظ
صندوق یې ولیده، په لیدلو سره یې خوشحاله شول. ۱۴ ګاډۍ د یو سړي پټي ته چې یوشع نومېده او په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بيت شمس کې اوسېده، راغله او هلته د يو لوی ګټ په خوا کې ودرېدله. خلکو د ګاډۍ لرګي مات کړل او
غواګانې يې د سوځېدونکې نذرانې په توګه څښتن ته قرباني کړې. ۱۵ لاويانو د څښتن د لوظ صندوق او
هغه صندوقچه چې په هغې کې د سرو زرو شيان وو راښکته کړل او په هغه لوی ګټ باندې يې کېښودل. په
هغه ورځ د بيت شمس خلکو سوځېدونکې نذرانې او نورې قربانۍ څښتن ته وړاندې کړې. ۱۶ د
فلسطينيانو پنځو پاچاهانو دا ټول وليدل او په هماغه ورځ عقرون ته ستانه شول.

۱۷ فلسطينيانو هغه د پړسوب د مرض د سرو زرو نمونې چې د خپلو ګناهونو په بدل کې يې څښتن ته
لېږلې وې يعنې د اشدود، غزه، اشقلون، جت او عقرون د هر ښار دپاره يې يوه يوه نمونه ولېږله. ۱۸
همدارنګه هغوی د سرو زرو موږکانو څخه يو يو هر يو ښار دپاره ولېږه چې په هغو کې قلعه لرونکي او بې
دېواله کلي شامل وو او پنځو فلسطيني پاچاهانو ورباندې حکمراني کوله. هغه لوی ګټ چې د څښتن د لوظ
صندوق يې په هغې باندې کېښود تر نن ورځې پورې د بيت شمسي يوشع په پټي کې دی، دا د هغه شاهد
دی چې هلته څه پېښ شوي وو.

۱۹ څښتن د بيت شمس د خلکو څخه اويا سړي ووژل، ځکه چې هغوی د لوظ د صندوق دننه وکتل.
خلکو وير کاوه، ځکه چې څښتن په هغوی کې ډېره لويه وژنه وکړه. ۲۰ نو د بيت شمس خلکو پوښتنه
وکړه: «څوک کولای شي چې د څښتن يعنې پاک خدای په حضور کې ودرېږي؟ صندوق چېرته ولېږو چې
زمونږ څخه لېرې شي؟» ۲۱ نو دوی د قريه يعاريم د ښار خلکو ته استازي واستول ويې ويل: «فلسطينيانو
د څښتن د لوظ صندوق بېرته رالېږلی دی، راشئ او تاسې يې خپل ځای ته يوسئ.»

۷ ۱ نو د قريه يعاريم خلکو د څښتن د لوظ صندوق راواخيست او هغه يې د ابيناداب کور ته چې د
يوې غونډۍ دپاسه ؤ يووړ. د هغه زوی العازار يې وقف کړ چې د څښتن د لوظ صندوق وساتي.

## سموييل په اسراييلو باندې حکومت کوي

۲ د څښتن د لوظ صندوق د اوږدې مودې دپاره يعنې څه ناڅه شل کاله په قريه يعاريم کې پاتې شو. په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې موده کې ټولو اسراییلو ویر وکړ او د څښتن په لټون کې شول.

۳ سموییل د اسراییلو قوم ته وویل: «که چېرې تاسو د زړه له کومي څښتن ته راګرځئ، نو تاسو باید
پردي خدایان او د عشتاروت بتان له خپلو ځانونو څخه لېرې کړئ. خپل ځانونهپه پوره توګه څښتن ته وقف
کړئ او یوازې د هغه عبادت وکړئ، نو هغه به تاسو د فلسطینیانو څخه وژغوري.» ۴ نو اسراییلو د بعل
او عشتاروت بتان لېرې کړل او یوازې د څښتن عبادت یې کاوه.

۵ بیا سموییل ټول اسراییلیان راوغوښتل چې په مصفه کې سره راټول شي، ورته ویې ویل: «زه به څښتن
ته ستاسو دپاره دعا وکړم.» ۶ کله چې هغوی په مصفه کې سره راغونډ شول، له څاه څخه یې اوبه
راوویستلې او د څښتن په وړاندې یې د نذرانې په توګه توی کړې. هغه ورځ یې روژه ونیوله او هلته یې دا
اقرار وکړ: «مونږ د څښتن په وړاندې ګناه کړې ده.»

سموییل د اسراییلو مشر ؤ او خپل کار به یې په مصفه کې کاوه.

۷ کله چې فلسطینیانو واورېدل چې اسراییلیان په مصفه کې سره راغونډ شوي دي، د فلسطینیانو پنځه
پاچاهان د خپلو نفرو سره روان شول چې په هغوی باندې حمله وکړي. څنګه چې اسراییلو دا واورېدل، نو
ووېرېدل. ۸ هغوی سموییل ته وویل: «زمونږ دپاره زمونږ څښتن خدای ته زاري کول مه پرېږده چې مونږ
د فلسطینیانو څخه وژغوري.» ۹ نو سموییل یو شیدې رودونکی ورى واخېست او هغه ټول یې د
سوځېدونکې نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کړ. هغه د اسراییلیانو دپاره څښتن ته فریاد وکړ او څښتن د
هغه فریاد واورېد. ۱۰ په هغه شېبه کې چې سموییل سوځېدونکې نذرانه قرباني کوله، فلسطینیان د
جګړې دپاره اسراییلو ته رانژدې شول، خو په هغه ورځ څښتن په فلسطینیانو باندې د اسمان څخه تندر
راوغورځاوه. هغوی بیخي وارخطا شول او له وېرې وتښتېدل. ۱۱ اسراییلیان د مصفې څخه ووتل او تر
بیت کار پورې په فلسطینیانو پسې شول او په لاره کې یې هغوی ووژل.

۱۲ په هغه وخت کې سموییل یوه تیږه واخیستله او هغه یې د مصفې او شن ترمنځ ودروله. هغه یې «د
مرستې د تیږې» په نوم یاده کړه او ویې ویل: «تر اوسه پورې څښتن زمونږ سره مرسته کړې ده.» ۱۳ نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فلسطينيانو ډېره بده ماته وخوړله، تر ډېر وخته پورې يې بيا په اسراييلو باندې حمله ونه کړه. ترڅو چې
سموييل ژوندی ؤ، د څښتن لاس د هغوی په ضد اوچت ؤ. ۱۴ د عقرون څخه تر جت پورې ټول هغه
ښارونه چې فلسطينيانو د اسراييلو څخه نيولي وو بېرته اسراييلو ته ورکړل شول. اسراييلو د دغو ښارونو
نژدې سيمې هم د فلسطينيانو څخه ازادې کړې. د اسراييلو او اموريانو ترمنځ هم سوله وشوه.

۱۵ سموييل د خپل ژوند تر پايه پورې د اسراييلو مشر ؤ. ۱۶ هغه به هر کال په بيت ييل، جلجال او
مصفې باندې ګرځېده او په دې ځايونو کې به يې شخړې حل کولې. ۱۷ بيا به هغه بېرته رامه ته ستنېده،
ځکه چې هلته د هغه کور ؤ او په دې ځای کې هم هغه د قاضي په توګه خدمت کاوه. په رامه کې يې د
څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ.

## اسراييليان پاچا غواړي

۸ ۱ کله چې سموييل زوړ شو، نو خپل زامن يې د قاضيانو په توګه د اسراييلو دپاره وټاکل. ۲ د هغه
د مشر زوی نوم يوييل او د کشر زوی نوم ابيا ؤ. هغوی په بيرشبع کې قاضيان وو. ۳ خو هغوی د خپل
پلار په لار روان نه وو. د هغوی شوق يوازې پيسې پيدا کول ؤ، نو رشوت به يې اخيست او انصاف به يې
تر پښو لاندې کاوه.

۴ نو د اسراييلو ټول سپين ږيري سره راغونډ شول او رامې ته لاړل، ترڅو د سموييل سره وګوري. ۵
سموييل ته يې وويل: «ګوره، ته زوړ شوی يې او ستا زامن ستا په لاره نه ځي. اوس زمونږ دپاره پاچا وټاکه
چې په مونږ باندې حکومت وکړي، ترڅو مونږ هم د نورو ټولو قومونو په شان پاچا ولرو.» ۶ سموييل د
هغوی په دې غوښتنه خوشحاله نه ؤ. نو هغه څښتن ته دعا وکړه. ۷ څښتن هغه ته وويل: «سموييله!
هرڅه چې قوم در نه غواړي هماغسې وکړه. هغوی ته نه يې رد کړی، بلکې زه يې د خپل پاچا په توګه رد
کړی يم. ۸ د هغه وخت څخه چې ما دوی د مصر څخه راوويستل، زه يې پرېښودم او د نورو خدايانو
عبادت يې وکړ. هغوی اوس ستا سره هغه کار کوي کوم چې هغوی تل زما سره کړی دی. ۹ نو بيا څه
چې هغوی در نه غواړي هماغسې وکړه، خو هغوی ته په کلکه خبرداری ورکړه او ورته وښايه چې پاچاهان به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی سره ښځګه رويه کوي.»

۱۰ سموييل د ښښتن ټولې خبرې هغه خلکو ته بيان کړې چې د هغه څخه يې د پاچا غوښتنه کړې وه.
۱۱ سموييل څرګنده کړه: «ستاسو پاچا به ستاسو سره داسې رويه وکړي: هغه به ستاسو زامن واخلي او د
هغو څخه به عسکر جوړ کړي. ځينې به يې په جنګي ګاډيو کې خدمت کوي، نور به د هغه سپاره عسکر
وي او ځينې به د هغه د ګاډيو په مخکې ځغلي. ۱۲ ځينې به د زر کسيزه ډلې او ځينې به د پنځوس
کسيزه ډلې قوماندانان وټاکي. ستاسو زامن به د پاچا ځمکه قلبه کوي، د هغه حاصلات به راغونډوي او د
وسلې او د جنګي ګاډيو دپاره به سامان جوړوي. ۱۳ هغه به ستاسو لورګانې بوځي او هغه ته به عطر
جوړوي، پخلی به ورته کوي او ډوډۍ به ورته پخوي. ۱۴ هغه به ستاسو څخه ډېر ښه پټي او د انګورو او
زيتونو باغونه واخلي او خپلو افسرانو ته به يې ورکړي. ۱۵ هغه به ستاسو د غلو دانو او انګورو لسمه برخه
واخلي او خپلو درباريانو او افسرانو ته به يې ورکړي. ۱۶ هغه به ستاسو څخه غلامان، وينځې او ستاسو
ډېرې ښې پادې او خره د خپل کار دپاره واخلي. ۱۷ هغه به ستاسو د رمو څخه لسمه برخه اخلي او تاسو
په خپله به د هغه غلامان شئ. ۱۸ هغه ورځ به راشي کله چې تاسو د خپل پاچا له لاسه چې د خپل ځان
دپاره مو غوره کړی دی سخت شکايتونه وکړئ. خو ښښتن به ستاسو شکايتونو ته غوږ ونه نيسي.»

۱۹ خو قوم د سموييل د خبرو د اورېدلو څخه انکار وکړ او ويې ويل: «نه! مونږ پاچا غواړو. ۲۰ مونږ
هيله لرو چې د نورو ټولو قومونو په شان شو. پاچا به په مونږ باندې حکومت وکړي او په جګړې کې به زمونږ
لارښوونه کوي.»

۲۱ سموييل د هغوی خبرې واورېدلې، بيا يې دا هرڅه ښښتن ته وړاندې کړل. ۲۲ ښښتن ځواب ورکړ:
«څه چې دوی غواړي هغه وکړه، ورته يو پاچا وټاکه.» بيا سموييل د اسراييلو قوم ته وويل: «هر يو دې خپل
کور ته لاړ شي.»

## شاوول د سموييل سره ملاقات کوي

۹ ۱ د بنيامين د قبيلې څخه يو شتمن او با نفوذه سړی ؤ چې قيس نومېده. هغه د ابي ييل زوی او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صرور لمسی ؤ. د بکورت په کورنۍ پورې يې اړه درلودله چې د افيح د خپل یوه برخه وه. ۲ قيس يو
زوی درلود چې شاوول نومېده، هغه يو ښکلی ځوان ؤ چې په اسراييلو کې له هغه څخه ځوک زيات ښکلی نه
ؤ او قد يې د يو سر په اندازه د نورو څخه لوړ ؤ.

۳ د قيس خرې ورکې شوې وې، نو هغه شاوول ته وويل: «يو نوکر د ځان سره واخله، لاړ شه او خرې
ولټوه.» ۴ هغوی د افرايم په غرنۍ سيمې او د شليشې په سيمه کې وګرځېدل، خو هغه يې پيدا نه
کړې. نو د شعليم د سيمې څخه تېر شول، خو خرې هلته نه وې. بيا د بنيامين په ځمکه کې وګرځېدل خو
ويې نه موندلې. ۵ کله چې هغوی د صوف سيمې ته ورسېدل شاوول خپل نوکر ته چې ورسره ؤ وويل:
«راځه چې بېرته کور ته لاړ شو، که نه، نو پلار به مې خرې هېرې کړي او زمونږ په اړه به اندېښمن شي.»

۶ خو نوکر په ځواب کې وويل: «ګوره! په دې ښار کې يو نبي دی چې د هغه ډېر درناوی کيږي، هغه
چې هرڅه وايي رښتيا کيږي. راځه چې هغه ته ورشو، کېدای شي هغه مونږ ته ووايي چې هغه خرې چېرته
موندلی شو.»

۷ شاوول ورته وويل: «که چېرې هغه ته ورشو، نو هغه سړي ته به څه ورکړو؟ ځکه چې زمونږ په بوجيو
کې خواړه خلاص شوي دي او زمونږ سره سوغات هم نشته چې هغه نبي ته يې ورکړو. نو څه يوسو؟»

۸ نوکر هغه ته په ځواب کې وويل: «ګوره! ما سره نيم مثقال سپين زر شته، هغه به نبي ته ورکړم، ترڅو
هغه مونږ ته لاره وښايي.»

۹ (په پخوا زمانه کې چې کله به په اسراييلو کې چا غوښتل چې د خدای څخه سوال وکړي نو داسې به
يې ويل: «راځئ چې غيب ويونکي ته ورشو.» ځکه چې اوسنی نبي به پخوا د غيب ويونکي په نوم يادېده.)
۱۰ شاوول خپل نوکر ته وويل: «ښه خبره ده، راځه چې ځو.» نو دوی هغه ښار ته لاړل چې نبي په کې ؤ.
۱۱ هغه وخت چې هغوی ښار ته په غونډۍ باندې پورته کېدل ويې ليدل چې يو څو نجونې د اوبو وړلو
دپاره راروانې دي. د هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: «ايا غيب ويونکی دلته دی؟»

۱۲ هغوی ځواب ورکړ: «هو، هغه ستاسو څخه مخکې روان دی، زر کوئ هغه نن زمونږ ښار ته راغلی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی، ځکه چې نن ورځ خلک د عبادت په ځای کې چې په غونډۍ باندې ده قرباني کوي. ۱۳ څنګه چې
تاسو ښار ته ننوځئ، نو مخکې له دې چې هغه د عبادت ځای ته د خوړلو دپاره پورته وخېژي، تاسو به یې
پیدا کړئ. ترڅو پورې چې هغه راغلی نه وي خلک به ډوډۍ ونه خوري، ځکه چې هغه باید اول قربانۍ ته
برکت ورکړي. وروسته به رابلل شوي خلک ډوډۍ وخوري. اوس پورته وخېژئ، نو په همدې وخت کې به یې
پیدا کړئ.» ۱۴ نو شاوول او د هغه نوکر ښار ته روان شول او څنګه چې هغوی ښار ته ورننوتل، سموییل د
دوی خواته راروان ؤ چې د عبادت ځای ته وخېژي.

۱۵ د شاوول د راتګ څخه یوه ورځ مخکې څښتن سموییل ته ویلي وو: ۱۶ «سبا شاوخوا په دغه وخت
کې به یو سړی د بنیامین د قبیلې څخه تاته درولېږم. ته به زما د قوم د مشر په توګه د هغه سر په تېلو غوړ
کړې، هغه به زما قوم د فلسطینیانو څخه وژغوري. ما د خپل قوم تکلیف لیدلی دی او د مرستې په خاطر
مې د هغوی فریاد اورېدلی دی.»

۱۷ کله چې سموییل شاوول ولید، څښتن هغه ته وویل: «دا هماغه سړی دی چې تاته مې د هغه په اړه
ویلي وو. هغه به زما په قوم باندې حکومت کوي.» ۱۸ شاوول د دروازې په خوله کې سموییل ته ورنژدې
شو او د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: «مهرباني وکړئ ماته ووایئ چې د غیب ویونکي کور چېرې دی؟»

۱۹ سموییل ځواب ورکړ: «زه غیب ویونکی یم، زما څخه مخکې عبادت ځای ته لاړ شئ، تاسو دواړه به نن
زما سره ډوډۍ وخورئ. هغه څه چې ته غواړې پوه به شې، سبا سهار به یې درته ووایم او تا به رخصت کړم.
۲۰ د هغو خرو په اړه چې درې ورځې مخکې ورکې شوې دي اندېښنه مه کوه هغه پیدا شوې دي. هغه
څوک چې د اسراییلو قوم یې زیات غواړي، هغه ته او ستا د پلار کورنۍ ده.»

۲۱ شاوول په ځواب کې وویل: «زه د بنیامین د قبیلې پورې تړلی یم، چې په اسراییلو کې یوه ډېره
کوچنۍ قبیله ده او زما کورنۍ د بنیامین د قبیلې یوه ډېره عادي کورنۍ ده. نو ولې ماته داسې خبرې
کوې؟»

۲۲ سموییل شاوول او د هغه نوکر لویې کوټې ته دننه راوستل او هغوی ته یې د دسترخوان په سر کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای ورکړ چې هلته نژدې دېرش تنه مېلمانه ناست وو. ۲۳ سمویيل اشپز ته وویل: «هغه د غوښې ټوټه
چې تاته مې درکړې وه او درته ويلي مې وو چې بېل يې کېږده، هغه اوس راوړه.» ۲۴ نو اشپز ورون راوړ او
د شاوول په مخکې يې کېښود. سمویيل وویل: «ګوره، دا هغه غوښه ده چې ستا دپاره ساتل شوې ده. ويې
خوره! دا مې ستا دپاره ساتلې وه چې اوس يې د رابلل شويو خلکو سره وخورې.» نو شاوول په هغه ورځ د
سمویيل سره ډوډۍ وخوړله.

۲۵ وروسته له دې چې هغوی د عبادت ځای څخه ښار ته راښکته شول، سمویيل په خپل بام باندې د
شاوول سره خبرې وکړې. ۲۶ هغوی سهار وختي پاڅېدل او سمویيل شاوول ته چې په بام باندې ؤ غږ
وکړ: «پاڅه! زه به تا رخصت کړم.» کله چې شاوول تيار شو، هغه او سمویيل سره يوځای ووتل.

## سمویيل شاوول د پاچا په توګه ټاکي

۲۷ کله چې دوی د ښار پولې ته راښکته شول، سمویيل شاوول ته وویل: «خپل نوکر ته ووايه چې زمونږ
څخه مخکې لاړ شي.» نوکر مخکې شو او سمویيل زياته کړه: «دلته یوه شېبه ودرېږه، ترڅو د خدای پیغام
درته ووايم.»

۱۰ ۱ نو سمویيل د زيتونو د تېلو بوتل راواخيست او د شاوول په سر يې تېل توی کړل، هغه يې ښکل کړ
او وېې ويل: «ته څښتن د خپل قوم اسراييلو د مشر په توګه وټاکلې. ته به د هغه په خلکو پاچاهي کوې او د
ټولو ګردچاپېر دښمنانو نه به يې وژغورې. دا هغه نښه ده چې ته څښتن غوره کړی يې چې د هغه د خلکو
پاچا شې: ۲ نن کله چې ته لاړ شې نو د بنيامين په سيمه يعنې په صلصح کې به د راحيل د قبر تر څنګه
د دوه سړيو سره مخامخ شې. هغوی به تاته ووايي: هغه خرې چې ته د هغو د لټولو دپاره تللی وې پيدا شوې
دي، اوس ستا پلار د خرو خبره پرېښې ده او ستاسو دپاره اندېښنه کوي. هغه وايي: د خپل زوی په اړه څه
وکړم؟ ۳ بيا به له هغه ځای نه لاړ شې، ترڅو هغه غټې د څېړۍ ونې ته چې په تابور کې دی ورسېږې.
هلته به د درېو سړيو سره مخامخ شې چې خدای ته د عبادت کولو دپاره بيت ييل ته روان دي. د يو سره به
درې سېرلي، د بل سره درې ډوډۍ او د درېم سره به د شرابو ژی وي. ۴ هغوی به تاته سلام ووايي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاته به دوه ډوډۍ درکړي، ته باید هغه قبولې کړې. ۵ وروسته له هغې به په جبعه کې د خدای د
عبادت غونډۍ ته لاړ شې چې هلته د فلسطینیانو پوځي پوسته ده. د ښار په دروازه کې به ته د نبیانو له
یوې ډلې سره مخامخ شې چې د غونډۍ څخه راښکته کیږي. نبیان به په جذبه کې نبوت کوي او نور خلک
به د هغوی په وړاندې چنګ، چمبه، شپېلۍ او رباب غږوي. ۶ د څښتن روح به ناڅاپه په تا باندې نازل
شي او ته به په ګډه د نبیانو سره نبوت کوې. ته به هغه شان نه یې لکه څنګه چې مخکې وې. ۷ هرکله
چې دې دغه نښې ولیدلې هرڅه چې ته یې ښه ګڼې هغه وکړه، ځکه چې خدای ستا سره دی. ۸ زما
څخه مخکې جلجال ته لاړ شه. زه به درشم چې سوځېدونکې او د سلامتۍ نذرانې وړاندې کړم. خو ته باید
اووه ورځې هلته انتظار وباسې، ترڅو زه راشم او تاته ووایم چې څه وکړې.»

۹ څنګه چې شاوول د سموییل څخه رخصت شو، خدای د شاوول شخصیت بدل کړ. هغه ټولې نښې په
هماغه ورځ پوره شوې. ۱۰ کله چې شاوول او د هغه نوکر جبعې ته ورسېدل، شاوول د نبیانو د یوې ډلې
سره مخامخ شو. د خدای روح ناڅاپه په هغه باندې نازل شو او د هغوی سره یې یوځای په نبوت پیل وکړ.
۱۱ هغو خلکو چې هغه یې له پخوا څخه پېژانده ویې لیدل چې هغه نبوت کوي. یو د بل څخه یې پوښتنه
وکړه: «د قیس په زوی شاوول باندې څه وشول؟ ایا شاوول هم د نبیانو څخه دی؟» ۱۲ د هغه ځای یو
اوسېدونکي پوښتنه وکړه: «د دې نورو نبیانو په هکله څه وایئ، ستاسو په فکر د هغوی پلرونه څوک دي؟»
نو دا یو متل شو: «ایا شاوول هم د نبیانو څخه دی؟» ۱۳ وروسته له دې چې شاوول نبوت پای ته ورساوه
هغه د عبادت ځای ته وخوت.

۱۴ څه موده وروسته چې د شاوول کاکا هغه او د هغه نوکر ولیدل د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: «تاسو
چېرې وئ؟»

شاوول ځواب ورکړ: «خرې مو لټولې، خو چې کله هغه مو پیدا نه کړې، نو سموییل ته ورغلو.»

۱۵ د شاوول کاکا پوښتنه وکړه: «هغه تاسو ته څه وویل؟» ۱۶ شاوول ځواب ورکړ: «سموییل مونږ ډاډه
کړو چې خرې پیدا شوې دي.» خو شاوول هغه څه چې سموییل د ده د پاچا کېدو په اړه ویلي وو خپل کاکا
ته څه ونه ویل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شاوول د پاچا په توګه غوره کيږي

۱۷ سموييل د اسراييلو قوم په مصفې کې د څښتن حضور ته راغونډ کړ. ۱۸ او ورته ويې ويل: «د
اسراييلو څښتن خدای داسې وايي: ما تاسو د مصر څخه راوويستلئ او تاسو مې د مصريانو او هغو ټولو
قومونو څخه وژغورلئ چې په تاسو باندې يې ظلم کاوه. ۱۹ خو تاسو نن خپل خدای چې تاسو يې د ټولو
مصيبتونو او سختيو څخه ژغورلي يئ، ردوئ او ورته وايئ چې موږ ته پاچا راکړه چې په موږ باندې حکومت
وکړي. ډېر ښه، نو اوس د خپلو قبيلو او خپلونو سره د څښتن په مخکې حاضر شئ.»

۲۰ کله چې سموييل د اسراييلو ټولې قبيلې د څښتن حضور ته راټولې کړې، د بنيامين قبيله يې د پچې په
ذريعه غوره کړه. ۲۱ بيا هغه د بنيامين قبيله د هغې د خپلونو سره وړاندې راوستله او د مطري خپل
وټاکل شو. په پای کې د قيس زوی شاوول غوره کړای شو، خو کله چې هغوی شاوول ولټاوه هغه پيدا نه شو.
۲۲ هغوی د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ايا هغه سړی تر اوسه دلته راغلی دی؟»

څښتن وويل: «هو، هغه خپل ځان د بارونو په منځ کې پټ کړی دی.»

۲۳ نو دوی په منډه لاړل، هغه يې راوست او څنګه چې هغه د خلکو په منځ کې ودرېده، نو قد يې د يو
سر په اندازه د نورو څخه لوړ ؤ. ۲۴ سموييل ټول قوم ته وويل: «دا هغه سړی دی چې څښتن غوره کړی
دی، زموږ په منځ کې د هغه په شان هېڅوک نشته.»

خلکو چيغې کړې: «ژوندی دې وي پاچا!»

۲۵ سموييل قوم ته د پاچاهۍ حقونه او فرايض بيان کړل. هغه يې په سند کې وليکل او سند يې د عبادت
په ځای کې کېښود. وروسته يې هر يو خپل کور ته رخصت کړ. ۲۶ شاوول هم خپل کور ته چې په جبعه
کې ؤ لاړ او د هغه سره ځينې زړور سړي چې خدای د هغوی زړونه بدل کړي وو لاړل. ۲۷ خو ځينو بېکاره
خلکو وويل: «دغه سړی به څنګه موږ وژغوري؟» هغوی شاوول ته په سپکه سترګه وکتل او هغه ته يې
سوغاتونه رانه وړل، خو شاوول غلی پاتې شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شاوول د یابیش ښار ازادوي

۱۱ ۱ په دې وخت کې د عمون پاچا ناحاش روان شو او د یابیش ښار یې چې په جلعاد کې ؤ کلابند کړ.
د یابیش خلکو ناحاش ته ووېل: «زمونږ سره یو تړون وکړه، مونږ به تا د خپل مشر په توګه ومنو.»

۲ ناحاش په ځواب کې ووېل: «زه به ستاسو سره په یو شرط د سولې تړون وکړم، چې ستاسو د هر یو ښي
سترګه وباسم، ترڅو د ټولو اسراییلو دپاره د رسوایۍ سبب شي.»

۳ د یابیش سپین ږیرو ووېل: «مونږ ته اووه ورځې وخت راکړه چې مونږ ټولو اسراییلو ته استازي ولېږو.
که چېرې هېڅوک مونږ ونه ژغورلو، نو بیا به مونږ تاسو ته تسلیم شو.»

۴ کله چې استازي جبعې ته چې شاوول په کې اوسېده ورسېده، نو خلکو ته یې خبر ورکړ او هغوی په
لوړ اواز سره وژړل. ۵ په دغه وخت کې شاوول د خپلو غویانو شاته د پټي څخه راغی، هغه پوښتنه وکړه:
«څه پېښ شوي دي؟ دا خلک ولې ژاړي؟» نو هغوی د یابیش د استازو خبره ورته بیان کړه. ۶ کله چې
شاوول د هغوی خبرې واورېدلې، د خدای روح ناڅاپه په هغه باندې نازل شو او هغه ډېر زیات په قهر شو.
۷ هغه یوه جوړه غویان ووژل، هغه یې ټوټې، ټوټې کړل او د استازو په وسیله یې ټولو اسراییلو ته واستول
او اخطار یې ورکړ: «هر هغه څوک چې د شاوول او سموییل پسې جګړې ته لاړ نه شي، نو د هغوی د غویانو
سره به همداسې عمل وشي.»

په دې وخت کې په قوم باندې د څښتن وېره راغله او هغوی ټول سره یوځای راغلل. ۸ کله چې شاوول
هغوی په بازق کې سره راغونډ کړل، د اسراییلو د خلکو شمېر درې لکه او د یهودیانو شمېر دېرش زره تنه
وو. ۹ دوی هغو استازو ته چې د یابیش څخه راغلي وو ووېل: «خپلو خلکو ته ووایئ چې تاسو به سبا د
غرمې څخه مخکې وژغورل شئ.» کله چې د یابیش خلکو پیغام تر لاسه کړ، هغوی ډېر خوشحاله شول. ۱۰
نو عمونیانو ته یې ووېل: «سبا به مونږ تاسو ته تسلیم شو، څه چې ستاسو خوښه وي زمونږ سره یې وکړئ.»

۱۱ په هماغه شپه شاوول خپل خلک په درې ډلو باندې ووېشل، د سباوون په وخت کې یې د عمونیانو په
کمپ باندې حمله وکړه او د ورځې تر غرمې پورې یې هغوی ووژل. هغه عمونیان چې ژوندي پاتې شوي وو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې خواره واره شول، چې د هغوی دوه نفره هم سره یوځای پاتې نه شول.

۱۲ بیا د اسراییلو خلکو سموییل ته وویل: «هغه خلک څوک وو چې ویل یې چې شاوول باید زمونږ پاچا نه
شي؟ هغوی مونږ ته راوسپارئ چې ویې وژنو!»

۱۳ خو شاوول وویل: «نن به هېڅوک نه وژل کیږي، ځکه چې دا هغه ورځ ده چې څښتن اسراییل ژغورلي
دي.» ۱۴ نو سموییل خلکو ته وویل: «راشئ چې ټول جلجال ته لاړ شو او یوځل بیا شاوول د خپل پاچا په
توګه اعلان کړو.» ۱۵ بیا ټول قوم جلجال ته لاړ او د څښتن په حضور کې یې شاوول د خپل پاچا په توګه
اعلان کړ. په هغه ځای کې دوی څښتن ته د سولې نذرانې قرباني کړې او شاوول او د اسراییلو ټولو خلکو یو
لوی جشن ونیوه.

## د سموییل د خدای په امانۍ خبرې

۱۲ ۱ سموییل ټولو اسراییلو ته وویل: «هرڅه چې تاسو زما څخه وغوښتل ما هغه سرته ورسول او تاسو
ته مې یو پاچا وټاکه. ۲ تاسو اوس د خپل مشر په توګه یو پاچا لرئ. زه زوړ او سپین ږیری شوی یم او دا
دی زما زامن ستاسو سره دي. زه د خپلې ځوانۍ څخه تر نن ورځې پورې ستاسو مشر وم. ۳ زه حاضر
یم، که چېرې ما کوم غلط کار کړی وي ماته د څښتن او د هغه غوره شوي پاچا په مخکې دا حقیقت ووایئ.
ایا ما د چا څخه غویی یا خر اخیستی دی؟ ایا ما له چا سره ټګي کړې ده یا په چا باندې مې ظلم کړی دی؟
ایا ما د چا څخه رشوت اخیستی دی؟ که چېرې ما داسې کوم کار کړی وي، نو څه چې ما اخیستي وي هغه
به بېرته ورکړم.»

۴ قوم ځواب ورکړ: «نه! تا نه زمونږ سره ټګي کړې ده او نه دې په مونږ باندې ظلم کړی دی. د هېچا
څخه دې څه نه دي اخیستي.»

۵ سموییل ځواب ورکړ: «څښتن او د هغه غوره شوی پاچا نن شاهدان دي چې تاسو خلک پوه شوئ چې
زه په پوره توګه بې ګناه یم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ځواب ورکړ: «هو، څښتن زموږ شاهد دی.»

۶ سموییل زیاته کړه: «دا څښتن ؤ چې موسی او هارون یې وټاکل او ستاسو نیکونه یې له مصر څخه
راوویستل. ۷ اوس په خپل ځای باندې ودرېږئ. زه غواړم چې تاسو د خدای په وړاندې د شواهدو سره
حاضر کړم او تاسو ته هغه ښېګڼې در په یاد کړم چې خدای ستاسو او ستاسو د نیکونو د ژغورلو دپاره کړې
دي. ۸ کله چې یعقوب او د هغه کورنۍ مصر ته لاړل او مصریانو په هغو باندې ظلم کاوه، ستاسو نیکونو
د مرستې دپاره څښتن ته فریاد وکړ. نو هغه موسی او هارون ورواستول او ستاسو نیکونه یې له مصر څخه
راوویستل او هغوی یې په دې خاوره کې ځای په ځای کړل. ۹ خو خلکو خپل څښتن خدای هېر کړ. نو
هغه دوی فلسطینیانو، د موآب پاچا او د حاصور د ښار د لښکر قوماندان سیسرا ته په لاس ورکړل او هغوی
ورسره جنګ وکړ. ۱۰ نو هغوی د مرستې دپاره څښتن ته فریاد وکړ او ویې ویل: موږ ګناه کړې ده ځکه
چې ای څښتنه، ستا څخه موږ مخ اړولی دی او د بعل او عشتاروت د بتانو عبادت مو کړی دی. موږ د
خپلو دښمنانو څخه وژغوره نو موږ به ستا عبادت وکړو! ۱۱ بیا څښتن جدعون، باراق، یفتاح او په اخره
کې یې زه راواستولم. تاسو یې د خپلو شاوخوا دښمنانو له لاسه وژغورلئ، ترڅو په امن کې واوسېږئ. ۱۲
خو کله چې تاسو ولیدل چې د عمون پاچا ناحاش په تاسو باندې حمله کوي، تاسو ماته وویل: موږ پاچا
غواړو چې په موږ باندې حکومت وکړي. که څه هم څښتن ستاسو پاچا ؤ خو هغه مو رد کړ.

۱۳ اوس دا دی هغه پاچا چې تاسو غوره کړی دی او غوښتی مو دی. وګورئ، څښتن تاسو ته پاچا ټاکلی
دی ترڅو په تاسو باندې حکومت وکړي. ۱۴ که چېرې د خپل څښتن خدای درناوی وکړئ، د هغه
خدمت وکړئ، هغه ته غوږ ونیسئ او د هغه حکمونو ته غاړه کېږدئ او که چېرې تاسو او ستاسو پاچا د هغه
پیروي وکړئ، نو ستاسو هرڅه به ښه وي. ۱۵ خو که تاسو څښتن ته غوږ ونه نیسئ او د هغه د حکمونو
څخه سرغړونه وکړئ هغه به ستاسو او ستاسو د پاچا په ضد شي. ۱۶ نو اوس په خپل ځای باندې
ودرېږئ. تاسو به د څښتن هغه لوی کار ووینئ چې ستاسو په مخکې به یې وکړي. ۱۷ تاسو پوهېږئ چې
د دې موسم په دوران کې چې د غنمو د لو وخت دی باران نه ورېږي. زه به دعا وکړم چې څښتن تندر او
باران راولېږي. څه وخت چې داسې وشي تاسو به پوه شئ چې د پاچا په غوښتلو سره مو د څښتن په وړاندې
لویه ګناه کړې ده.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ بیا سموییل دعا وکړه او په هماغه ورځ څښتن تندر او باران راولېږه. نو ټول قوم د څښتن او سموییل
څخه ډېرووېرېد ۱۹ او هغوی سموییل ته وویل: «ښاغلیه! مهرباني وکړه زمونږ په خاطر خپل څښتن
خدای ته دعا وکړه چې مونږ مړه نه شو. اوس مونږ پوه شو چې مونږ په خپلو نورو ټولو ګناهونو برسېره د
پاچا په غوښتلو سره بله ګناه هم وکړه.»

۲۰ سموییل ځواب ورکړ: «مه وېرېږئ. که څه هم تاسو ډېر بد کار کړی دی، خو د څښتن څخه مخ مه
اړوئ، بلکې د زړه له کومي د هغه خدمت وکړئ. ۲۱ په خوشې بتانو پسې مه ګرځئ هغه تاسو ته ګټه نه
رسوي او تاسو ژغورلی نه شي، ځکه چې هغه بې فایدې دي. ۲۲ څښتن به د خپل لوی نوم په خاطر خپل
قوم پرېنږدي، ځکه چې د هغه رضا وه چې ستاسو څخه خپل ځانګړی قوم جوړ کړي. ۲۳ باقي پاتې شوه
زما خبره، څښتن دې داسې ونه کړي چې زه د هغه په وړاندې ګناه وکړم او ستاسو دپاره نوره دعا ونه کړم
بلکې زه به تاسو ته سمه او ښه لاره دروښایم. ۲۴ یوازې د څښتن څخه ووېرېږئ او په وفادارۍ سره د زړه
له کومي د هغه خدمت وکړئ. د هغو لویو کارونو په اړه فکر وکړئ چې ستاسو دپاره یې کړي دي. ۲۵ خو
که چېرې تاسو خپلو بدو کارونو ته دوام ورکړئ تاسو به د خپل پاچا سره له منځه لاړ شئ.»

## سموییل شاوول ملامتوي

۱۳ ۱ شاوول دېرش کلن ؤ چې پاچا شو او دوه څلوېښت کاله یې په اسراییلو پاچاهي وکړه.

۲ شاوول د اسراییلو څخه درې زره نفره غوره کړل چې دوه زره نفره د هغه سره په مخماس او د
بیت ییل په غرنۍ سیمه کې وو او زر نفره د هغه د زوی یوناتان سره په جبعه کې وو چې د بنیامین په
سیمه کې ده. پاتې کس یې بېرته خپلو کورونو ته ولېږل.

۳ یوناتان په جبع کې د فلسطینیانو په پوسته باندې حمله وکړه او له منځه یې یووړه. فلسطینیانو دا
خبره واورېدله. بیا شاوول استازي ولېږل چې په ټول هېواد کې د سرني په غږولو سره عبرانیان جنګ ته
راوغواړي. ۴ ټول اسراییلیان خبر شول چې شاوول د فلسطینیانو پوسته له منځه یووړه او فلسطینیانو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراييلو ښخه کرکه وکړه. په دې خاطر د اسراييلو قوم راوغوښتل شو چې په جلجال کې د شاوول سره
يوځاى شي. ۵ فلسطينيان سره راغونډ شول چې د اسراييلو سره جنګ وکړي. د هغوى سره درېرش زره
جنګي ګاډي، شپږ زره د اس سپاره او د بحيرې د شګو په شان زيات پياده عسکر وو. هغوى روان شول او په
مخماس کې يې چې د بيت آون په ختيځ کې پروت دى خېمې ودرولې. ۶ د اسراييلو عسکر پوه شول
چې زمونږ شمېر ډېر کم دى او په دې خاطر به جنګ وبايلو. ځينې اسراييليان په سمڅو، ونو بوټو، د ګټونو
په منځ کې، په کندو او يا په څاه ګانو کې پټ شول. ۷ نور د اردن د سيند څخه د جاد او جلعاد سيمو
ته پورې وتل.

شاوول په جلجال کې پاتې ؤ او هغه خلک چې د هغه سره وو، له وېرې څخه لړزېدل. ۸ شاوول اووه
ورځې د سموييل انتظار وکړ، لکه څنګه چې سموييل ورته ويلي وو. خو سموييل جلجال ته رانغى او خلک د
شاوول څخه هرې خواته خپاره کېدل. ۹ په دې خاطر شاوول وويل: «سوځېدونکې نذرانه او د سولې
نذرانې راته راوړئ» او شاوول سوځېدونکې نذرانه وړاندې کړه. ۱۰ څنګه چې هغه د سوځېدونکې نذرانې
د وړاندې کولو څخه وزګار شو، سموييل راورسېد او شاوول د هغه د هرکلي دپاره لاړ. ۱۱ سموييل پوښتنه
وکړه: «څه دې وکړل؟»

شاوول په ځواب کې وويل: «خلک زما نه خپاره کېدل او ته په ټاکلي وخت رانغلې. برسېره پر دې،
فلسطينيان په مخماس کې سره راغونډېدل. ۱۲ نو ځکه ما فکر وکړ چې اوس به فلسطينيان دلته په
جلجال کې په ما حمله وکړي. څنګه چې ما د ښتن څخه مرسته ونه غوښتله، نو ما خپل ځان مجبور وګاڼه
چې سوځېدونکې نذرانه وړاندې کړم.»

۱۳ سموييل ځواب ورکړ: «تا کم عقل کار کړى دى او د خپل ښتن خداى امر دې په ځاى کړى نه دى.
هغه غوښتل چې ته او ستا اولاده د تل دپاره پاچاهي وکړي. ۱۴ خو اوس به ستا پاچاهي دوام ونه کړي. په
دې خاطر چې تا د هغه د حکم څخه سرغړونه کړې ده، ښتن د خپلې خوښې يو سړى پيدا کړى دى چې د
هغه په قوم باندې پاچا شي.»

۱۵ سموييل جلجال پرېښود او په خپله لاره لاړ. شاوول لاړ چې د خپلو عسکرو سره يوځاى شي نو پاتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک په هغه پسې لاړل. هغوی د جلجال څخه جبعې ته چې د بنیامین په سیمه کې ده لاړل. شاوول خپل لښکر وشماره، د هغو شمېر شپږ سوه تنه وو.

## بې وسلې اسراییل

۱۶ شاوول، د هغه زوی یوناتان او هغه خلک چې د دوی سره وو په جبع کې چې د بنیامین په سیمه کې
ده پاتې شول. په دې وخت کې فلسطینیانو په مخماس کې خېمې ودرولې وې. ۱۷ یرغل کوونکي د
فلسطینیانو د خېمو څخه په درېو ډلو کې راووتل، یوه ډله د عفرې خواته چې د شوعال په سیمه کې ده
لاړه. ۱۸ دوهمه ډله د بیت حورون خواته او درېمه ډله د هغې غونډېو سلسلې ته لاړه چې ورڅخه د
صبوییم دره او دښته ښکاره کیږي.

۱۹ په هغو ورځو کې په اسراییلو کې اهنگر نه ؤ، ځکه چې فلسطینیانو دا پرېکړه کړې وه چې عبرانیان د
تورو او نېزو د جوړولو څخه منع کړي. ۲۰ (ټول اسراییلیان به فلسطیني اهنګرانو ته تلل چې خپلې یوې،
تبرونه او لور تېره کړي. ۲۱ د ښاخې، تبر او د چوکې د څوکې د تېره کولو اجوره د یو مثقال دوه په درېو
برخه وه او د یوې او لور د تېره کولو اجوره دوه چنده وه.)

۲۲ په دې خاطر د جنګ په ورځ پرته د شاوول او د هغه زوی یوناتان څخه هېڅ اسراییلي عسکر توره یا
نېزه نه درلودله.

۲۳ فلسطینیانو د خپلو عسکرو یوه ډله واستوله چې د مخماس د غاښې څخه دفاع وکړي.

## یوناتان په فلسطینیانو باندې حمله کوي

۱۴ ۱ یوه ورځ یوناتان هغه ځوان عسکر ته چې د هغه وسلې یې انتقالولې وویل: «راځه چې د
فلسطینیانو پوستې ته چې هغه بلې غاړې ته پرته ده ورشو.» خو خپل پلار شاوول یې خبر نه کړ. ۲
شاوول په مجرون کې د انار د ونې لاندې چې د جبعې څخه دومره لیرې نه وه خېمه درولې وه. نژدې شپږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوه نفره د هغه سره وو. ۳ (د هغوی په منځ کې اخيا کاهن هم ؤ، چې سپېڅلی پېشبند يې اغوستی ؤ.
هغه د ايخابود د ورور اخيطوب زوی ؤ. اخيطوب د فينحاس زوی او د عيلي لمسی ؤ، هغه عيلي چې په
شيلوه کې د څښتن کاهن ؤ.) خلک خبر نه وو چې يوناتان تللی دی.

۴ د غاښي په هره خوا باندې چې يوناتان غوښتل د هغې لارې څخه د فلسطينيانو پوستې ته ور تېر شي
دوه لوړ او ښويه ګټونه وو چې يو يې د بوصيص او بل يې د سنه په نوم يادېده. ۵ يو د غاښي شمال
خواته ؤ چې مخماس ته نژدې ؤ او بل يې د جنوب خواته ؤ چې جبع ته نژدې ؤ.

۶ يوناتان هغه ځوان عسکر ته چې د هغه وسلې يې انتقالولې وويل: «راځه چې د دغو کافرو فلسطينيانو
کمپ ته ورواوړو، کېدای شي چې څښتن زمونږ سره مرسته وکړي. که چېرې څښتن داسې وکړي، هېڅ شی
د هغه مخه نه شي نيولی چې مونږ ته برى راکړي، پروا نه لري چې زمونږ شمېر څومره لږ وي.»

۷ د هغه وسله وړونکي وويل: «هرڅه چې غواړې هغه وکړه. مخکې شه، زه د زړه له کومي ستا سره يم.»
۸ يوناتان وويل: «واوره! مونږ به د دې خلکو خواته ورشو او ځان به هغوی ته وروښايو. ۹ که چېرې
دوی مونږ ته ووايي: ودرېږئ ترڅو مونږ درشو، نو مونږ به په خپل ځای باندې ودرېږو او هغوی ته به نه
ورځو. ۱۰ خو که چېرې دوی ووايي چې پورته زمونږ خواته راشئ نو مونږ به وروخېژو. ځکه چې دا به
زمونږ دپاره يوه نښه وي چې څښتن هغوی مونږ ته راتسليم کړي دي.»

۱۱ نو دوی دواړو خپل ځانونه د فلسطينيانو پوستې ته ورښکاره کړل. فلسطينيانو وويل: «وګورئ! ځينې
عبرانيان د هغو سوريو څخه راوځي په کومو کې چې پټ شوي وو.» ۱۲ بيا هغوی يوناتان او هغه ځوان ته
نارې کړې او وې ويل: «دلته راوخېژئ! مونږ به تاسې ته څه دروښايو!»

يوناتان هغه ځوان ته چې وسلې يې وړلې وويل: «ما پسې راځه، فلسطينيان څښتن اسراييلو ته په لاس ورکړي
دي.» ۱۳ يوناتان په خاپوړو باندې د غاښي څخه وروخوت او د ده وسله وړونکی ورپسې ؤ. يوناتان په
فلسطينيانو باندې حمله وکړه او د هغه وسله وړونکي هغوی ووژل. ۱۴ په دې اولنۍ حمله کې يوناتان او
د هغه وسله وړونکي شل نفره په نژدې يو جريب ځمکه کې ووژل. ۱۵ نو په ټول لښکر کې چې په کمپ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میدان، پوستو او یا د حمله کوونکو په منځ کې وو وېره راپیدا شوه او ځمکه ولړزېدله. هلته یوه لویه
وارخطايي وه.

## اسراییلیان فلسطینیانو ته ماتې ورکوي

۱۶ د شاوول پهره دارانو چې د بنیامین د سیمې په جبعه کې وو ولیدل چې فلسطینیان خپاره شول او اخوا
او دې خوا یې منډې وهلې. ۱۷ نو شاوول خپلو نفرو ته وویل: «ځواکونه راغونډ کړئ او وګورئ چې څوک
غیرحاضر دي.» کله چې هغوی دا کار وکړ، نو یوناتان او د هغه وسلې وړونکی ځوان عسکر حاضر نه وو.

۱۸ شاوول اخیا ته وویل: «د خدای د لوظ صندوق راوړه.» (په هغه وخت کې هغه صندوق د اسراییلو
سره ؤ.) ۱۹ په داسې حال کې چې شاوول د کاهن سره خبرې کولې د فلسطینیانو په کمپ کې ګډوډي
مخ په زیاتېدو شوه، نو شاوول هغه ته وویل: «اوس صبر وکړه!» ۲۰ هغه وخت شاوول او د هغه ټول خلک
سره راغونډ شول او د فلسطینیانو په ضد د جګړې دپاره روان شول. هغوی ولیدل چې فلسطینیان په
وارخطايۍ سره یو بل وژني. ۲۱ یو شمېر عبرانیان چې مخکې د فلسطینیانو سره وو او د هغوی سره کمپ
ته تللي وو هم بېرته راستانه شول او د شاوول او یوناتان سره یوځای شول. ۲۲ نورو چې خپل ځانونه یې د
افرایم په غونډیو کې پټ کړي وو، واورېدل چې فلسطینیان د تېښتې په حال کې دي، نو هغوی هم په
تعقیبولو کې یوځای شول. ۲۳ نو جنګ د بیت آون پورې خواته ورسېده. په هغه ورځ څښتن اسراییل
وژغورل.

## یوناتان شات خوري

۲۴ په هغه ورځ اسراییلیان په مصیبت کې ؤ، ځکه چې شاوول قوم ته قسم ورکړ، ویې ویل: «د ماښام د
رارسېدو پورې زه غواړم چې د فلسطینیانو څخه بدل واخلم. نو لعنت دې وي په هغه چا چې د هغې نه
مخکې ډوډۍ خوري.» نو هېچا ډوډۍ ونه خوړله. ۲۵ ټول عسکر ځنګلي سیمې ته راورسېدل او ویې
لیدل چې په ځمکه باندې شات پراته دي. ۲۶ کله چې هغوی ځنګل ته ننوتل، ویې لیدل چې شات
څڅېږي خو هېچا لاس خپلې خولې ته ورنه وړ، ځکه چې هغوی ټول د شاوول له لعنت څخه وېرېدل. ۲۷

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو یوناتان اورېدلي نه وو چې د هغه پلار خلکو ته قسم ورکړی ؤ، نو د خپلې امسا څوکه یې چې د ده په لاس
کې وه اوږده کړه او د شاتو په ګبین کې یې غوټه کړه. هغه لږ څه شات وخوړل او په سترګو یې رڼایي شوه.
٢٨ د عسکرو څخه یو تن هغه ته وویل: «ستا پلار لښکرو ته سخت قسم ورکړ ویې ویل: لعنت دې وي په
هغه چا چې نن ورځ ډوډۍ وخوري! په دې خاطر خلک کمزوري شوي دي.»

٢٩ یوناتان ځواب ورکړ: «زما پلار زمونږ قوم ته څومره ناحقه زحمت ورکړی دی! وګورئ زه خپل ځان
څومره ښه احساسوم، ځکه چې ما یو څه شات وخوړل! ٣٠ څومره به ښه وای، که چېرې نن ورځ هغه څه
چې خلکو د دښمنانو څخه لوټ کړي دي خوړلي وای. فکر وکړئ چې څومره نور فلسطینیان به هغوی وژلي
وای!»

٣١ په هغه ورځ اسراییلو د مخماس څخه تر ایالون پورې فلسطینیان ووژل او هغوی ډېر ستړي شول. ٣٢
هغوی د غنیمت په مال باندې حمله وکړه. پسونه، غویان او خوسي چې یې نیول، په هماغه ځای باندې یې
حلالول او هغه یې د وینو سره خوړل. ٣٣ چا شاوول ته خبر ورکړ: «ګورئ! خلک د څښتن په وړاندې ګناه
کوي، ځکه چې هغوی غوښه د وینو سره خوري.»

هغه ځواب ورکړ: «تاسو خیانت وکړ. یوه غټه تیږه په دې ځای کې زما خواته راورغړوئ.» ٣٤ په دې
وخت کې هغه وویل: «ورشئ خلکو ته ووایئ: هر یو دې دلته خپل پسه او غوییی راولي، حلال دې کړي او
ودې خوري. د څښتن په وړاندې ګناه مه کوئ او غوښه د وینې سره مه خورئ.» نو په هغه شپه هر یو خپل
څاروی راووست او هلته یې حلال کړ. ٣٥ شاوول د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ، دا اول ځل ؤ چې
هغه دا کار وکړ.

٣٦ شاوول خپلو خلکو ته وویل: «راځئ چې ښکته شو، د شپې له خوا په فلسطینیانو باندې حمله وکړو، د
سهار تر رڼایۍ پورې هغوی لوټ کړو او هېڅوک هم ژوندی پرېنږدو.»

هغوی ځواب ورکړ: «څه چې تاته تر ټولو ښه ښکاري هماغه وکړه.»

خو کاهن وویل: «راشئ چې اول د خدای سره مشوره وکړو.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۷ نو شاوول د خدای څخه پوښتنه وکړه: «ایا زه په فلسطینیانو باندې حمله وکړم؟ ایا مونږ به په هغوی
باندې بریالي کړې؟» خو په هغه ورځ خدای ځواب ورنه کړ. ۳۸ له دې کبله شاوول د قوم مشرانو ته
وویل: «دلته راشئ او معلومه کړئ چې نن څه ګناه شوې ده. ۳۹ زه د ژوندي څښتن په نوم چې اسراییل
ژغوري قسم خورم چې ګناهکار به ووژلی شي که هغه زما زوی یوناتان هم وي.» خو هېچا څه ونه ویل. ۴۰
بیا شاوول هغوی ته وویل: «تاسو ټول هلته ودرېږئ او یوناتان او زه به دلته ودرېږو.»

هغوی ځواب ورکړ: «څه چې تاته تر ټولو ښه ښکاري هماغه وکړه.»

۴۱ شاوول د اسراییلو څښتن خدای ته دعا وکړه وویل: «ای څښتنه، ولې دې نن ماته ځواب رانه کړ؟ ای
د اسراییلو څښتن خدایه، ماته د سپېڅلو تیږو په وسیله ځواب راکړه. که چېرې ګناه د یوناتان یا زما وي د
اوریم په وسیله ځواب راکړه، خو که ګناه ستا په قوم اسراییلو کې وي د تمیم په وسیله ځواب راکړه.» په
ځواب کې یوناتان او شاوول ته اشاره وشوه او قوم بې ګناه ؤ. ۴۲ نو شاوول وویل: «زما او زما د زوی
یوناتان ترمنځ پچه واچوئ.» پچه د یوناتان په نامه وختله. ۴۳ بیا شاوول یوناتان ته وویل: «ماته ووایه چې
څه دې کړي دي.»

نو یوناتان هغه ته ځواب ورکړ: «د خپلې امسا په څوکه مې یوازې لږ څه شات وڅښل. که زما دا کار ګناه
وي، زه مرګ ته تیار یم.»

۴۴ شاوول هغه ته وویل: «خدای دې ما ووژني، که چېرې ته ونه وژل شې.»

۴۵ خو خلکو شاوول ته وویل: «ایا یوناتان چې د اسراییلو دپاره یې دا لوی بری ګټلی دی باید ووژل شي؟
دا ناممکنه ده چې هغه ووژل شي! مونږ د ژوندي څښتن په نوم قسم خورو چې د هغه د سر یو ویښته به هم
کم نه شي. ځکه چې نن ورځ هغه دا کار د خدای په مرسته کړی دی.» نو قوم یوناتان د مرګ څخه خلاص
کړ. ۴۶ له هغې وروسته شاوول د فلسطینیانو تعقیبول بس کړل او فلسطینیان بېرته خپلې سیمې ته لاړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شاوول پاچاهي او کورنۍ

۴۷ وروسته له دې چې شاوول د اسراییلو پاچاهي ټینګه کړه، هغه د خپل شاوخوا دښمنانو یعنې د
موآبیانو، عمونیانو، ادومیانو، فلسطینیانو او د صوبه د پاچاهانو سره جنګ وکړ. په هرځای کې یې چې جنګ
کاوه هغه به بریالی ؤ. ۴۸ هغه په مېړانه جنګ کاوه او عمالیقیانو ته یې ماتې ورکړه او اسراییلیان یې د
هغو خلکو د لاسونو څخه ازاد کړل چې هغوی لوټ کړي وو.

۴۹ د شاوول زامن یوناتان، یشوي او ملکیشوع وو. د هغه د مشرې لور نوم میراب او د کشرې نوم یې
میکال ؤ. ۵۰ د شاوول د ښځې نوم اخینوعم ؤ چې د اخیمعص لور وه. د شاوول د لښکرو د قوماندان نوم
ابنیر ؤ چې د نیر زوی ؤ. نیر د شاوول تره ؤ. ۵۱ د شاوول پلار قیس او د ابنیر پلار نیر د ابي ییل زامن
وو.

۵۲ تر هغې پورې چې شاوول ژوندی ؤ هغه د فلسطینیانو په ضد سخته جګړه کوله. نو کله به چې هغه یو
قوي یا زړور سړی ولیده هغه به یې د خپلو لښکرو په لست کې نیوه.

## د عمالیقیانو سره جګړه

۱۵ ۱ سموییل شاوول ته وویل: «زه څښتن راولېږلم چې تا غوره کړم چې د هغه په قوم اسراییلو باندې
پاچا شې. نو اوس د څښتن پیغام ته غوږ ونیسه. ۲ مطلق قادر څښتن داسې وایي: زه به عمالیقیانو ته د
هغه کار سزا ورکړم چې دوی پخوا د اسراییلو سره کړی ؤ. ځکه په هغه وخت کې چې اسراییلیان د مصر
څخه راوتل د هغوی لاره یې نیولې وه. ۳ اوس لاړ شه په عمالیقیانو باندې حمله وکړه او هرڅه چې د
دوی سره دي هغه ټول په پوره توګه له منځه یوسه، په هغوی باندې زړه ونه سوځوې. یو شی هم ژوندی مه
پرېږده. سړي، ښځې، ماشومان او تي رودونکي ماشومان، غویان، پسونه، اوښان او خره یې ووژنه.»

۴ شاوول خپل ځواکونه سره راغونډ کړل او په طلایم کې یې د هغوی څخه لیدنه وکړه. په هغو کې د
اسراییلو څخه دوه لکه او د یهودا څخه لس زره پیاده عسکر وو. ۵ بیا هغه د خپلو عسکرو سره د عمالیق

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار ته ورغی او په یو وچ خوړ کې یې کمین ونیوه. ۶ بیا شاوول قینیانو ته اخطار ورکړ: «د عمالیقیانو
څخه لېرې شئ، ترڅو تاسو د هغوی سره یوځای تباه نه کړم. ځکه کله چې اسراییلیان له مصر څخه راوتل
تاسو په هغوی باندې مهرباني او ښه سلوک کاوه.» نو قینیان له عمالیقیانو څخه لېرې شول.

۷ شاوول د حویله څخه تر شور پورې چې د مصر په ختیځ کې دی جنګ وکړ او عمالیقیانو ته یې ماتې
ورکړه. ۸ هغه د عمالیق پاچا اجاج ژوندی ونیوه او ټول خلک یې ووژل. ۹ خو شاوول او د هغه نفرو د
اجاج ژوند وژغوره. هغوی ښه پسونه، غویان، ښه خوسي، وري یا نور هغه څه چې ښه وو هغه یې ونه وژل.
دوی یوازې هغه څاروي ووژل چې کمزوري یا بې ارزښته وو.

## څښتن شاوول ردوي

۱۰ څښتن سموییل ته داسې وویل: ۱۱ «زه پښېمان یم چې شاوول مې پاچا کړ. هغه زما څخه ګرځېدلی
دی او زما د حکمونو څخه یې سرغړونه وکړه.» سموییل په قهر شو او ټوله شپه یې څښتن ته زاري وکړه.
۱۲ سموییل سهار وختي راپاڅېد او لاړ چې د شاوول سره ملاقات وکړي. خو هغه خبر شو چې شاوول د
کرمل ښار ته تللی دی، د خپل ځان د عزت په خاطر یې یو یادګاري برج جوړ کړی دی او جلجال ته تللی
دی. ۱۳ کله چې سموییل شاوول پیدا کړ، شاوول هغه ته وویل: «ای سموییله! څښتن دې تاته برکت
درکړي. وګوره، ما د څښتن حکم سرته ورساوه.»

۱۴ سموییل پوښتنه وکړه: «نو بیا ولې زه د غویانو او پسونو رمبارې اورم؟»

۱۵ شاوول ځواب ورکړ: «زما عسکرو دا د عمالیقیانو څخه راوستلي دي، هغوی ډېر ښه پسونه او غویان
ساتلي دي چې ستا د څښتن خدای دپاره یې قرباني کړي. پاتې مویه پوره توګه له منځه وړي دي.»

۱۶ سموییل شاوول ته وویل: «غلی شه! غوږ ونیسه، ترڅو د څښتن خبره چې تېره شپه یې ماته کړې وه
درته ووایم.»

شاوول ځواب ورکړ: «ووایه.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ سموييل وويل: «که څه هم ته خپل ځان لوی نه ګڼې، ته د اسراييلو د قبيلو مشر يې. څښتن ته غوره
کړې چې د اسراييلو پاچا شې ۱۸ او ته يې د يوې وظيفې دپاره ولېږلې ويې ويل: دا ګناهکاره قوم
عماليقيان په پوره توګه له منځه يوسه، د هغوی سره جنګ وکړه تر هغې پورې چې دوی ټول ووژل شي. ۱۹
نو بيا ولې تا د څښتن خبره ونه منله؟ ولې دې په غنيمت باندې حمله وکړه؟ ولې هغه څه چې د څښتن په
نظر کې بد وو هغه دې وکړل؟»

۲۰ شاوول وويل: «خو ما د څښتن خبره منلې ده، زه په هغې وظيفې باندې لاړم چې څښتن ماته راسپارلې
وه. ما عماليقيان په پوره توګه له منځه يووړل او د هغوی پاچا اجاج مې راوست. ۲۱ عسکرو د غنيمت
څخه پسونه او غويان واخيستل، يعنې تر ټولو ښه حيوانات چې خدای ته وقف شوي وو، ترڅو هغه په جلجال
کې ستا څښتن خدای ته قرباني کړي.»

۲۲ سموييل وويل: «ايا څښتن په سوځېدونکو نذرانو او قربانيو باندې خوشحالېږي لکه څنګه چې د
اطاعت په کولو باندې؟ ګوره! هغه ته اطاعت کول د قربانۍ څخه ښه دي او د هغه په خبره عمل کول د
پسونو د وازګې د قربانۍ څخه ښه دي. ۲۳ ځکه د هغه په وړاندې ياغي توب لکه د فال کتلو په شان بد
عمل دی او غرور د بت پرستۍ په شان يوه ګناه ده. په دې سبب چې تا د څښتن حکم رد کړی دی، نو ته
يې د پاچا په توګه رد کړی يې.»

۲۴ شاوول ځواب ورکړ: «هو، ما ګناه کړې ده. ما د څښتن د حکم او ستا د لارښودنې څخه سرغړونه
کړې ده. زه د خپلو نفرو څخه ووېرېدم او څه چې هغوی غوښتل ما هماغسې وکړل. ۲۵ خو اوس تاته
سوال کوم چې زما ګناه وبخښه او زما سره بېرته لاړ شه، ترڅو د څښتن عبادت وکړم.»

۲۶ سموييل ځواب ورکړ: «زه ستا سره بېرته نه ځم. تا د څښتن حکم نه دی منلی او هغه ته د اسراييلو د
پاچاهۍ څخه رد کړی يې.»

۲۷ څنګه چې سموييل وګرځېده چې لاړ شي، شاوول د هغه د چپنې څنډه ونيوله او هغه څيرې شوه. ۲۸
سموييل هغه ته وويل: «نن ورځ څښتن ستا څخه د اسراييلو پاچاهي واخيستله او هغه يې بل چاته ورکړه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د ستا څخه ښه دی. ۲۹ د اسراییلو خدای چې لوی او ابدي دی هغه دروغ نه وايي یا خپله اراده نه
بدلوي. هغه انسان نه دی چې خپله اراده بدله کړي.»

۳۰ شاوول بیا زاري کوله ویل یې: «سمه ده، ما ګناه کړې ده. خو زما د قوم د سپین ږیرو او اسراییلیانو په
مخکې زما عزت وکړه، بېرته زما سره لاړ شه چې ستا د څښتن خدای عبادت وکړم.» ۳۱ نو سموییل بېرته
د شاوول سره لاړ او شاوول د څښتن عبادت وکړ.

۳۲ سموییل وویل: «د عمالیقیانو پاچا اجاج ماته راولئ.» اجاج په ډاډه زړه هغه ته ورغی، فکر یې کاوه
چې په یقین سره د مرګ خطر تېر شوی دی. ۳۳ خو سموییل وویل: «لکه څنګه چې ستا تورې ډېرې
ښځې بې اولاده کړې دي نو همدارنګه ستا مور به هم بې اولاده شي.» او سموییل اجاج په جلجال کې د
څښتن په مخکې ټوټې ټوټې کړ.

۳۴ بیا سموییل رامې ته لاړ او شاوول خپل کور ته چې په جبعه کې ؤ ورستون شو. ۳۵ تر هغې پورې چې
سموییل ژوندی ؤ هغه بیا هېڅکله شاوول ونه لیده. خو سموییل د شاوول دپاره ویر کاوه. څښتن په دې
باندې پښېمانه شو چې شاوول یې په اسراییلو باندې پاچا کړی ؤ.

## سموییل داود د پاچا په توګه غوره کوي

١٦ ۱ یوه ورځ څښتن سموییل ته وویل: «ترڅو پورې به ته د شاوول دپاره ویر کوې؟ هغه مې په
اسراییلو باندې د پاچا په توګه رد کړی دی. یو ښکر راواخله، د زیتون د تېلو څخه یې ډک کړه او په
بیت لحم کې د یسي کور ته ورشه، ځکه چې د هغه د زامنو څخه مې یو تن غوره کړی دی چې پاچا شي.»

۲ خو سموییل پوښتنه وکړه: «زه څنګه لاړ شم؟ که شاوول په دې هکله څه واوري ما به ووژني.»

څښتن ځواب ورکړ: «یوه خوسۍ درسره واخله او ووایه: زه د دې دپاره راغلی یم چې د څښتن دپاره قرباني
وړاندې کړم. ۳ یسي ته بلنه ورکړه چې قربانۍ ته راشي، زه به دروښایم چې څه باید وکړې. هغه څوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زه یې درته ښایم زما دپاره به یې سر په تېلو غوړ کړې.»

۴ هغه څه چې څښتن سموييل ته ويلي وو هغه هماغسې وکړل. کله چې هغه بيت لحم ته ورسېده، د
ښار سپين ږيري د وېرې او لړزې سره د هغه ملاقات ته راغلل. هغوی پوښتنه وکړه: «خيريت خو دی؟ په
څه خاطر راغلی يې؟»

۵ هغه ځواب ورکړ: «هو، زه راغلی يم چې څښتن ته قرباني وړاندې کړم، خپل ځانونه پاک کړئ او زما
سره راشئ.» هغه د پاکوالی د مراسمو په سرته رسولو کې د يسي او د هغه د زامنو سره مرسته وکړه او
هغوی ته يې هم په قربانۍ کې بلنه ورکړه.

۶ کله چې دوی راغلل، سموييل د يسي زوی الياب وليد او د خپل ځان سره يې وويل: «هغه سړی چې
دلته د څښتن په حضور کې ولاړ دی په يقين سره دا هماغه دی چې هغه غوره کړی دی.» ۷ خو څښتن
هغه ته وويل: «د هغه ښکلا او لوړ قد ته مه ګوره، ما هغه رد کړی دی، ځکه چې زه د انسان په شان قضاوت
نه کوم. هغوی ظاهر ته ګوري خو زه زړه ته ګورم.»

۸ بيا يسي خپل زوی ابيناداب راوغوښت چې د سموييل په مخکې تېر شي. خو سموييل وويل: «نه،
څښتن دا هم نه دی غوره کړی.» ۹ يسي بيا شمه راوغوښت چې د سموييل په مخکې تېر شي، خو هغه
وويل: «څښتن دا هم نه دی غوره کړی.» ۱۰ په دې ډول د يسي اووه زامن د سموييل په مخکې تېر شول،
خو سموييل هغه ته وويل: «څښتن د دوی څخه يو هم نه دی غوره کړی.» ۱۱ بيا سموييل د يسي څخه
پوښتنه وکړه: «ايا نور زامن لرې؟»

يسي ځواب ورکړ: «کشر لا تر اوسه پاتې دی، خو هغه پسونه څروي.»

سموييل وويل: «هغه راوغواړه چې دلته راشي، ترڅو پورې چې هغه رانه شي مونږ به نه کښېنو.» ۱۲ نو
يسي هغه راوغوښت. هغه روغ رمټ، ښايسته ځوان ؤ او ښکلې سترګې يې درلودلې. څښتن سموييل ته
وويل: «هغه همدا دی، د هغه سر په تېلو غوړ کړه!» ۱۳ سموييل د زيتون د تېلو ښکر راواخيست او د
هغه سر يې د خپلو ورونو په مخکې غوړ کړ. د څښتن روح ناڅاپه د قدرت سره د هغې ورځې څخه په داود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې نازل شو. وروسته له هغې سموییل رامې ته ستون شو.

## داود د شاوول په دربار کې

۱۴ د څښتن روح د شاوول څخه لېرې شو او د هغه په ځای بد روح د هغه د څورلو دپاره د څښتن له خوا
په هغه باندې نازل شول. ۱۵ د شاوول خدمتګارانو هغه ته وویل: «وګوره، د خدای له خوا پېریان تا
ځوروي. ۱۶ نو باداره! مونږ ته حکم وکړه، مونږ به داسې یو سړی ولټوو چې د رباب په غږولو باندې ښه
پوهېږي. نو کله چې په تا باندې پېریان راشي، هغه سړی به رباب وغږوي او ستا حال به بېرته ښه شي.»

۱۷ شاوول ومنله او ویې ویل: «زما دپاره داسې یو سړی راپیدا کړئ چې ښه ساز غږوونکی وي او ماته یې
راولئ.»

۱۸ یو خدمتګار ځواب ورکړ: «ما د یسي یو زوی چې د بیت لحم څخه دی لیدلی دی چې هغه د ساز په
غږولو باندې ښه پوهېږي. هغه زړور، ښکلی او هوښیار سړی او همدارنګه یو قوي عسکر دی. د هغه ښه
صفت دا دی چې څښتن د هغه سره مل دی.»

۱۹ نو شاوول یسي ته استازي واستول چې ورته وواېي: «خپل زوی داود چې د پسونو ساتنه کوي ماته
راولېږه.» ۲۰ یسي داود د یو سېرلي، یو خر چې په ډوډیو باندې بار ؤ او د شرابو څخه ډک ژي سره
یوځای شاوول ته واستاوه. ۲۱ داود شاوول ته راغی او د هغه خدمت یې شروع کړ. په شاوول باندې هغه
ډېر ګران ؤ او هغه یې د خپل وسله وړونکي په توګه غوره کړ. ۲۲ نو شاوول یسي ته پیغام واستاوه: «داود
مې ډېر خوښېږي، پرېږده چې هغه زما خدمت وکړي.» ۲۳ هرکله چې د خدای له خوا په شاوول باندې
پېریان راتلل، داود به رباب واخېست او غږاوه به یې. نو شاوول به ښه کېده، هغه به خپل ځان ښه
احساساوه او د هغه څخه به پېریان لېرې کېدل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## جلیات اسراییلو ته د مقابلې بلنه ورکوي

۱۷ ۱ فلسطینیانو خپلې لښکرې د جنګ دپاره د یهودا په سوکوه کې راټولې کړې. د سوکوه او عزیقې
ترمنځ یې په افس دمیم کې خېمې ودرولې. ۲ شاوول او اسراییلیان سره راغونډ شول، د ایله په دره کې
یې خېمې ودرولې او د فلسطینیانو په وړاندې یې خپلې جنګي کرښې جوړې کړې. ۳ په یوې غونډۍ
باندې فلسطینیان او په بلې غونډۍ باندې اسراییلیان ودرېدل او د هغوی په منځ کې دره وه.

۴ د جت د ښار څخه یو اتل چې جلیات نومېده د فلسطینانو د کمپ څخه د اسراییلیانو د مقابلې دپاره
راووت. د هغه قد نژدې درې متره ؤ. ۵ هغه برنجي زغرې اغوستې وې چې اووه پنځوس کیلوګرامه وزن
یې درلود او برنجي خولۍ یې په سر وه. ۶ د هغه پښې هم د برنجي زغرو په وسیله خوندي وې او د اوږو
په منځ یې برنجي توره ځوړنده وه. ۷ د هغه نېزه د اوبدلو د کارګاه د میلې په شان پنډه وه او د هغې
څوکه چې د اوسپنې وه اووه کیلوګرامه وزن درلود. یو عسکر د خپل سپر سره د هغه په مخکې روان ؤ. ۸
جلیات ودرېده او په اسراییلو باندې یې غږ وکړ ویې ویل: «تاسو دلته څه کوئ؟ ولې د جګړې دپاره قطار
ولاړ یئ؟ زه فلسطینی یم او تاسو د شاوول غلامان یئ! د خپلو نفرو څخه یو تن غوره کړئ چې دلته راشي او
زما سره وجنګیږي. ۹ که چېرې هغه وکولای شي چې زما سره وجنګیږي او ما ووژني، نو مونږ به ستاسو
غلامان شو. خو که چېرې زه په هغه باندې غالب شوم او هغه ووژنم، نو تاسو به زمونږ غلامان شئ او زمونږ
خدمت به کوئ. ۱۰ نن زه اسراییلیان جګړې ته رابولم، زه تاسو دې ته هڅوم چې یو کس غوره کړئ چې
زما سره جګړه وکړي!» ۱۱ کله چې شاوول او د اسراییلو لښکر د جلیات دا خبرې واورېدلې، نو هغوی
بې زړه شول او ډېر ووېرېدل.

## داود د شاوول د اردو په قرارګاه کې

۱۲ داود د یهودا د بیت لحم د افراتي یسي زوی ؤ. یسي اته زامن درلودل او هغه د شاوول د پاچاهۍ په
وخت کې ډېر زوړ شوی ؤ. ۱۳ د هغه درې مشران زامن د شاوول سره جنګ ته تللي وو، مشر یې الیاب،
بل یې ابیناداب او دریم یې شمه ؤ. ۱۴ داود د یسي په زامنو کې تر ټولو کشر زوی ؤ. درې مشران ورونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د شاوول سره پاتې کېدل. ۱۵ خو کله کله به داود د شاوول څخه بيت لحم ته ستنېده چې د خپل پلار
پسونه وڅروي.

۱۶ تر څلوېښت ورځو پورې به جليات هر سهار او ماښام مخکې کېده او د جنګ دپاره به يې بلنه ورکوله.

۱۷ يوه ورځ يسي داود ته وويل: «لس کيلوګرامه نينې شوې غلې دانې او لس ډوډۍ واخله او په بيړه يې
خپلو ورونو ته د شاوول قرارګاه ته يوسه. ۱۸ لس کلچې پنير د هغوی قوماندان ته يوسه، وګوره چې ستا
ورونه څنګه دي او بېرته د هغوی څخه يوه نښه راوړه.» ۱۹ شاوول د خپلو ټولو عسکرو سره او هم د داود
ورونه د ايله په دره کې وو او د فلسطينيانو سره جنګېدل. ۲۰ داود سهار وختي پاڅېد او يو کس يې د
پسونو د ساتنې دپاره د مسوول په توګه پرېښود. داود ډوډۍ واخيستله او څنګه چې يسي هغه ته ويلي وو
هغه لاړ. دی هغه وخت قرارګاه ته ورسېده چې اسراييل خپلې جنګي کرښې ته وتل او د جګړې نارې يې
وهلې. ۲۱ د اسراييليانو او فلسطينيانو لښکرې د جګړې دپاره يو بل ته مخامخ ځای په ځای شوې. ۲۲
داود خپل شيان د سامانونو ساتونکي ته پرېښودل، د جګړې کرښې ته يې ورمنډه کړه او د خپلو ورونو د
احوال پوښتنه يې وکړه. ۲۳ په داسې حال کې چې داود د هغوی سره خبرې کولې، فلسطينی اتل جليات
چې د جت څخه ؤ د خپلو کرښو څخه راووت. د مخکې په شان يې جګړې ته د رابللو چيغې ووهلې او داود
هغه واورېدلې. ۲۴ کله چې اسراييليانو جليات وليد، هغوی ټول له ډېرې وېرې د هغه څخه وتښتېدل.
۲۵ اسراييلو به ويل: «تاسو وينئ چې دا سړی څنګه راوځي چې اسراييل د جګړې دپاره راوپاروي؟ هغه
څوک چې دا سړی ووژني شاوول پاچا به ورته ډېر انعام ورکړي. هغه به هم خپله يوه لور هغه ته په نکاح
کړي او د هغه د پلار کورنۍ به د ماليې ورکولو څخه معاف کړي.»

۲۶ داود د هغو نفرو څخه چې د ده سره نژدې ولاړ وو، پوښتنه وکړه: «څوک چې دغه فلسطينی ووژني او
اسراييل د دې رسوايۍ څخه خلاص کړي څه به تر لاسه کړي؟ اخر دا کافر فلسطينی څوک دی چې د
ژوندي خدای لښکرې جګړې ته راپاروي؟» ۲۷ دوی تکرار کړل چې شاوول د هغه چا دپاره چې جليات
ووژني څنګه انعام ايښی دی.

۲۸ کله چې د داود مشر ورور الياب د هغو خلکو سره د داود خبرې واورېدلې، هغه په داود باندې له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قهره سور شو او ویې ویل: «دلته څه کوې؟ څوک په دښته کې ستا د هغه څو پسونو ساتنه کوي؟ زه د ستا د
زړه په مغرورۍ او بد نیت باندې پوهېږم، ته یوازې د جګړې د سیل دپاره راغلی یې.»

۲۹ داود وویل: «اوس ما څه کړي دي؟ ایا د خبرو کولو حق هم نه لرم؟» ۳۰ بیا هغه بل سړي ته مخ
ورواړاوه او د هغه څخه یې هم هماغه پوښتنه وکړه. هر وخت چې هغه پوښتنه کوله نو هماغه ځواب به یې
تر لاسه کاوه.

۳۱ ځینو خلکو د داود خبرې واورېدلې او هغوی شاوول خبر کړ او هغه یې راوغوښت. ۳۲ داود شاوول
ته وویل: «اعلیحضرته، هېڅوک باید د دې فلسطیني څخه ونه وېرېږي! ستاسو غلام به لاړ شي او د هغه
سره به وجنګېږي.»

۳۳ شاوول ځواب ورکړ: «ته به د هغه سره څنګه وجنګېږې؟ ته یو بې تجربې ځوان یې او هغه د ځوانۍ
څخه یو جنګیالی دی.»

۳۴ خو داود شاوول ته وویل: «ستاسو غلام د خپل پلار د پسونو ساتنه کوي. کله چې زمری یا ایږه راځي
او د رمې څخه ورۍ تښتوي، ۳۵ زه د هغه پسې ورځم، هغه وهم او ورۍ د هغه د خولې څخه خلاصوم. که
چېرې هغه وحشي حیوان په ما باندې راوګرځي، هغه له ستوني نیسم او تر مرګه یې وهم. ۳۶ ما زمري او
ایږې دواړه وژلي دي او د دې کافر فلسطیني سره به چې د ژوندي خدای لښکرې جګړې ته راپاروي هماغه
شان عمل وکړم. ۳۷ هغه څښتن چې زه یې د زمریو او ایږو د منګولو څخه ژغورلی یم هغه به مې د دې
فلسطیني له لاسه هم وژغوري.»

شاوول ومنله او داود ته یې وویل: «لاړ شه او څښتن دې ستا سره مل وي.» ۳۸ بیا شاوول داود ته خپل
جنګي کالي ورواغوستل. خپلې زغرې یې د هغه په تن کړې او برنجي خولۍ یې ور په سر کړه. ۳۹ داود د
شاوول توره په جنګي کالیو باندې وتړله او د روانېدو کوښښ یې وکړ، خو هغه نه شو تللی، ځکه چې دی د
هغو سره عادت نه ؤ. هغه شاوول ته وویل: «زه د دې کالیو سره عادت نه یم او په دې کې نه شم
جنګېدلی.» نو ټول یې وویستل. ۴۰ بیا هغه خپله امسا په لاس کې واخیستله، د ویالې څخه یې پنځه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښويه تيږې د خپل ځان دپاره غوره کړې او هغه يې د خپل شپونتوب په کڅوړه کې کېښودلې. مچنوغزه يې
په لاس کې وه او هغه فلسطيني ته ورنژدې شو.

## داود جليات وژني

۴۱ په همدې وخت کې هغه فلسطينی چې سپر وړونکی يې ورځخه مخکې ؤ راروان ؤ. هغه داود ته
ورنژدې کېده. ۴۲ هغه داود ته په ځير وکتل او ويې ليدل چې هغه يو ښايسته او روغ رمت ځوان دی، نو
هغه ورته سپک ښکاره شو. ۴۳ هغه داود ته وويل: «دا ډانګ د څه دپاره دی؟ ايا ته فکر کوې چې زه
سپی يم؟» هغه د خپلو خدايانو په نامه په داود باندې لعنت ووايه. ۴۴ هغه داود ته وويل: «راشه! زه به
ستا غوښې په مرغانو او په ځناورو باندې وخورم!»

۴۵ داود جليات ته ځواب ورکړ: «ته زما په وړاندې د تورې، نېزې او خنجر سره راځې. خو زه ستا په
وړاندې د مطلق قادر څښتن يعنې د اسراييلو د لښکرو د خدای په نوم چې تا جګړې ته راپارولې دي درځم.
۴۶ دا هغه ورځ ده چې څښتن به تا ماته تسليم کړي او زه به تا ووژنم او ستا سر به پرې کړم. زه به د
فلسطينيانو د عسکرو مړي مرغانو او ځناورو ته واچوم چې ويې خوري. نو ټوله نړۍ به په دې پوه شي چې د
اسراييلو خدای شته. ۴۷ هرڅوک به دلته وګوري چې څښتن د خپل قوم د ژغورلو دپاره تورو يا نېزو ته
اړتيا نه لري. دا د څښتن جنګ دی او هغه به تاسې ټول مونږ ته راتسليم کړي.»

۴۸ يوځل بيا جليات د داود خواته ورنژدې کېده او داود د هغه د مقابلې دپاره په چټکۍ سره د جګړې د
کرښې په لور ورمنډه کړه. ۴۹ داود خپل لاس خپلې کڅوړې ته وراوږد کړ، يوه تيږه يې رااوويسته، په
مچنوغزې باندې يې ګوزاره کړه او جليات يې په تندي باندې وويشت. تيږه د هغه په تندي کې ورننوتله او
هغه پړمخې په ځمکه باندې پرېوت. ۵۰ نو داود بې له تورې جليات ته ماتې ورکړه او د مچنوغزې او
تيږې په وسيله يې هغه وواژه. ۵۱ داود منډه کړه او د جليات سرته ودرېده، د هغه توره يې د هغه د پوښ
څخه رااوويستله، هغه يې وواژه او سر يې ورځخه پرې کړ.

کله چې فلسطينيانو وليدل چې د دوی اتل مړ شو، نو دوی وتښتېدل. ۵۲ د اسراييلو او يهودا خلکو چيغې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهلې او مخ په وړاندې يې منډې کړې. فلسطينيان يې د جت او د عقرون تر دروازو پورې تعقيب کړل او د
هغوی مړي د شعرايم په لاره کې د جت او عقرون پورې پراته وو. ۵۳ کله چې اسراييليان د فلسطينيانو د
تعقيبولو څخه راستانه شول، د هغوی قرارګاه يې لوټه کړه. ۵۴ داود د جليات سر راواخيست او اورشليم
ته يې يووړ، خو د هغه وسلې يې په خپله خېمه کې کېښودلې.

## داود د شاوول په حضور کې وړاندې کيږي

۵۵ کله چې شاوول وليدل چې داود د جليات سره د جنګ دپاره ورروان دی، نو هغه د خپلو لښکرو د
قوماندان ابنير څخه پوښتنه وکړه: «ای ابنيره، هغه د چا زوی دی؟»

ابنير ځواب ورکړ: «اعليحضرته! زه ستا په سر قسم خورم چې زه نه پوهېږم.» ۵۶ پاچا وويل: «دا معلومه
کړه چې دا ځوان د چا زوی دی.» ۵۷ نو څنګه چې داود د جليات د وژلو څخه راستون شو، ابنير هغه
شاوول ته راوست. داود لا د جليات سر په لاس کې نيولی ؤ. ۵۸ شاوول د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ای
ځوانه، ته د چا زوی يې؟»

داود ځواب ورکړ: «زه ستاسو د خدمتګار يسي بيت لحمي زوی يم.»

۱۸ ۱ وروسته له هغې چې داود خپلې خبرې د شاوول سره پای ته ورسولې، د شاوول زوی يوناتان او
داود سمدلاسه ډېر ښه دوستان شول او داود په يوناتان باندې د خپل ځان په شان ډېر ګران شو. ۲ له
هماغې ورځې څخه شاوول داود د خپل ځان سره وساته او هغه يې پرېنښود چې د خپل پلار کور ته لاړ شي.
۳ يوناتان د داود سره د ملګرتوب تړون وکړ، ځکه چې د هغه سره يې د خپل ځان په شان مينه کوله.
۴ يوناتان هغه چپنه چې په تن کې يې وه وويستله او داود ته يې ورکړه، خپلې زغرې، حتی خپله توره،
لينده او کمربند يې هم هغه ته ورکړل. ۵ هر چېرته چې به شاوول داود د هر کار دپاره لېږه هغه به يې
په برياليتوب سره سرته رساوه. شاوول هغه د اردو لوړ افسر وټاکه. په دې باندې ټول قوم او د شاوول
مامورين خوشحاله شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شاوول د داود سره بخیلي کوي

۶ کله چې داود جلیات وواژه او عسکر بېرته خپلو کورونو ته راستنېدل، د اسراییلو د ټولو ښارونو څخه
ښځې د خوشحالۍ په سندرو ویلو، ګډېدلو او د چمبو او ربابونو په غږولو سره د شاوول پاچا د هرکلي دپاره
راووتلې. ۷ په داسې حال کې چې ښځې ګډېدلې هغوی به دا سندره ویله: «شاوول زرګونه وژلي دي، خو
داود یو په لس د هغه نه زیات وژلي دي.» ۸ دا سندره د شاوول خوښه نه شوه او هغه ډېر په قهر شو،
ویې ویل: «هغوی داود ته د لسګونو زرو اعتبار ورکړی دی او ماته یوازې د زرګونو. په راتلونکې کې به د
هغه څخه پاچا جوړ کړي.» ۹ نو له هماغه وخت څخه شاوول په داود باندې بخیلي کوله او په هغه
شکمن شو.

۱۰ د هغې ورځې په سبا د خدای له خوا په شاوول باندې پېریان نازل شول او هغه په خپل کور کې لکه د
لېوني په شان بدرد ویل. داود لکه د هرې ورځې په شان رباب غږاوه او د شاوول په لاس کې نېزه وه. ۱۱
شاوول خپله نېزه د داود خواته ورګوزاره کړه، د خپل ځان سره یې وویل: «زه به داود د دېوال سره مېخ
کړم.» خو داود دوه ځلې خپل ځان بچ کړ.

۱۲ شاوول د داود څخه وېرېده، ځکه چې څښتن د داود سره ؤ، خو شاوول یې پرېښی ؤ. ۱۳ نو هغه
داود د خپل ځان نه لېرې کړ او هغه یې په زرو تنو باندې قوماندان کړ. داود به په جنګي عملیاتو کې د
خپلو لښکرو مشري کوله. ۱۴ داود به په خپلو ټولو کارونو کې بریالی ؤ، ځکه چې څښتن د هغه سره مل
ؤ. ۱۵ کله چې شاوول ولیدل چې داود دومره بریالی دی، نو د هغه څخه نور هم ووېرېده. ۱۶ خو داود
د اسراییلو او یهودا په ټولو خلکو باندې ګران ؤ، ځکه چې هغوی ته به یې په جنګي عملیاتو کې لارښودنه
کوله.

## داود د شاوول د لور سره واده کوي

۱۷ یوه ورځ شاوول داود ته وویل: «میراب زما مشره لور ده. هغه به تاته په نکاح کړم په دې شرط چې ته
به د یوه زړور او وفادار عسکر په توګه زما خدمت کوې او د څښتن په جنګونو کې به جنګېږې.» شاوول د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان سره فکر کاوه: «زه به داود په خپله ونه وژنم، پرېږده چې فلسطینیان دا کار وکړي.»

۱۸ خو داود شاوول ته ووېل: «زه څوک یم او زما د پلار کورنۍ څه ده چې زه د پاچا زوم شم؟» ۱۹ هغه
وخت چې داود تیار شو چې د شاوول د لور میراب سره واده وکړي، شاوول خپله لور عدر یېل ته چې د
محولا د ښار څخه ؤ ورکړه.

۲۰ خو د شاوول بله لور میکال په داود باندې مینه وه، کله چې شاوول دا خبره واورېدله، هغه خوشحاله
شو. ۲۱ هغه د خپل ځان سره ووېل: «زه به میکال داود ته ورکړم. زه به د هغې څخه کار واخلم چې داود
په دام کې راګیر کړي او هغه به د فلسطینیانو په لاس ووژل شي.» نو شاوول د دوهم ځل دپاره داود ته
ووېل: «ته به زما زوم شې.» ۲۲ نو بیا شاوول خپلو خدمتګارانو ته حکم وکړ: «د داود سره په خصوصي
ډول خبرې وکړئ او ورته ووایئ: پاچا ستا څخه خوشحاله دی او په مونږ ټولو باندې ګران یې. ولې نه غواړې
د هغه زوم شې؟»

۲۳ هغوی دا خبرې داود ته تکرار کړې، خو داود ورته ووېل: «ایا ستاسو په فکر د پاچا زوم کېدل یوه
کوچنۍ خبره ده؟ زه یو غریب او بې نومه سړی یم.»

۲۴ د شاوول خدمتګارانو هغه څه چې داود دوی ته ویلي وو شاوول ته بیان کړل. ۲۵ شاوول هغوی ته
حکم وکړ چې داود ته ووایي: «هغه څه چې پاچا ستا څخه د مهر په توګه غواړي هغه د سلو فلسطینیانو د
سنتۍ پوستکي دي چې د هغه د دښمنانو څخه بدل واخیستل شي.» دا د شاوول پلان ؤ چې داود د
فلسطینیانو په لاس ووژل شي. ۲۶ د شاوول خدمتګارانو چې داود ته دا خبرې وکړې هغه په دې
خوشحاله شو چې د پاچا زوم شي. نو مخکې له دې چې ټاکلی وخت پوره شي، ۲۷ داود د خپلو نفرو سره
لاړ او دوه سوه فلسطینیان یې ووژل. د هغوی د سنتۍ پوستکي یې راوړل او پاچا ته یې پوره حساب ورانديې
کړ، ترڅو هغه د پاچا زوم شي. نو شاوول خپله لور میکال هغه ته په نکاح کړه.

۲۸ شاوول په دې ښه پوه شو چې څښتن د داود سره دی او دا چې د هغه لور میکال په هغه مینه ده.
۲۹ نو شاوول د هغه څخه نور هم ووېرېده او د ژوند تر پایه پورې د هغه سره دښمن ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ د فلسطینیانو قوماندانان به په دوامداره توګه راتلل او جګړه به یې کوله. خو په هرې جګړې کې به
داود د شاوول د نورو عسکري منصبدارانو په پرتله بریالی ؤ او په ډېر درنښت یادېده.

## شاوول هڅه کوي چې داود ووژني

۱۹ ۱ شاوول خپل زوی یوناتان او خپلو ټولو درباریانو ته وویل چې داود ووژني، خو داود په یوناتان
باندې ډېر ګران ؤ ۲ او هغه ته یې خبرداری ورکړ: «زما پلار شاوول غواړي چې تا ووژني. سبا سهار په
خپل ځان باندې پام کوه، په یو ځای کې پټ شه او هلته پاتې شه. ۳ زه به ووځم او په هغه پټي کې چې
ته هلته پټ یې د خپل پلار سره به ودرېږم. زه به د هغه سره ستا په اړه خبرې وکړم او هرڅه چې ما معلوم
کړل تا به خبر کړم.»

۴ په بل سهار یوناتان شاوول ته د داود هغه ښه کارونه ور په یاد کړل چې د هغه دپاره یې کړي وو. بیا
هغه وویل: «ته ولې غواړې چې داود سره بد وکړې؟ هغه خو ستا سره هېڅ بد نه دي کړي. ۵ کله چې
هغه جلیات واژه خپل ژوند یې په خطر کې اچولی ؤ او څښتن اسراییلو ته لوی بری ورکړ. کله چې تا دا بری
ولید خوشحاله شوې. نو ولې اوس غواړې چې د یو بې ګناه انسان په وینو لاس ولړې او داود بې سببه
ووژنې؟» ۶ شاوول د یوناتان په خبرو باندې قانع شو او د څښتن په نوم یې قسم وخوړ چې هغه به داود
نه وژني. ۷ نو یوناتان داود راوغوښت او هغه ته یې د ټولو خبرو اترو بیان وکړ. داود یې شاوول ته
راوست او هغه د پخوا په شان د شاوول خدمت کاوه.

۸ یوځل بیا د فلسطینیانو سره جګړه شروع شوه، داود په هغوی باندې حمله وکړه او هغوی ته یې داسې
پوره ماتې ورکړه چې وتښتېدل.

۹ یوه ورځ شاوول په خپل کور کې ناست ؤ او نېزه یې په لاس کې وه چې د څښتن له خوا ورباندې
پېریان نازل شول. په دې وخت کې داود رباب غږاوه. ۱۰ شاوول هڅه وکړه چې په خپله نېزه باندې هغه
د دېوال سره مېخ کړي، خو داود د هغه څخه خپل ځان بچ کړ او نېزه په دېوال کې ننوتله. په دې شپه داود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په منډه وتښتېد.

۱۱ شاوول د داود کور ته کس ولېږل چې د هغه څارنه وکړي او سهار يې ووژني. خو د داود ښځې ميکال
هغه ته خبر ورکړ: «که چېرې نن شپه ونه تښتې، نو سبا به هغوی تا ووژني.» ۱۲ نو ميکال داود د کړکۍ
له لارې ښکته کړ او هغه په منډه وتښتېد. ۱۳ وروسته هغې کورنی بت راواخيست، د داود په کټ باندې
يې څملاوه، د وزو ويښتان يې د بت په سر باندې کېښودل او بړستن يې ورباندې واچوله. ۱۴ کله چې
شاوول کس ولېږل چې داود ونيسي، نو ميکال هغوی ته وويل: «هغه ناروغ دی.» ۱۵ خو شاوول هغوی
بېرته ولېږل چې داود وګوري، هغوی ته يې حکم وکړ: «هغه په خپل کټ کې راوړئ چې ويې وژنم.» ۱۶
خو کله چې هغه خلک ورننوتل، وې ليدل چې په کټ کې بت ؤ او په سر باندې يې د وزو ويښتان وو. ۱۷
شاوول د ميکال څخه پوښتنه وکړه: «ولې دې زه داسې وغولولم او زما دښمن دې پرېښود چې وتښتي؟»

ميکال په ځواب کې ورته وويل: «داود ماته وويل: پرېږده چې وتښتم که نه، نو زه به تا ووژنم.»

۱۸ په دې توګه داود وتښتېد، خپل ځان يې سموييل ته چې په رامې کې ؤ ورساوه او هغه څه چې شاوول
ورسره کړي وو هغه ته يې بيان کړل. بيا هغه او سموييل نايوت ته لاړل او هلته پاتې شول. ۱۹ شاوول ته
خبر ورسېده چې داود د رامې په نايوت کې دی. ۲۰ نو هغه کس ولېږل چې داود ونيسي، خو کله چې
دوی وليدل چې د نبيانو يوه ډله د سموييل تر مشرۍ لاندې نبوت کوي، نو د خدای روح د شاوول په نفرو
باندې نازل شو او دوی هم په نبوت پيل وکړ. ۲۱ شاوول ته په دې اړه خبر ورسېده او هغه نور کس ولېږل
او دوی هم نبوت وکړ. د درېم ځل دپاره شاوول کس ولېږل او دوی هم نبوت وکړ. ۲۲ اخر هغه په خپله
رامې ته روان شو او کله چې هغه لويې څاه ته چې په سيخوه کې وه ورغی پوښتنه يې وکړه: «سموييل او
داود چېرته دي؟» هغه ته خبر ورکړای شو چې هغوی د رامې په نايوت کې دي. ۲۳ څنګه چې هغه
نايوت ته روان ؤ، د خدای روح په هغه باندې هم نازل شو او په تللو کې يې نبوت کاوه، ترڅو چې هلته
ورسېده. ۲۴ هغه خپل کالي وويستل او د سموييل په مخکې يې نبوت کاوه، هغه ټوله ورځ او ټوله شپه
لوڅ پرېوت. له دې کبله خلک وايي: «ايا شاوول هم د نبيانو څخه دی؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## یوناتان د داود سره مرسته کوي چې وتښتي

# ۲۰

۱ وروسته داود د نایوت څخه چې په رامه کې ؤ وتښتېد، یوناتان ته ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه:
«ما څه کړي دي؟ زما جرم څه دی؟ ما څه ګناه کړې ده چې ستا پلار زما د وژلو هڅه کوي؟»

۲ یوناتان ځواب ورکړ: «خدای دې نه کوي! ته به هېڅ کله ونه وژل شې! ګوره، زما پلار چې هرڅه کوي
که هغه مهم وي یا نه، ماته یې وایي، نو ولې به هغه زما څخه دا خبره پټه کړي؟ دا رښتیا نه ده!»

۳ خو داود قسم وخوړ او ویې ویل: «ستا پلار په دې ښه پوهیږي چې زه په تا باندې ګران یم. هغه داسې
پرېکړه کړې ده هغه پلان چې زما په اړه یې لري ته باید ورڅخه خبر نه شې، ځکه چې ته به خفه شې. زه د
ژوندي څښتن په نوم او ستا په ژوندون قسم خورم چې زما او مرګ ترمنځ یوازې یو قدم فاصله پاتې ده.»

۴ یوناتان وویل: «هرڅه چې ته غواړې زه به یې ستا دپاره وکړم.»

۵ نو داود وویل: «ګوره، سبا د نوي میاشتې اختر دی او زه باید د پاچا سره ډوډۍ وخورم، خو اجازه
راکړه چې لاړ شم او د دریمې ورځې تر ماښامه پورې په پټیو کې خپل ځان پټ کړم. ۶ که چېرې ستا
پلار زه یاد کړم، نو ورته ووایه چې داود زما څخه ډېره هیله وکړه چې په بیړه خپل ښار بیت لحم ته لاړ شي.
هلته د هغه د ټول خاندان دپاره د کلنۍ قربانۍ کولو وخت دی. ۷ که چېرې هغه ووایي: ډېره ښه ده
نو زما خیر به په کې وي، خو که چېرې هغه ډېر په قهر شو، نو ته به پوه شې چې هغه نیت لري چې ماته
زیان ورسوي. ۸ زما سره احسان وکړه او په هغه تړون باندې چې د څښتن په نوم دې زما سره کړی ؤ
ودرېږه، خو که چېرې زه ګناهکار یم، نو ته مې په خپله ووژنه! خپل پلار ته دې ولې ما ورولې چې ووژل
شم؟»

۹ یوناتان وویل: «داسې فکر مه کوه! که چېرې زه پوه شوی وای چې زما پلار نیت لري چې تاته زیان
دورورسوي ایا تاته به مې خبر نه وای درکړی؟»

۱۰ داود پوښتنه وکړه: «که چېرې ستا پلار تاته سخت ځواب درکړي څوک به ماته خبر راکړي؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ یوناتان ځواب ورکړ: «راځه چې پټيو ته لاړ شو.» نو هغوی یوځای هلته لاړل. ۱۲ بیا یوناتان داود ته
وویل: «زه د څښتن، د اسراییلو د خدای په حضور کې تاته وعده درکوم، سبا نه بل سبا تر همدې وخته
پورې به زه د خپل پلار نیت معلوم کړم. که چېرې د هغه رویه ستا په هکله ښه وه، زه به تاته خبر درولېږم.
۱۳ که چېرې هغه تاته د زیان رسولو اراده لري، نو څښتن دې ماته سخته سزا راکړي که تاته مې په دې
هکله خبر درنه کړ او ته مې په سلامتۍ سره لېرې ونه لېږلې. څښتن دې ستا سره وي لکه څنګه چې زما د
پلار سره ؤ. ۱۴-۱۵ ستا دې په یاد وي، وروسته له دې چې څښتن ستا ټول دښمنان د ځمکې له مخ
څخه ورک کړل، د څښتن په شان دوستي او مهرباني نه یوازې ماته بلکې زما نه وروسته زما اولادې ته هم
ښکاره کړې.» ۱۶ نو یوناتان د داود د کورنۍ سره تړون وکړ، ویې ویل: «که چېرې دا تړون مات شي،
څښتن دې هغو خلکو ته سزا ورکړي چې دا تړون یې مات کړی دی.»

۱۷ یوناتان یوځل بیا داود مجبور کړ چې خپل قسم تایید کړي چې د هغه سره مینه لري. ځکه چې په
یوناتان باندې داود دومره ګران ؤ لکه څنګه چې خپل ځان ورباندې ګران ؤ. ۱۸ هغه وخت یوناتان هغه ته
وویل: «څرنګه چې سبا د نوې میاشتې اختر دی، نو خلک به خبر شي، ځکه چې ستا ځای به په دسترخوان
کې خالي وي. ۱۹ سبا نه بل سبا ماښام هغه ځای ته زر لاړ شه چېرته چې ته مخکې پټ شوی وې او هلته
د تیږو د ډېرۍ تر شا انتظار کوه. ۲۰ زه به درې غشي د هغې په څنګ کې دروولم چې داسې ګومان وشي
چې زه یوه نښه ولم. ۲۱ بیا به زه یو هلک ولېږم او ورته به ووایم: لاړ شه او غشي راپیدا کړه. که هغه ته
مې وویل چې ګوره، غشي تاته نه دي رسېدلي، ورشه هغه دلته راوړه، زه د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم
چې تاته به خطر نه وي. ۲۲ خو که زه هغه ته داسې ووایم چې غشي ستا څخه تېر شوي دي، نو دا به دا
معنی ولري چې څښتن غواړي چې تا لېرې ولېږي، نو ته باید لاړ شې. ۲۳ هغه تړون چې زما او ستا ترمنځ
شوی دی یاد ساته. څښتن به تر ابده پورې زما او ستا ترمنځ شاهد وي.»

۲۴ نو داود په پټيو کې پټ شو. کله چې د نوې میاشتې اختر راورسېد، پاچا د ډوډۍ خوړلو دپاره راغی
۲۵ او هغه د خپل عادت له مخې د دېوال سره په خپل ځای کې کښېناست. یوناتان مخامخ او ابنیر د
شاوول تر څنګ ناست وو، خو د داود ځای خالي ؤ. ۲۶ خو شاوول په هغه ورځ هېڅ ونه ویل، ځکه هغه
فکر کاوه: «داود ته خامخا څه پېښ شوي دي چې هغه یې د دود له مخې ناپاک کړی دی. په یقین سره
هغه ناپاک دی.» ۲۷ خو په راتلونکې ورځ چې د میاشتې دوهمه ورځ وه، د داود ځای بیا خالي ؤ. نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاوول د خپل زوی یوناتان څخه پوښتنه وکړه: «د یسي زوی ولې نه پرون ډوډۍ ته راغی او نه نن؟»

۲۸ یوناتان په ځواب کې ووېل: «هغه زما څخه هیله وکړه چې اجازه ورته ورکړم چې بیت لحم ته لاړ شي.
۲۹ داود ووېل: ماته اجازه راکړه چې لاړ شم، ځکه چې زمونږ کورنۍ په ښار کې قرباني کوي او زما ورور
ماته حکم کړی دی چې هلته واوسم. که ته زما څخه خوشحاله یې، ما پرېږده چې لاړ شم ترڅو خپل خپلوان
ووینم. نو ځکه هغه د پاچا دسترخوان ته نه دی راغلی.»

۳۰ شاوول په یوناتان باندې ډېر په قهر شو او هغه ته یې ووېل: «ته زما زوی نه یې، ته خاین یې! زه
پوهېږم چې ستا دا خوښه ده چې د یسي زوی ته وفادار اوسې. وشرمېږه! او ستا مور دې هم وشرمیږي چې
ته یې زیږولی یې. ۳۱ ایا په دې نه پوهېږې تر هغه چې د یسي زوی ژوندی وي، ته به هېڅکله د دې ملک
پاچا نه شې؟ نو اوس ځوک ولېږه او هغه دلته راوله، ځکه چې هغه باید ووژل شي!»

۳۲ یوناتان پوښتنه وکړه: «هغه ولې ووژل شي؟ هغه څه ګناه کړې ده؟» ۳۳ په دې وخت کې شاوول
خپله نېزه په یوناتان پسې ګوزاره کړه چې هغه ووژني او یوناتان پوه شو چې په رښتیا د ده پلار پرېکړه کړې
ده چې داود ووژني. ۳۴ یوناتان په ډېر قهر د دسترخوان څخه پاڅېد او د میاشتې په دوهمه ورځ یې
ډوډۍ ونه خوړله، ځکه چې هغه په دې باندې غمجن شو چې د ده پلار داود سپک کړ. ۳۵ لکه څنګه چې
دوی یو د بله سره موافقه کړې وه، د بلې ورځې په سهار یوناتان پټیو ته لاړ چې د داود سره وګوري. یوناتان
یو ځوان هلک د ځان سره یووړ ۳۶ او هغه ته یې ووېل: «منډه کړه او هغه غشي چې زه یې ولم راپیدا
کړه.» هلک منډه کړه او یوناتان یو غشی وویشت چې د هلک څخه تېر شو. ۳۷ کله چې هلک هغه ځای
ته ورغی چې غشی په کې لوېدلی ؤ، یوناتان په هلک باندې غږ وکړ: «ایا غشی ستا څخه تېر شوی نه دی؟»
۳۸ بیا یوناتان د هغه هلک پسې چیغې کړې: «بیړه وکړه! زر لاړ شه! مه ودرېږه!» هلک غشی راپورته کړ
او خپل بادار ته راستون شو. ۳۹ هلک پوه نه شو چې دا څه معنی لري. یوازې یوناتان او داود پوهېدل.
۴۰ نو یوناتان خپلې وسلې هغه هلک ته ورکړې او ورته وېې ویل: «لاړ شه او دا ښار ته یوسه.»

۴۱ وروسته له هغې چې هلک لاړ، داود د تیږو د ډېرۍ له شا راپاڅېده، په ځمکه باندې پرمخې پرېوت او
درې ځله د درناوي په خاطر یوناتان ته ټیټ شو. کله چې هغوی یو بل ښکلول نو هغوی دواړو ژړل، د داود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خفګان د یوناتان نه هم زیات وو. ۴۲ یوناتان داود ته وویل: «په خیر لاړ شه، ځکه چې مونږ یو د بله سره د
ښتن په نوم د دوستۍ قسم خوړلی دی او ویلي مو دي چې ښتن دې تر ابده پورې زما او ستا ترمنځ او
زما د اولادې او ستا د اولادې ترمنځ شاهد وي.» له هغې وروسته داود لاړ او یوناتان بېرته ښار ته ستون شو.

## د شاوول له لاسه د داود تښتېدل

۲۱ ۱ داود اخیملک کاهن ته چې په نوب کې ؤ ورغی. اخیملک په لړزېدلو سره د هغه هرکلي ته
راووت او پوښتنه يې ترې وکړه: «ولې يوازې راغلی يې او څوک درسره نشته؟»

۲ داود په ځواب کې وویل: «پاچا ماته یو کار راسپارلی دی او راته ویلي يې دي چې هېڅ څوک باید ستا
د وظیفې په هکله پوه نه شي. ما خپلو سړیو ته ویلي دي چې ما سره دې په یوه ټاکلي ځای کې وګوري. ۳
نو اوس ستا سره څه شته؟ پنځه داني ډوډۍ یا کوم بل څه که لرې ماته يې راکړه.»

۴ خو کاهن هغه ته په ځواب کې وویل: «زما سره عادي ډوډۍ نشته، خو بیاهم یو څه سپېڅلې ډوډۍ
شته. تاسو کولای شئ چې هغه وخورئ، خو په دې شرط چې ستاسو سړي په دې نژدې وختونو کې ښځو ته
نژدې شوي نه وي.»

۵ داود ځواب ورکړ: «بې له شکه چې مونږ ښځو ته نه یو نژدې شوي. کله چې مونږ په وظیفه کې یو، زه
هېڅکله خپلو سړیو ته اجازه نه ورکوم چې داسې کار وکړي. هغوی باید حتی په عادي وظیفو کې خپل
ځانونه پاک وساتي او نن خو مونږ په یوې ځانګړې وظیفې کې یو.»

۶ نو کاهن هغه سپېڅلې ډوډۍ چې خدای ته نذرانه کېدله داود ته ورکړه. هلته بل ډول ډوډۍ نه وه.
په منظمه توګه به يې دغه ډوډۍ د خدای له حضور څخه لېرې کوله او د هغې په ځای به يې توده ډوډۍ
کېښودله. ۷ داسې وشوه چې دواغ ادومی د شاوول د شپنو مشر په هماغه ورځ هلته ؤ، ځکه چې د
پاکوالي مراسم يې په ځای کول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ داود اخیملک ته وویل: «ایا ستا سره توره یا نېزه شته چې ماته یې راکړې؟ د پاچا حکم زه مجبور کړم
ترڅو په داسې بیړه لاړ شم چې ما دومره وخت پیدا نه کړ چې خپله توره یا کومه بله وسله راواخلم.»

٩ اخیملک ځواب ورکړ: «ما سره د فلسطیني جلیات یعنې د هغه چا توره شته چې تا د ایله په دره کې
وواژه. هغه توره ما په یوه ټوکر کې تاوه کړې ده او هغه د کاهن د سپېڅلي پېشبند شاته ده، که چېرې
غواړې نو وایې خله. دلته بې له دې تورې بله نشته.» داود وویل: «هغه ماته راکړه، دا تر ټولو ښه توره ده.»

١٠ نو داود په هماغه ورځ لاړ، د شاوول څخه وتښتېد او د جت پاچا آخیش ته یې ځان ورساوه. ١١ خو
د آخیش درباریانو هغه ته وویل: «ایا دا داود، د خپل هېواد پاچا نه دی؟ دا هغه سړی دی چې د هغه په اړه
به ښځو د ګڼا کولو په وخت کې دا سندرې ویلې: شاوول زرګونه وژلي دي، خو داود یو په لس د هغه نه
زیات وژلي دي.»

١٢ د هغوی خبرو په داود باندې ډېره اغیزه وکړه او د آخیش پاچا څخه ډېر زیات ووېرېده. ١٣ نو کله
چې داود د هغوی سره ؤ، هغه خپل ځان په لېونتوب وواهه. کله چې هغوی هڅه وکړه چې دی ونیسي، نو
هغه د لېوني په شان عمل کاوه. هغه به په دروازو باندې کرښې ویستلې او په خپله ږیره باندې به یې لاړې
تویولې. ١٤ نو آخیش خپلو درباریانو ته وویل: «ګورئ! دا سړی لېونی دی! هغه مو ولې ماته راوستلی
دی؟ ١٥ ایا کم لېونیان لرم؟ ولې دې بل هم راوست چې خپل د لېونتوب په حرکتونو سره ما وځوروي؟ زه
نه غواړم چې هغه زما ماڼۍ ته راننوځي.»

## د کاهنانو عام وژنه

٢٢ ١ داود د جت څخه لاړ او د ادولام سمڅې ته وتښتېد. کله چې د هغه ورونو او د هغه پاتې کورنۍ
واورېدل چې هغه هلته دی، نو دوی هلته د هغه سره یوځای شول. ٢ هغه خلک چې په تکلیف کې وو یا
پوروړي وو یا شکایت یې درلود داود ته راټول شول او هغه د دوی مشر شو. شاوخوا څلور سوه سړي د هغه
سره وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ داود له هغه ځای څخه د موآب مصفې ښار ته لاړ او د موآب پاچا ته يې وويل: «اعليحضرته! ايا زما
مور او پلار ته اجازه ورکوئ چې راشي او ستاسو سره پاتې شي تر هغې پورې چې زه پوه شم چې خدای به زما
دپاره څه کوي؟» ۴ نو داود خپل مور او پلار د موآب پاچا ته بوتلل او دوی د هغه سره تر هغه وخته
پورې پاتې شول ترڅو پورې چې داود په يو خوندي ځای کې پټ ؤ.

۵ يوه ورځ جاد نبي داود ته وويل: «دلته مه پاتې کېږه، د يهودا خاورې ته لاړ شه.» نو داود لاړ او د
حارث ځنګل ته ورغی.

۶ يوه ورځ شاوول په جبعه کې په يوې غونډۍ باندې د غز د ونې لاندې نېزه په لاس ناست ؤ او ټول
افسران يې د هغه په شاوخوا کې ولاړ وو. هغه ته خبر ورغی چې داود او د هغه سړي پيدا شول. ۷ هغه
خپلو افسرانو ته وويل: «ای د بنيامين خلکو! واورئ، ايا د يسي زوی به تاسو ټولو ته ځمکې او د انګورو
باغونه درکړي؟ ايا هغه به تاسو د زر کسيزه ډلې قوماندانان او يا د سل کسيزه ډلې قوماندانان وټاکي؟ ۸
ايا د دې دپاره تاسو زما په ضد دسيسه جوړوئ؟ تاسو يو هم ماته ونه ويل چې زما خپل زوی د داود سره
لاس يو کړی دی. هېڅوک نشته چې په ما زړه وسوځي يا ماته ووايي چې زما خپل سړی داود همدا اوس زما
د وژلو دپاره موقعه لټوي او زما زوی هغه هڅولی دی!»

۹ خو ادومي دواغ چې د شاوول د افسرانو سره ولاړ ؤ وويل: «ما د يسي زوی وليد چې په نوب کې د
اخيتوب زوی اخيملک ته راغی. ۱۰ اخيملک د څښتن څخه پوښتنه وکړه چې داود بايد څه وکړي او
وروسته هغه داود ته يو څه خواړه او د فلسطيني جليات توره ورکړه.»

۱۱ نو شاوول پاچا د اخيتوب زوی اخيملک کاهن او د هغه د پلار ټوله کورنۍ چې هغوی هم په نوب کې
کاهنان وو راوغوښتل او د ده حضور ته حاضر شول. ۱۲ شاوول وويل: «ای د اخيتوب زويه، واوره!»

هغه ځواب ورکړ: «هو، ښاغليه، زه ستاسو په خدمت کې يم.»

۱۳ شاوول د هغه څخه پوښتنه وکړه: «تا او د يسي زوی ولې زما په ضد دسيسه جوړه کړې ده؟ ولې دې
هغه ته ډوډۍ او توره ورکړې ده او د هغه دپاره دې د خدای سره مشوره کړې ده؟ هغه اوس زما په ضد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راپورته شوی او موقعه لټوي چې ما ووژني!»

۱۴ اخیملک په ځواب کې وویل: «ستاسو په افسرانو کې داود تر ټولو وفادار دی! هغه ستاسو زوم دی، ستاسو د ساتونکو مشر دی او په شاهي دربار کې هر یو د هغه درناوی کوي. ۱۵ هو، ما د هغه دپاره د خدای سره مشوره کړې ده او دا لومړی ځل نه دی. تر کومه ځایه چې ستاسو په ضد د دسیسې خبره ده، نو تاسو اعلیحضرت باید په ما او همدارنګه زما په کورنۍ باندې تور ونه لګوئ، د دې خبرې څخه زه هیڅ خبر نه یم!»

۱۶ پاچا وویل: «ای اخیملکه! ته او ستا د پلار ټوله کورنۍ باید ووژل شئ.» ۱۷ په دې وخت کې پاچا هغه ساتونکو ته چې د ده په څنګ کې وو حکم وکړ: «د څښتن کاهنان ووژنئ، ځکه چې دوی هم د داود پلویان دي. دوی پوهېدل چې هغه تښتي، خو بیاهم دوی زه خبر نه کړم.» خو د پاچا ساتونکو ونه غوښتل چې د څښتن په کاهنانو باندې لاس پورته کړي او هغوی ووژني. ۱۸ نو شاوول ادومي دواغ ته وویل: «ته هغوی ووژنه!» او دواغ هغوی ټول ووژل. په هغه ورځ یې پنځه اتیا کاهنان چې د کتان سپېځلي پېشبندونه به یې اغوستل، ووژل. ۱۹ وروسته نوب د کاهنانو ښار ته لاړ او د کاهنانو کورنۍ د ښځو او سړیو نه نیولې تر کوچنیانو او تي رودونکو ماشومانو پورې یې ټول ووژل. حتی غویان، خره او د هغوی پسونه یې هم ژوندي پرېنښودل.

۲۰ خو ابیاتار چې د اخیملک د زامنو څخه او د اخیتوب لمسی ؤ وتښتېد او لاړ چې د داود سره یوځای شي. ۲۱ هغه داود ته خبر ورکړ چې شاوول د څښتن کاهنان ووژل. ۲۲ داود ابیاتار ته وویل: «کله چې ما په هغه ورځ ادومي دواغ هلته ولید زه پوه شوم چې هغه به خامخا شاوول ته خبر ورکوي. نو ستا د ټولو خپلوانو د مړینې مسوولیت زما په غاړه دی. ۲۳ زما سره پاتې شه او مه وېرېږه. هغه سړی چې غواړي تا ووژني، هغه غواړي چې ما هم ووژني. ته به زما سره خوندي یې.»

## داود د قعیلې ښار ژغوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۲۳

۱ یوه ورځ داود ته خبر ورسېده چې فلسطینیانو د قعیلې په ښار باندې حمله کړې ده او
درمندونه لوټوي. ۲ نو هغه د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ایا زه لاړ شم او په فلسطینیانو باندې حمله
وکړم؟»

څښتن ځواب ورکړ: «هو، په هغوی باندې حمله وکړه او قعیله وژغوره.»

۳ خو د داود نفرو هغه ته وویل: «مونږ دلته په یهودا کې وېرېږو، نو که د فلسطینیانو د ځواکونو مقابلې
دپاره قعیلې ته لاړ شو نو زمونږ وېره به نوره هم زیاته شي.» ۴ داود یوځل بیا د څښتن څخه پوښتنه وکړه
او څښتن هغه ته ځواب ورکړ: «قعیلې ته لاړ شه، ځکه چې زه به فلسطینیان تاته تسلیم کړم.» ۵ نو
داود د خپلو سړیو سره قعیلې ته لاړ او د فلسطینیانو په ځواکونو باندې یې حمله وکړه. د هغو څخه یې
زیات ووژل او د هغوی څاروي یې یووړل. په دې ډول داود د قعیلې ښار وژغوره.

۶ کله چې ابیاتار د اخیملک زوی وتښتېد او په قعیله کې د داود سره یوځای شو، سپېڅلی پېشبند یې
له ځان سره راوړ. ۷ شاوول ته خبر ورسېده چې داود قعیلې ته تللی دی، هغه وویل: «خدای هغه ماته
راتسلیم کړ. داود خپل ځان د دېوال او د قوي دروازو په لرونکي ښار کې کلابند کړی دی.» ۸ نو شاوول
خپل ټول ځواکونه د جګړې دپاره راوغوښتل چې قعیلې ته لاړ شي او داود او د هغه سړي کلابند کړي.

۹ کله چې داود واورېدل چې شاوول په هغه باندې د حملې کولو نیت لري، هغه ابیاتار کاهن ته وویل:
«سپېڅلی پېشبند دلته راوړه.» ۱۰ داود دعا وکړه: «ای څښتنه، د اسراییلو خدایه! ما اورېدلي دي چې
شاوول نیت لري چې قعیلې ته راشي او ښار زما یعنې ستا د غلام په خاطر له منځه یوسي. ۱۱ ایا د قعیلې
ښاریان به ما شاوول ته وسپاري؟ ایا لکه څنګه چې مې اورېدلي دي شاوول به په رښتیا سره راشي؟ ای
څښتنه، د اسراییلو خدایه، زه تاته زاري کوم چې ځواب راکړه!»

څښتن ځواب ورکړ: «شاوول به راشي.»

۱۲ داود پوښتنه وکړه: «ایا د قعیلې ښاریان به ما او زما سړي شاوول ته وسپاري؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن وويل: «هغوی به تاسو وسپاري.»

۱۳ نو داود او د هغه سړي چې شمېر يې شپږ سوه تنه وو د قعيلې ښځه لاړل او د يو ځای ښځه به بل
ځای ته تلل. کله چې شاوول ته خبر ورسېده چې داود د قعيلې ښځه تښتېدلی دی، نو هغه خپل د تګ پلان
پرېښود.

## داود په غرونو کې

۱۴ داود د زيف د دښتې په غرنۍ سيمه کې په خوندي ځايونو کې اوسېده. شاوول تل هڅه کوله چې
هغه پيدا کړي، خو خدای داود هغه ته په لاس نه ورکاوه.

۱۵ کله چې داود په حورش کې د زيف په دښته کې ؤ، هغه پوه شو چې شاوول د هغه د وژلو دپاره راوتلی
دی. ۱۶ د شاوول زوی يوناتان حورش ته د داود ليدلو له ورغی او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې خدای ستا
سره مل دی. ۱۷ يوناتان وويل: «مه وېرېږه، زما پلار به ونه شي کولای چې تا پيدا کړي. ته به په اسراييلو
باندې پاچا شې او زه به په رتبه کې ستا نه دوهم يم، زما پلار شاوول هم په دې باندې پوهېږي.» ۱۸
هغوی دواړو د څښتن په حضور کې تړون وکړ. بيا يوناتان کور ته لاړ، خو داود په حورش کې پاتې شو.

۱۹ د زيف خلک شاوول ته چې په جبعې کې اوسېده لاړل او ورته وېې ويل: «داود زمونږ په سيمه کې، په
حورش کې د حخيله په غره کې چې د يهودا د دښتې په جنوب کې پروت دی، پټ شوی دی. ۲۰
اعليحضرته! اوس نو کله چې ستاسو خوښه وي راشئ او مونږ د دې مسووليت په غاړه لرو چې هغه تاسو ته
وسپارو.»

۲۱ شاوول ځواب ورکړ: «څښتن دې تاسو ته برکت درکړي، ځکه چې تاسو په ما باندې ډېره مهرباني
کوئ.» ۲۲ شاوول زياته کړه: «لاړ شئ، نور تياری هم ونيسئ او معلومه کړئ چې داود د عادت له مخې
چېرته ځي او چا دی په هغه ځای کې ليدلی دی. ما اورېدلي دي چې هغه ډېر مکرجن دی. ۲۳ د هغه د
پټېدلو ټول ځايونه معلوم کړئ او د ښکاره معلوماتو سره بېرته ماته راشئ. وروسته له هغې به زه ستاسو سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړ شم، که چېرې د یهودا د سیمې په هره قبیله کې وي زه به یې پیدا کړم.»

۲۴ نو دوی رخصت شول او د شاوول څخه مخکې زیف ته لاړل. داود او د هغه کسان د معون په دښته
کې وو یعنې د یهودا د دښتې د جنوبي برخې په یوه دره کې. ۲۵ شاوول او د هغه کسانو په لټولو شروع
وکړه، کله چې داود ته په دې هکله خبر ورسېده، هغه یو لوی ګټ ته چې د معون په دښته کې ؤ لاړ او هلته
پاتې شو. کله چې شاوول دا واورېدل، نو داود پسې د معون دښتې ته لاړ. ۲۶ شاوول د یو غره یوه اړخ ته
او داود او د هغه سړي د غره بل اړخ ته تلل او بیړه یې کوله چې د شاوول څخه وتښتي. څنګه چې شاوول او
د هغه ځواکونه داود او د هغه سړیو ته نژدې کېدل چې دوی ونیسي، ۲۷ یو استازی شاوول ته راغی او
ویې ویل: «زر راشه! فلسطینیانو زمونږ په خاورې حمله کړې ده.» ۲۸ نو شاوول د داود تعقیبول
پرېښودل او لاړ چې د فلسطینیانو سره وجنګیږي. له دې امله دا ځای د تېښتې د ګټ په نوم یاد شو. ۲۹
داود لاړ او د عین جدي په خوندي ځای کې اوسېده.

## داود نه غواړي شاوول ووژني

۲۴ ۱ کله چې شاوول د فلسطینیانو سره د جنګ څخه وروسته راستون شو، هغه خبر شو چې داود د
عین جدي په دښته کې دی. ۲ شاوول په اسراییلو کې د ډېرو ښو عسکرو څخه درې زره نفره واخیستل
او لاړ چې د غرنۍ وزو ګټونو ته نژدې داود او د هغه سړي ولټوي. ۳ هغه په لاره کې د پسونو د پنډېدلو
ځای ته نژدې یوې سمڅې ته ورغی او لاړ چې خپل حاجت رفع کړي. دا هماغه سمڅه وه چې داود او د
هغه سړي په کې په اخرنۍ څنډه کې پټ شوي وو. ۴ د داود سړیو هغه ته وویل: «دا ستا دپاره یوه
موقعه ده! څښتن تاته ویلي وو چې هغه به ستا دښمن ستا په لاس تسلیم کړي او هرڅه چې غواړې د هغه
سره یې وکړې.» داود غلی لاړ او بې له دې چې شاوول پوه شي د هغه د چپنې څخه یې یوه ټوټه غوڅه کړه.
۵ له هغې وروسته د داود وجدان ناارامه شو، ځکه چې د هغه د چپنې ټوټه یې غوڅه کړې وه. ۶
هغه خپلو نفرو ته وویل: «څښتن دې ما له دې څخه وساتي چې خپل بادار ته چې څښتن هغه د پاچا په
توګه غوره کړی دی زیان ورسوم! زه باید هغه ته ډېر لږ زیان هم ونه رسوم، ځکه چې هغه د څښتن له خوا
غوره شوی پاچا دی.» ۷ په دې خبرو داود خپل سړي ورټل او هغوی یې پرېنښودل چې په شاوول باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله وکړي. شاوول سمځه پرېښودله او په خپله لاره لاړ.

٨ داود هم د سمڅې څخه راووت او شاوول ته يې غږ وکړ: «اعليحضرته! زما باداره!» کله چې شاوول
شاته وکتل، داود د درناوي په خاطر ټيټ شو. ٩ هغه شاوول ته وويل: «ولې د خلکو خبرې اورئ چې
وايي: پام کوه، داود غواړي چې تاته زيان ورسوي؟ ١٠ تاسو په خپله وليدل چې همدا اوس په دې سمځه
کې څښتن ماته په لاس راکړئ. زما ځينو نفرو زه تشويق کړم چې تاسو ووژنم، خو ما درباندې رحم وکړ.
هغوی ته مې وويل: زه به هېڅکله خپل بادار ته زيان ونه رسوم، ځکه چې څښتن هغه غوره کړی دی چې
پاچا شي. ١١ وګوره، ای زما پلاره، زما په لاس کې څه شی دی! ليدلی شې چې دا ستا د چپنې يوه ټوټه
ده. ما کولای شول چې تا ووژنم، خو د هغې په ځای مې يوازې ستا چپنه غوڅه کړه. يقين وکړه چې زه ستا
په ضد د ياغي توب يا تاته د زيان رسولو په فکر کې نه يم. ما ستا سره غلطي نه ده کړې، خو ته زما د وژلو
په لټه کې يې. ١٢ څښتن دې قضاوت وکړي چې زمونږ څخه کوم يو ملامت دی! څښتن دې ستا څخه د
هغو بدو کارونو بدله واخلي چې زما سره دې کړي دي، خو سره له دې به زه ډېر کم زيان هم تاته در ونه
رسوم. ١٣ لکه چې پخوانی متل دی: بد کارونه يوازې د بدو خلکو په وسيله تر سره کيږي، نو زه به تاته
زيان ونه رسوم. ١٤ د اسراييلو پاچا د چا په ضد وتلی دی؟ تاسو څوک تعقيبوئ؟ مړ سپی؟ يا وروه؟ ١٥
څښتن به قضاوت کوي او هغه به دا پرېکړه کوي چې زمونږ څخه کوم يو ملامت دی. هغه دې دا موضوع
وڅېړي، زما دفاع دې وکړي او ستا د لاس څخه دې ما وژغوري.»

١٦ کله چې داود خپلې خبرې خلاصې کړې، شاوول پوښتنه وکړه: «ايا په رښتيا سره دا ته يې، ای داوده
زما زويه؟» او په لوړ اواز يې په ژړا پيل وکړ. ١٧ شاوول زياته کړه: «ته زما څخه زيات نېک يې. تا زما سره
ښه رويه، خو ما ستا سره بده رويه کړې ده. ١٨ تا نن وښودله چې زما سره دې ښېګڼه وکړه، ځکه سره له
دې چې څښتن زه تاته تسليم کړم خو تا ونه وژلم. ١٩ کله چې يو کس خپل دښمن پيدا کړي ايا هغه به
بې له زيان رسولو پرېږدي؟ د هغې رويې په سبب چې نن دې زما سره وکړه څښتن دې تاته اجر درکړي.
٢٠ اوس زه په دې باندې يقين لرم چې ته به پاچا شې او ستا پاچاهي به په اسراييلو باندې ټينګه شي.
٢١ خو زما سره د څښتن په نوم قسم وخوره چې زما اولاده به نه وژنې او زما نوم به زما د پلار د کورنۍ
څخه له منځه نه وړې.» ٢٢ نو داود د شاوول دپاره قسم وخوړ. وروسته له هغه شاوول خپل کور ته ستون
شو، خو داود او د هغه سړي خپل خوندي ځای ته لاړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سموييل مړينه

۲۵ ۱ هغه وخت راورسېد چې سموييل مړ شو. ټول اسراييليان راغونډ شول او د هغه دپاره يې وير
وکړ. هغه يې په رامه کې په خپله ځمکه کې ښخ کړ. وروسته له هغه داود د فاران دښتې ته لاړ.

## داود، نابال او ابيجايل

۲-۳ په هغه ځای کې د کاليب د قبيلې څخه يو سړی ؤ چې نابال نومېده. هغه د معون د ښار څخه ؤ
او د کرمل ښار ته نژدې يې خپله ځمکه درلودله. نابال ډېر شتمن سړی ؤ او درې زره پسونه او زر وزې يې
درلودلې. د هغه ښځه ابيجايل ښکلې او هوښياره وه، خو نابال سخت او بد خويه سړی ؤ.

نابال په کرمل کې خپل پسونه سکولول ۴ او داود چې هغه وخت په دښته کې ؤ دا خبره يې واورېدله.
۵ نو لس تنه ځوانان يې د دې امر سره واستول چې کرمل ته لاړ شي، نابال پيدا کړي او د ده سلامونه
هغه ته ورسوي. ۶ داود هغوی ته امر وکړ چې نابال ته ووايي: «خوشحاله او ژوندی اوسئ! تاسو ته او
ستاسو کورنۍ ته ښه روغتيا غواړم! هغو ټولو ته چې ستاسو سره دي هم روغتيا غواړم! ۷ ما واورېدل چې
د پسونو د سکولولو وخت دی. کله چې ستاسو شپانه زمونږ سره وو، مونږ د هغوی سره بده رويه نه وه کړې.
ټول وخت چې هغوی په کرمل کې وو د هغوی څخه هېڅ شی ورک نه شو. ۸ د خپلو خدمتګارانو څخه
پوښتنه وکړئ او دوی به درته ووايي. نن ځانګړې ورځ ده. له دې امله زما د ځوانانو سره مهربانه اوسئ.
لطف وکړئ څه چې راکولای شئ مونږ او خپل زوی داود ته يې ورکړئ.»

۹ د داود کسان راورسېدل او د داود په نوم يې نابال ته پيغام ورکړ. بيا هغوی د ځواب دپاره منتظر
شول. ۱۰ نابال د داود خدمتګارانو ته په ځواب کې وويل: «داود څوک دی؟ د يسي زوی څه کار کوي؟
په دې ورځو کې ډېر نوکران د خپلو بادارانو څخه تښتي. ۱۱ ايا هغه ډوډۍ، اوبه او غوښه چې د خپلو
پسونو سکولوونکو دپاره مې تيار کړي دي واخلم او هغو خلکو ته يې ورکړم، چې زه نه پوهېږم د کوم ځای
څخه راغلي دي؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ نو د داود خدمتګاران بېرته هغه ته ورغلل او هرڅه چې نابال ویلي وو ورته بیان یې کړل. ۱۳ داود
خپلو نفرو ته امر وکړ: «خپلې تورې له ملا وتړئ!» نو دوی خپلې تورې وتړلې او داود خپله توره وتړله.
شاوخوا څلور سوه نفره د داود سره لاړل او دوه سوه نفره د سامانونو سره پاتې شول.

۱۴ د نابال د خدمتګارانو څخه یو کس د نابال ښځې ابیجایل ته وویل: «ایا تا اورېدلي دي؟ داود د دښتې
څخه ځینې استازي زمونږ بادار ته رالېږلي وو چې د هغه سلامونه ورته ورسوي، خو نابال دوی سپک کړل.
۱۵ بیاهم د داود سړي زمونږ سره ډېر ښه وو. هغوی زمونږ سره بده رویه نه ده کړې او ټوله موده چې په
دښته کې د هغوی سره نژدې وو زمونږ هېڅ شی ورک نه شو. ۱۶ په ټوله موده کې چې مونږ د دوی
تر څنګ رمې څرولې، لکه د دېوال په شان یې شپه او ورځ زمونږ ساتنه کوله. ۱۷ اوس په دې هکله کې
فکر وکړه او وګوره چې ته څه کولای شې، ځکه چې زمونږ په بادار او د هغه په ټوله کورنۍ باندې مصیبت
راروان دی. هغه دومره بد خویه سړی دی چې هېڅوک ورسره خبرې نه شي کولای.»

۱۸ ابیجایل وخت له لاسه ورنه کړ، هغې دوه سوه دانې ډوډۍ، د شرابو دوه ژي، پنځه تیار شوي پسونه،
پنځه پیمانې وریتې شوې غلې دانې، د ممیزو سل کلچې او د وچ شویو انځرو دوه سوه کلچې یې واخیستلې
او هغه یې په خرو باندې بار کړې. ۱۹ بیا هغې خپلو خدمتګارانو ته وویل: «تاسو مخکې لاړ شئ او زه
درپسې ځم.» خو هغې خپل مېړه نابال ته څه ونه ویل. ۲۰ هغه په خپل خره باندې سپره وه او د غره
لمنې ته راښکته کېدله چې ناڅاپه یې داود او د هغه کسان ولیدل چې د هغې خواته راروان وو. ۲۱ داود
لږ مخکې ویلي وو: «دا بې فایدې وه چې د دې سړي شتمنې مې په دې دښته کې وساتله چې د هغه هېڅ
شی ورک نه شو. هغه د ښو په بدل کې راسره بد وکړل. ۲۲ خدای دې ما ووژني که چېرې زه د سهار
څخه مخکې د نابال خلکو څخه اخرنی نارینه هم ونه وژنم.»

۲۳ کله چې ابیجایل داود ولید، هغه په بیړه د خپل خره څخه راښکته شوه او د هغه د درناوي په خاطر
ټیټه شوه. ۲۴ هغه د داود پښو ته پرېوتله او ویې ویل: «ای زما باداره، پرېږدئ چې ملامتي یوازې په ما
باندې وي. خپلې خدمتګارې ته اجازه ورکړئ چې خبرې درسره وکړم، واورئ چې ستاسو خدمتګاره څه
وایي. ۲۵ زما بادار دې د دغه بېکاره سړي نابال پروا نه ساتي، هغه کټ مټ د خپل نوم په شان احمق
سړی دی! ای باداره، کله چې ستاسو خدمتګاران راورسېدل زه په هغه ځای کې نه وم. ۲۶ دا څښتن دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تاسو يې د خپلو دښمنانو څخه د بدل اخيستلو او وژلو څخه منع کړي يئ. اوس زه تاسو ته د ژوندي
څښتن په نوم او ستاسو په سر قسم خورم چې ستاسو دښمنان او هغوی چې غواړي تاسو ته زيان ورسوي لکه
د نابال په شان به سزا ومومي. ۲۷ مهرباني وکړئ، دغه سوغات چې تاسو ته مې راوړی دی قبول کړئ او
خپلو سړيو ته يې ورکړئ. ۲۸ ای ښاغليه، هيله لرم کومه خطا چې زما څخه شوې ده هغه راته وبخښئ.
څښتن به تاسو او همدارنګه ستاسو اولاده هم پاچاهان کړي، ځکه چې تاسو د هغه دپاره جنګېږئ او ترڅو
پورې چې ژوندي يئ، بد کار به ونه کړئ. ۲۹ که چېرې څوک په تاسو باندې حمله وکړي او ستاسو د
وژلو هڅه وکړي، ستاسو څښتن خدای به تاسو داسې خوندي وساتي لکه څوک چې د يوې قيمتي خزانې
ساتنه کوي. خو ستاسو دښمنان به لېرې ګوزار کړي لکه څنګه چې څوک تيږه په مچنوغزه باندې ګوزاروي.
۳۰ او څه وخت چې څښتن هغه ټول ښه کارونه چې ستاسو سره يې وعده کړې سرته ورسوي او تاسو د
اسراييلو مشر وټاکي، ۳۱ نو باداره! ستاسو وجدان به د بېځايه وژنې يا د بدلې اخيستلو د پښېمانۍ
احساس نه کوي. او کله چې څښتن تاسو ته برې درکړي، نو ما هېره نه کړئ.»

۳۲ داود ابيجايل ته وويل: «د اسراييلو د څښتن خدای ثنا دې وي چې نن ورځ يې ته زما د ليدلو دپاره
راواستولې! ۳۳ ستا د ښه قضاوت دپاره دې د خدای شکر وي چې زه دې نن ورځ د وينې تويولو او زما په
خپل لاس د بدلې اخيستلو څخه وساتلم. ۳۴ څښتن پرېنښودم چې تاته زيان ورسوم. خو زه د اسراييلو د
ژوندي خدای په نوم قسم خورم چې که چېرې تا زما د ليدلو دپاره بيړه نه وای کړې، نو تر سهاره پورې به د
نابال ټول نارينه وژل شوي وای!» ۳۵ بيا داود هغه څه قبول کړل چې هغه ته يې راوړي وو او ورته ويې
ويل: «په خير سره خپل کور ته لاړه شه، ستا خبرې مې واورېدلې او ستا غوښتنه مې ومنله.»

۳۶ ابيجايل بېرته نابال ته ورغله، هغه په کور کې ؤ او يوه داسې مېلمستيا يې جوړه کړې وه لکه څنګه چې
د پاچا دپاره جوړېږي. هغه نشه ؤ او خوشحاله ؤ. نو هغې تر سبا سهاره پورې ده ته هېڅ څه ونه ويل. ۳۷
نو وروسته له هغې چې نابال په سهار کې د نشې څخه په حال شو، هرڅه چې پېښ شوي وو، هغې ورته
وويل. په هغه باندې د زړه حمله راغله او هغه بيخي فلج شو. ۳۸ نابال لس ورځې په همدې حال کې ؤ او
وروسته څښتن د هغه ژوند پای ته ورساوه.

۳۹ کله چې داود واورېدل چې نابال مړ شو، هغه وويل: «د څښتن ثنا دې وي! هغه د نابال څخه زما د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپکاوی بدله واخیستله او زه یې د بد کار څخه وساتلم. څښتن نابال ته د خپلو بدیو سزا ورکړه.» وروسته
له هغې داود ابیجایل ته پیغام واستاوه او غوښتنه یې ورڅخه وکړه چې د ده سره واده وکړي. ۴۰ د هغه
خدمتګاران کرمل ته لاړل او ابیجایل ته یې وویل: «داود مونږ تاته رالیږلي یو چې تا د ځان سره بوځو چې د
هغه سره واده وکړې.»

۴۱ ابیجایل د درناوي په خاطر ټیټه شوه او ویې ویل: «داود ته داسې ووایئ: زه ستاسو وینځه دې ته تیاره
یم چې ستاسو خدمت وکړم او ستاسو د خدمتګارانو پښې ووینځم.» ۴۲ هغه زر پاڅېدله او په خپل خره
باندې سپره شوه. پنځه وینځې یې ورسره روانې شوې، هغه د داود د خدمتګارانو سره لاړله او په دې توګه د
هغه ښځه شوه.

۴۳ همدارنګه داود د اخینوعم سره چې د یزرعیل څخه وه هم واده کړی ؤ او دوی دواړه د هغه ښځې
شوې. ۴۴ خو شاوول خپله لور میکال چې د داود ښځه وه فلتي د لایش زوی ته چې د جلیم څخه ؤ ورکړه.

## داود بیاهم نه غواړي شاوول ووژني

۲۶ ۱ بیا د زیف خلک شاوول ته چې په جبعې کې اوسېده لاړل او هغه ته یې وویل: «داود د حخیله
په غره کې چې د یهودا دښتې ته مخامخ دی پټ شوی دی.» ۲ نو شاوول د اسراییلو د درې زره غوره
شویو عسکرو سره د داود د لټولو دپاره د زیف دښتې ته لاړ. ۳ شاوول د حخیله په غره کې چې دښتې
ته مخامخ په لاره کې دی خپلې خېمې ودرولې، خو داود په دښته کې پاتې شو. کله چې هغه خبر شو چې
شاوول د هغه د لټولو دپاره راغلی دی، ۴ هغه جاسوسان واستول او پوه شو چې شاوول په رښتیا
رارسېدلی دی. ۵ داود سمدلاسه هغه ځای ته روان شو چې شاوول په کې خپلې خېمې ودرولې وې. نو
داود هغه ځای ولید چې شاوول او د هغه د لښکرو قوماندان ابنیر د نیر زوی په کې ویده وو. د شاوول
کسان د ده په شاوخوا کې پراته وو او شاوول د هغوی په منځ کې پروت ؤ.

۶ نو داود د حیتي اخیملک او د یوآب د ورور ابیشای څخه (د دوی مور زرویه وه) پوښتنه وکړه:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ستاسو دواړو څخه به کوم يو زما سره د شاوول قرارګاه ته ننوځي؟»

ابيشای ځواب ورکړ: «زه درسره ځم.»

۷ بيا د شپې په وخت داود او ابيشای د شاوول قرارګاه ته ورغلل او ويې ليدل چې شاوول د هغې په منځ
کې ويده دی او نېزه يې خپل سرته نژدې په ځمکه کې ټومبلې ده. ابنير او عسکر د هغه په شاوخوا کې
ويده وو. ۸ ابيشای داود ته وويل: «نن شپه خدای ستا دښمن ستا په لاس کې درکړی دی. اوس اجازه
راکړه چې هغه په يو ګوزار د هغه په خپله نېزه د ځمکې سره مېخ کړم او دوهم ګوزار به پرې ونه کړم.»

۹ خو داود ابيشای ته وويل: «هغه له منځه مه وړه! ښتن به په يقين سره هغه چاته سزا ورکړي چې د
هغه غوره شوي پاچا ته زيان ورسوي.» ۱۰ داود زياته کړه: «په ژوندي ښتن قسم، هغه ورځ به راشي
چې ښتن شاوول ووژني. يا په خپل اجل مړ شي او يا په جګړه کې ووژل شي. ۱۱ ښتن دې داسې نه
کړي چې زه دې هغه چاته د زيان رسولو هڅه وکړم چې ښتن پاچا کړی دی! اوس هغه نېزه او د اوبو کوزه
چې د ده سرته ايښې دي راواخله او ځه چې لاړ شو.» ۱۲ نو داود نېزه او د اوبو کوزه چې د شاوول سرته
ايښې وې راواخيستلې او هغه او ابيشای لاړل. هېچا ونه ليدل او پوه نه شول چې څه پېښ شول او هېڅوک
راويښ نه شو. هغوی ټول ويده وو، ځکه چې ښتن په هغو ټولو باندې دروند خوب راوستلی ؤ.

۱۳ بيا داود د درې بلې خواته تېر شو او د غونډۍ په سر باندې ودرېده. د دوی ترمنځ زياته فاصله وه.
۱۴ داود ابنير او د شاوول لښکرو ته نارې ووهلې: «ای ابنيره! ته زما اواز اورې؟»

ابنير ځواب ورکړ: «ته څوک يې چې نارې وهې او پاچا راپاڅوې؟» ۱۵ داود ځواب ورکړ: «ای ابنيره! په
اسراييلو کې ستا په شان تکړه سړی څوک شته؟ نو بيا ولې د خپل بادار يعنې پاچا ساتنه نه کوې؟ همدا اوس
يو څوک قرارګاه ته ننوتی ؤ چې ستا بادار ووژني. ۱۶ ای ابنيره! ته په خپله وظيفه کې ناکام شوې، زه د
ژوندي ښتن په نوم قسم خورم چې تاسو ټول د مرګ لايق يئ، ځکه چې تاسو د خپل بادار چې ښتن هغه
پاچا کړی دی ساتنه نه ده کړې. وګوره! چېرته ده د پاچا نېزه؟ چېرته ده د اوبو هغه کوزه چې د هغه سرته
ايښې وه؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ شاوول د داود اواز وپېژانده او ويې ويل: «ای زما زويه داوده، ايا دا ستا اواز دی؟»

داود ځواب ورکړ: «هو، اعليحضرته! دا زما اواز دی.» ١٨ او هغه زياته کړه: «ای باداره، تاسو ولې خپل
نوکر تعقيبوئ؟ ما څه کړي دي؟ کوم جرم مې کړی دی؟ ١٩ ای اعليحضرته، زما خبرې واورئ، که چېرې
داسې وي چې څښتن تاسو زما په ضد لمسولی يئ، نو يوه نذرانه دې قبوله کړي. خو که چېرې دا د ځينو
خلکو کار وي، نو د څښتن لعنت دې په هغوی باندې نازل شي، ځکه چې هغوی زه د څښتن د وطن څخه
چېرته چې زما کور ؤ بل هېواد ته وشړلم. يعنې دا چې هغوی ما مجبوروي چې د پرديو خدايانو عبادت
وکړم. ٢٠ اوس مه پرېږدئ چې د څښتن د حضور څخه لېرې په پردی خاوره کې ووژل شم. د اسراييلو
پاچا د څه دپاره راوځي چې زما په شان يوه وربه ووژني؟ هغه ولې لکه د يوې زرکې په شان ما لټوي؟»

٢١ شاوول ځواب ورکړ: «ما ګناه کړې ده! بېرته راشه، ای زما زويه داوده! په دې خاطر چې نن شپه دې
زه ژوندی پرېښودم، زه به بيا هېڅکله تاته زيان ونه رسوم. زما رفتار احمقانه ؤ! ما ډېره لويه غلطي کړې
ده.»

٢٢ داود ځواب ورکړ: «ای اعليحضرته! ستاسو نېزه دلته ده، ستاسو د سړيو څخه دې يو کس راشي او
هغه دې واخلي. ٢٣ څښتن هر هغه چاته اجر ورکوي چې نېک او وفادار وي. هغه نن ته ماته په لاس
راکړی وې، خو ما ونه غوښتل هغه چاته زيان ورسوم چې څښتن د پاچا په توګه غوره کړی دی. ٢٤ لکه
څنګه چې نن ما ستا ژوند وژغوره، نو څښتن دې هم زما ژوند وژغوري او ما دې د ټولو مصيبتونو څخه
خلاص کړي.»

٢٥ نو شاوول داود ته وويل: «ای زما زويه داوده! خدای دې تاته برکت درکړي، ته به مهم کارونه وکړې
او په هغو کې به بريالی يې.» نو داود په خپله لاره لاړ او شاوول خپل کور ته ستون شو.

## داود بيا په فلسطينيانو کې پناه اخلي

٢٧ ١ خو داود د خپل ځان سره فکر وکړ: «يوه ورځ به شاوول ما ووژني، زما دپاره تر ټولو ښه خبره دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده چې د فلسطينيانو خاورې ته وتښتم. نو شاوول به په اسراييلو کې زما د لټون څخه لاس واخلي او زه به د
هغه له لاسه خلاص شم.» ۲ نو داود د خپلو شپږ سوه نفرو سره د اسراييلو د سرحد څخه تېر شو او د
جت پاچا آخيش ته چې د معوک زوی ؤ ورغی. ۳ داود او د هغه کسان په جت کې د آخيش سره ځای په
ځای شول. د هر سړي سره خپله کورنۍ وه. همدارنګه د داود سره خپلې دوه ښځې يعنې يزرعيلي اخينوعم
او د نابال کونډه ابيجايل کرملي وې. ۴ کله چې شاوول واورېدل چې داود جت ته تښتېدلی دی، هغه د
داود د لټولو هڅه پرېښودله.

۵ داود آخيش ته وويل: «که زما څخه خوشحاله يئ ماته يو وړوکی ښار راکړئ چې په کې واوسېږم.
باداره! زما دپاره دا لازمه نه ده چې ستاسو سره په پايتخت کې واوسېږم.» ۶ نو آخيش په هغه ورځ داود
ته د صقلغ ښار ورکړ او له دې امله د صقلغ ښار تر نن ورځې پورې د يهودا د پاچاهانو دی. ۷ داود يو
کال او څلور مياشتې د فلسطينيانو په خاوره کې ژوند وکړ.

۸ په دې دوران کې به داود او د هغه نفرو په جشوريانو، جرزيانو او عماليقيانو باندې حملې کولې. دغه
قومونه د ډېرې اوږدې مودې راهيسې په هغه خاوره کې چې د شور څخه تر مصر پورې رسېدله اوسېدل.
۹ کله به چې داود په يوې سيمې باندې حمله کوله نو يو سړی يا ښځه به يې هم ژوندی نه پرېښود.
همدارنګه د هغوی پسونه، غويان، خره، اوښان او حتی کالي به يې اخيستل. بيا به بېرته آخيش ته راستنېده.
۱۰ کله به چې آخيش پوښتنه کوله: «دا ځل دې په کوم ځای باندې حمله کړې ده؟» داود به ورته ويل:
«زه د يهودا جنوبي برخې ته» يا «د يرحميل سيمې ته» يا «هغې سيمې ته تللی وم چې قينيان په کې
اوسيږي.» ۱۱ داود به هر يو سړی او ښځه وژل، ترڅو هېڅوک ونه شي کولای بېرته جت ته لاړ شي او
خبر ورکړي چې داود او د هغه سړيو په رښتيا سره څه کړي دي. تر هغه وخته پورې چې داود په فلسطين
کې اوسېده همداسې به يې کول. ۱۲ آخيش په داود باندې باور کاوه او د ځان سره به يې ويل: «د هغه
خپل قوم اسراييل د هغه څخه دومره زياته کرکه کوي چې هغه به ټول عمر زما خدمت کوي.»

## ۲۸

۱ په هغو ورځو کې فلسطينيانو خپل ځواکونه راغونډ کړل چې د اسراييلو سره جنګ وکړي. آخيش
داود ته وويل: «ته بايد پوه شې چې ته او ستا سړي بايد زما د لښکرو سره ملګرتيا وکړئ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ داود ووېل: «تاسو به په خپله ووينئ چې ستاسو نوکر څه کولای شي.»

آخيش ځواب ورکړ: «ډېر ښه، زه به تا تل عمر خپل ساتونکی وټاکم.»

## شاوول د يوې کوډګرې سره مشوره کوي

۳ په دې وخت کې سموييل مړ شوی ؤ او ټولو اسراييليانو د هغه دپاره وير کړی ؤ او هغه يې په خپل
ښار يعنې رامه کې ښخ کړی ؤ. شاوول کوډګران او هغه خلک چې د مړو د ارواحګانو سره يې خبرې کولې د
اسراييلو څخه شړلي وو.

۴ د فلسطينيانو لښکرې سره راټولې شوې او د شونيم ښار ته نژدې يې خېمې ودرولې. شاوول ټول
اسراييليان راغونډ کړل او د جلبوع په غره کې يې خېمې ودرولې. ۵ کله چې شاوول د فلسطينيانو
ځواکونه وليدل هغهووېرېد او زړه يې سخت رپېده. ۶ نو هغه د څښتن څخه پوښتنه وکړه چې څه
وکړي، خو څښتن هغه ته نه د خوبونو، نه د اوريم په کارولو او نه د نبيانو په وسيله ځواب ورکړ. ۷ نو
شاوول خپلو درباريانو ته حکم وکړ: «ماته يوه ښځه راپيدا کړئ چې کوډګره وي او د مړو د ارواحګانو سره
مشورې کوي چې زه هغې ته ورشم او ورڅخه پوښتنه وکړم.»

هغوی ځواب ورکړ: «د عين دور په ښار کې يوه کوډګره ښځه شته.»

۸ نو شاوول خپله څېره بدله کړه، نور کالي يې واغوستل او د خپلو دوه نفرو سره د شپې په تياره کې
هغې ښځې ته ورغی. هغه ورته ووېل: «زما دپاره د ارواحګانو سره مشوره وکړه او ماته ووايه چې څه
کېدونکي دي. هغه سړی ماته راوغواړه چې زه يې نوم درته وايم.» ۹ خو ښځې هغه ته ووېل: «بې له
شکه ته پوهېږې چې شاوول څه کړي دي، هغه کوډګران او هغه څوک چې د مړو د ارواحګانو سره خبرې
کوي د هېواد څخه شړلي دي. ولې دې راته دام ايښی دی چې ومې وژنې؟»

۱۰ شاوول هغې ته د ژوندي څښتن په نوم باندې قسم وخوړ او ويې ويل: «په دې کار به ته سزا ونه
مومې.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ نو ښځې پوښتنه وکړه: «څوک درته راوغواړم؟»

هغه وویل: «سموییل راته راوغواړه.»

١٢ کله چې هغې ښځې سموییل ولید، په لوړ اواز یې چیغې ووهلې. هغې شاوول ته وویل: «زه دې ولې
وغولولم؟ ته شاوول یې!»

١٣ پاچا هغې ته وویل: «مه ویرېږه! څه شی وینې؟»

ښځې په ځواب کې وویل: «زه یوه ارواح وینم چې د ځمکې څخه بیرون راوځي.»

١۴ هغه پوښتنه وکړه: «هغه د څه شي په شان ښکاري؟»

هغې وویل: «یو زوړ سړی چې چپنه یې اغوستې ده راپورته کیږي.» نو شاوول پوه شو چې سموییل دی، هغه
د درناوي په خاطر ټیټ شو.

١۵ سموییل شاوول ته وویل: «زه دې ولې په تکلیف کړم چې بېرته راشم؟»

شاوول وویل: «زه په لوی مصیبت باندې اخته یم. فلسطینیان زما سره جګړه کوي، خدای زما څخه خپل مخ
اړولی دی او ماته نور نه د نبیانو او نه د خوبونو په وسیله ځواب راکوي. نو تاسو مې د دې دپاره راوغوښتلئ
چې راته ووایئ چې څه وکړم.»

١٦ سموییل وویل: «اوس چې څښتن ستا څخه مخ اړولی دی او ستا دښمن شوی دی ولې زما سره مشوره
کوې؟ ١٧ څښتن هغه څه کړي دي چې زما په وسیله یې تاته ویلي وو. هغه ستا څخه پاچاهي اخیستې او
داود ته یې ورکړې ده. ١٨ تا د څښتن د حکم څخه سرغړونه وکړه او د هغه قهر او غضب دې عمالیقیانو
ته ونه ښود. نو ځکه څښتن دا ورځ په تا باندې راوستې ده. ١٩ پرته له دې به څښتن اسراییل او تا دواړه
فلسطینیانو ته په لاس ورکړي او سبا به ته او ستا زامن زما سره یئ. څښتن به د اسراییلو لښکر هم
فلسطینیانو ته تسلیم کړي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ شاوول سمدلاسه پرېوت او په ځمکه باندې اوږد وغزېده. د سموييل له خبرو څخه ډېر ووېرېده. هغه
خپل قوت له لاسه ورکړی ؤ، ځکه چې هغه ټوله ورځ او ټوله شپه هېڅ شی نه ؤ خوړلی. ۲۱ کله چې هغه
ښځه شاوول ته ورغله او ويې ليدل چې هغه ډېر وېرېده، هغې ورته وويل: «ګورئ، باداره! ما خپل ځان په
خطر کې واچاوه او تاسو چې څه ماته ويلي وو هغه کار مې وکړ. ۲۲ اوس مهرباني وکړئ څه چې زه وايم
هماغسې وکړئ. اجازه راکړئ چې ستاسو دپاره يو څه خواړه تيار کړم. تاسو بايد څه وخورئ ترڅو د سفر
دپاره پوره قوت پيدا کړئ.»

۲۳ شاوول انکار وکړ او ويې ويل: «نه يې خورم.» خو د هغه نفرو او هغې ښځې هغه وهڅاوه او هغه د
دوی خبره ومنله. هغه د ځمکې څخه راپورته شو او په کټ باندې کښېناست. ۲۴ هغې ښځې په کور کې
يو چاغ خوسکی درلود، هغه يې په بيړه سره حلال کړ. وروسته هغې يو څه اوړه راواخيستل، ويې اغږل او
فطيره ډوډۍ يې پخه کړه. ۲۵ بيا يې هغه خواړه د شاوول او د هغه د نفرو په مخکې کېښودل او هغوی
وخوړل. په هماغه شپه هغوی پاڅېدل او روان شول.

## فلسطينيان داود نه قبلوي

**۲۹** ۱ فلسطينيانو خپل ټول ځواکونه په افيق کې راټول کړل او اسراييليانو په يزرعيل کې د چينې سره
خپلې خېمې ودرولې. ۲ د فلسطين پاچاهانو د خپلو سل کسيزو او زر کسيزو ټوليو سره حرکت وکړ.
داود او د هغه کس د آخيش پاچا سره په هغوی پسې روان شول. ۳ د فلسطينيانو قوماندانانو دوی
وليدل او پوښتنه يې وکړه: «دا عبرانيان دلته څه کوي؟»

آخيش ځواب ورکړ: «دا داود دی، چې د اسراييلو د پاچا شاوول عسکري منصبدار دی. هغه زما سره د يو
کال نه زياته موده اوسيږي. هغه سموييل پرېښی دی او زيات وخت وشو چې زما د لښکر سره يوځای شوی
دی، نو ما په هغه کې هېڅ غلطي نه ده موندلې.»

۴ خو د فلسطينيانو قوماندانان په آخيش باندې په قهر شول او هغه ته يې وويل: «دا سړی بېرته هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار ته ولېږه چې هغه ته دې ورکړی دی. هغه مه پرېږده چې زمونږ سره جنګ ته لاړ شي، کېدای شي چې د جنګ په وخت کې هغه زمونږ په ضد شي. ځکه هغه ته ښه موقعه ده چې زمونږ د نفرو د سرونو پرې کولو په وسیله د خپل بادار مهرباني حاصله کړي. ۵ دا هماغه داود دی د چا په هکله به چې خلکو د ګډېدلو په وخت کې دا سندرې ویلې: شاوول زرګونه وژلي دي، خو داود د یو په لس د هغه نه زیات وژلي دي.»

۶ نو آخیش داود راوغوښت او ورته ویې ویل: «زه د اسراییلو د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم چې ته ماته وفادار یې او زه په دې خوښ یم چې زما سره لاړ شې او وجنګېږې. د هغې ورځې څخه چې ته ماته را اوښتی یې په تا کې مې کومه غلطي پیدا نه کړه. خو نور پاچاهان تا نه خوښوي. ۷ اوس بېرته کور ته وګرځه او هېڅ داسې کار ونه کړې چې د سولې خلاف وي او فلسطیني پاچاهان درباندې خفه شي.»

۸ داود ځواب ورکړ: «ای ښاغلیه، زما څخه کومه غلطي شوې ده؟ لکه څنګه چې تاسو وایئ، له هغې ورځې څخه چې ما ستاسو خدمت شروع کړی دی په ما کې مو هېڅ غلطي ونه موندله. نو ولې زه نه شم کولای چې ستاسو سره لاړ شم او د خپل بادار پاچا د دښمنانو سره وجنګېږم؟»

۹ آخیش ځواب ورکړ: «زه یې منم، زما په نظر کې ته لکه د خدای د فرښتې په شان وفادار یې، خو قوماندانانو وویل چې ته نه شې کولای چې زمونږ سره جنګ ته لاړ شې. ۱۰ نو ای داوده! تاسو ټول چې شاوول پرېښود او ماته راواوښتئ، سبا سهار مجبور یئ چې وختي پاڅېږئ او څنګه چې رڼایي شي نو لاړ شئ.»

۱۱ نو داود او د هغه سړي سهار وختي پاڅېدل چې بېرته د فلسطین خاورې ته لاړ شي. فلسطینیان یزرعیل ته روان شول.

## د عمالیقیانو په خلاف جګړه

**۳۰** ۱ داود او د هغه کس په دریمه ورځ صقلغ ته ورسېدل. هغه وخت چې هغوی هلته نه وو، عمالیقیانو د یهودا په جنوب او صقلغ باندې حمله کړې وه. صقلغ یې سوځولی ؤ ۲ او ښځې او کوچنیان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د اسيرانو په توګه د ځان سره بيولي وو، خو څوک يې وژلي نه وو. ۳ کله چې داود او د هغه کس
صقلغ ته راورسېدل دوی پوه شول چې ښار سوځېدلی دی او د هغوی ښځې، زامن او لورګانې اسيران شوي
دي. ۴ نو داود او د هغه نفرو په لوړ اواز سره تر هغې پورې وژړل چې په هغوی کې نور د دې توان پاتې
نه شو چې وژاړي. ۵ حتی د داود دوه ښځې، يزرعيلي اخينوعم او د کرملي نابال کونډه ابيجايل هم
اسيرې شوې وې.

۶ داود ډېر زيات پرېشانه شو، ځکه چې د هغه نفرو د هغه د سنګسارولو خبرې کولې. هغوی د خپلو
ماشومانو د لاسه ورکولو له امله ډېر په قهر وو. خو داود د خپل څښتن خدای څخه د زړه قوت لاسته راوړ.
۷ بيا داود د اخيملک زوی ابياتار کاهن ته وويل: «سپېڅلی پېشبند ماته راوړه» او ابياتار دا کار وکړ.
۸ داود د څښتن څخه پوښتنه وکړه: «ايا زه د هغو يرغلګرو پسې ورشم؟ او هغوی ته به ورسېږم؟»

څښتن ځواب ورکړ: «ورپسې ورشه! ته به په يقين سره هغوی ته ورسېږې او اسيران به ازاد کړې.»

۹ نو داود او د هغه شپږ سوه نفره روان شول. کله چې هغوی د بسور خوړ ته ورسېدل، نو د دوی څخه
ځينې هلته پاتې شول. ۱۰ داود د څلور سوه نفرو سره تعقيبولو ته دوام ورکړ. نور دوه سوه نفره دومره
ستړي شوي وو چې ويې نه شو کولای د هغه خوړ څخه تېر شي، نو دوی شاته پاتې شول.

۱۱ د داود نفرو يو مصري سړی په صحرا کې پيدا کړ او هغه يې داود ته راوست. هغه ته يې يو څه خواړه
او اوبه ورکړل، ۱۲ همدارنګه يې د انځرو د کلچې څخه يوه ټوټه او د مميزو دوه کلچې ورکړې. وروسته له
دې چې هغه يې وخوړلې هغه بېرته قوي شو، ځکه چې هغه درې ورځې او درې شپې نه څه خوړلي وو او نه
څه څښلي وو. ۱۳ داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ستا بادار څوک دی او د کوم ځای يې؟»

هغه ځوان ځواب ورکړ: «زه مصری يم او د يوه عماليقي غلام يم. درې ورځې کېږي چې ناروغ شوی يم، په
دې خاطر خپل بادار پرېښودم. ۱۴ مونږ د کريتيانو په علاقه، د يهودا په جنوبي برخه او د کاليب په
سيمه باندې حمله وکړه او همدارنګه مونږ د صقلغ ښار وسوځاوه.»

۱۵ داود د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ايا ته به ما د هغو يرغلګرو پورې ورسوې؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځواب ورکړ: «ماته د خدای په نوم باندې قسم وخوره چې ته به مې نه وژنې او نه به مې خپل بادار ته
په لاس کې ورکوې، نو زه به تا هغوی ته ورسوم.» ۱۶ نو دغه مصري داود هغوی ته ورساوه. يرغلګران په
هرځای کې خپاره شوي وو او د هغه ډېر لوی غنيمت له امله چې د فلسطين او يهودا څخه يې نيولی ؤ،
خوړل يې او څښل يې او جشن يې نيولی ؤ. ۱۷ په راتلونکې ورځ د لمرخاته څخه مخکې داود په هغوی
باندې حمله وکړه او تر ماښامه پورې يې جنګ وکړ. بې له هغو څلور سوه ځوانانو چې په اوښانو باندې سپاره
شول او وتښتېدل بل هېڅ يو ورڅخه په تېښته بريالی نه شو. ۱۸ داود ټول شيان چې عماليقيانو وړې وو،
وژغورل چې په هغو کې د هغه دوه ښځې هم شاملې وې. ۱۹ هېڅوک نه ؤ ورک شوی، نه ځوان او نه زوړ،
نه زامن او نه لورګانې او نه هغه شيان چې عماليقيانو د خپلو ځانونو دپاره د غنيمت په توګه نيولي وو. داود
هرڅه بېرته تر لاسه کړل. ۲۰ همدارنګه داود د عماليقيانو ټولې رمې او پادې واخيستلې او د هغه نفرو دا
د نورو څارويو په مخکې بيول او ويل يې: «دا د داود غنيمت دی!»

۲۱ نو بيا داود هغو دوه سوه نفرو ته ورغی چې له ډېرې ستومانۍ څخه يې نه شو کولای چې په هغه پسې
لاړ شي او د بسور په خوړ کې د هغه څخه شاته پاتې شوي وو. هغوی د داود او د هغو خلکو هرکلي ته ووتل
چې د هغه سره وو. څنګه چې داود او د هغه کس ورنږدې شول هغه د هغوی سره روغبړ او د احوال پوښتنه
وکړه. ۲۲ خو ځينو بدو او بېکاره سړيو چې د داود سره تللي وو وويل: «دوی زمونږ سره لاړ نه شول، نو
مونږ به د غنيمت څخه دوی ته هېڅ ورنه کړو. دوی کولای شي چې خپلې ښځې او ماشومان واخلي او لاړ
شي.»

۲۳ خو داود ځواب ورکړ: «ای زما ورونو! د هغه شيانو سره چې څښتن مونږ ته راکړي دي داسې کار نه
شئ کولای! څښتن مونږ سلامت وساتلو او په يرغلګرو باندې يې مونږ ته بری راکړ. ۲۴ څوک په دې هکله
ستاسو سره موافق نه دي. د هغه سړي برخه به چې د سامانونو سره پاتې کيږي د هغه چا د برخې سره
برابره وي چې جنګ ته ځي. د ټولو برخې به يو برابر وي.» ۲۵ داود دا يو قانون وټاکه او د هغه وخت نه
تر نن ورځې پورې په اسراييلو کې د هغه څخه پيروي کيږي.

۲۶ کله چې داود صقلغ ته ستون شو، هغه د غنيمت يوه برخه خپلو ملګرو ته چې د يهودا سپين ږيري وو
د دې پيغام سره ولېږله: «دا د هغه غنيمت يوه برخه ده چې مونږ د څښتن د دښمنانو څخه نيولی ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو دپاره سوغات دی.» ۲۷ هغه دا سوغاتونه هغو خلکو ته چې په بیت ییل، د یهودا د جنوب په
راموت کې او هغو خلکو ته چې د یتیر، ۲۸ عروعیر، سفموت، اشتموع، ۲۹ او د راکال په ښارونو کې وو
او هغو ښارونو ته چې د یرحمییلیانو او د قینیانو خپلونه په کې اوسېدل، ولېږل. ۳۰ همدارنګه یې هغو
خلکو ته چې د حرما، بورعاشان او عتاق په ښارونو کې وو ۳۱ او د حبرون خلکو ته یې هم ولېږل. په دې
توګه داود دا سوغاتونه ټولو هغو ځایونو ته ولېږل چې هغه او د هغه سړي په کې ګرځېدلي وو.

## د شاوول او د هغه د زامنو مړینه

(لومړی تواریخ ۱۰: ۱ - ۱۲)

۳۱ ۱ فلسطینیانو د جلبوع په غره کې د اسراییلو سره جنګ وکړ. په هغه ځای کې ډېر اسراییلیان
ووژل شول او پاتې یې چې په هغو کې شاوول پاچا او د هغه زامن هم شامل وو وتښتېدل. ۲ خو
فلسطینیانو هغوی ډېر سخت تعقیب کړل او د شاوول درې زامن، یوناتان، ابیناداب او ملکیشوع یې ووژل.
۳ په شاوول باندې جګړه ډېره سخته شوه او کله چې غشي ویشتونکي هغه ته ورسېدل، نو هغه یې ډېر
سخت ټپي کړ. ۴ شاوول خپل عسکر ته چې د هغه وسله یې انتقالوله وویل: «خپله توره راوباسه او ما
ووژنه، ترڅو دا کافر فلسطینیان راباندې نه ملنډې ووهي، نه مې په عذاب کړي او نه مې ووژني.» خو هغه
ځوان د دې کار څخه ډېر ووېرېد. نو شاوول خپله توره راواخیستله او ځان یېورباندې وغورځاوه. ۵ کله
چې هغه ځوان ولیدل چې شاوول مړ شوی دی، نو هغه هم په خپلې تورې باندې ځان وغورځاوه او د شاوول
سره یوځای مړ شو. ۶ نو په دې ډول شاوول، د هغه درې زامن، هغه ځوان عسکر او د هغه ټول جنګيالي
په هغه ورځ یوځای سره مړه شول. ۷ کله چې د یزرعیل د درې د بلې خوا او د اردن د سیند د ختیځې
خوا اسراییلیانو واورېدل چې د اسراییلو لښکر تښتېدلی دی او دا چې شاوول او د هغه زامن وژل شوي دي،
دوی خپل ښارونه پرېښودل او وتښتېدل. نو فلسطینیان راغلل او په دغو ښارونو کې ځای په ځای شول.

۸ د جګړې نه یوه ورځ وروسته فلسطینیان د مړو د لوټلو دپاره ورغلل، نو هغوی د شاوول او د هغه د
درې زامنو مړي وموندل چې د جلبوع په غره کې پراته وو. ۹ دوی د شاوول سر پرې کړ، د هغه څخه
یې زغرې وویستلې او د فلسطین ټول هیواد ته یې استازي ولېږل چې دا زېری د خپلو بتانو او خپلو خلکو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منځ کې خپور کړي. ۱۰ دوی د شاوول وسلې د عشتاروت په بتخانه کې کېښودلې او د هغه مړی يې د
بيت شان په دېوال باندې مېخ کړ.

۱۱ کله چې په جلعاد کې د يابيش د ښار خلکو د هغه څه په اړه چې فلسطينيانو په شاوول باندې کړي
وو، واورېدل، ۱۲ د هغوی تر ټولو زړور سړي ووتل او ټوله شپه يې بيت شان ته سفر وکړ. هغوی د شاوول
او د هغه د زامنو مړي د دېوال څخه راښکته کړل، يابيش ته يې راوړل او هلته يې وسوځول. ۱۳ بيا هغوی
د دوی هډوکي راواخيستل، هغه يې په ښار کې د غز د ونې لاندې ښخ کړل او د اوو ورځو دپاره يې روژه
ونيوله.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.